

نبی علیه السلام مدینے ته تشریف راوړلو سره څنګه د یو ریاست بنیاد کیخودو
او څه رنګ ئے د هغے نظام او چلولو؟ دے باره کښې یو معلوماتی او تعارفی کتاب .

# د ریاست مدینه
# قیام و نظام

پښتو




مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درّانی
صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز

# د ریاست مدینه
# قیام و نظام

ابومعاویہ مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

اشاعت اکیڈمی عبدالغنی پلازہ، محلّہ جنگی پشاور
091-2590315

# فهرست مضامین

د سیرت پیژندګلو ....................................... 5
د کتبِ سیرت مختلف مناهج ............................. 7
تاریخي ،واقعاتی ، یا لوک سیرت :............................ 7
د سیرت تعلیمات : ............................................ 7
روحانیتِ سیرت : .............................................. 8
ادبیاتِ سیرت : ................................................ 8
نفسیاتِ سیرت :................................................ 8
جغرافیاتِ سیرت :.............................................. 8
کلا میاتِ سیرت : ............................................. 9
فقهیاتِ سیرت : ................................................ 9
اجتماعیات یا سیاسیات سیرت :.............................. 10
"سیرت النبی ﷺ "هم جامع او مستندسیرت..................... 14
د ریاستِ مدینه د قیام پسِ منظر............................ 22
نبی کریم ﷺ په حیثیت د حکمران:.......................... 22
دمکې شهری ریاست: ........................................ 27
بیعت عقبه او د مدینې د ریاست بنیاد: ..................... 32
د ریاست مدینې د قیام طریقه کا ر............................ 36
د مدینې منورې محلِ وقوع: ................................. 37
د ریاست د قیام دپاره ابتدائی درې کارونه :.................. 43
مسجد نبوی او د هغې نظام.................................. 46
تعمیر د مسجد قباء:........................................... 46

د مسجد نبوی تعمیر : ........................ 47
صحابه کرام رض او د مساجدو تعمیر : ........................ 49
د مسجد نبوی نظام او په معاشر کښې ئې کردار: ........................ 53
د مسجد سره د مسلمانانو تعلق : ........................ 58
د نبوی دور د رورولۍ نظام........................ 61
په مکه کښې د رورولۍ قیام :........................ 62
په مدینه کښې د مؤاخات قیام او دهغې وجوهات : ........................ 63
مواخات او د انصارو ایثار (قربانی): ........................ 64
د ریاست مدینه دستور (میثاقِ مدینه)........................ 70
د میثاق او دستورِ مدینه دفعات: ........................ 73
د ریاستِ مدینه نظم و نسق........................ 84
د نقبا تقرری: ........................ 85
مردم شماری: ........................ 86
امن و امان:........................ 87
ټاؤن پلاننگ :........................ 88
تعمیرات:........................ 89
سیکټریټ :........................ 91
وزارت:........................ 91
د ریاستِ مدینه تعلیمی نظام ........................ 93
د اسلام په نظر کښې دتعلیم اهمیت :........................ 93
تعلیم په ذریعه د خط و کتابت:........................ 94
درس ګاهونه اود تعلیم نګرانی : ........................ 96

نصاب تعلیم: ........................................................ 99
وثیقه نویسی او زبان دانی: ........................................ 105
د ریاست مدینه شعبه امور خارجه........................................ 107
د امور خارجه د شعبې قیام او مقاصد :................................ 107
شعبه د تالیف قلب: ................................................ 109
د سفیرانو شعبه : .................................................. 109
د میلمستیاشعبه :.................................................... 111
د ریاست مدینه د عدلیه و قضا ء شعبه.................................. 115
شعبه د احتساب یا دیوان مظالم: ...................................... 120
د ریاست مدینه دفاعی نظام.............................................. 121
د دفاع دپاره د جدید اسلحې حصول: .................................. 123
شعبه سراغ رسانی یا انټیلی جنس:........................................ 124
دیوان: ................................................................ 125
رضاکارانه فورس: .................................................... 126
فوجی ټریننګ او تیاری: ................................................ 127
دامن نه ډک فتوحات او فوجی کاروائیانې: ................................ 127
د ریاستِ مدینه معاشی نظام................................................ 128
د اسلام د معاملاتو په باره کښې اصول :................................ 130
د مدینې د معاش ذریعې : ................................................ 131
په مدینه کښې د اسلامی معیشت قیام: .................................. 134
په ریاست مدینه کښې اقلیت .............................................. 145

بسم الله الرحمن الرحیم

# د سیرت پیژندګلو

د سیرت لغوی معنی طریقه کار،د تللو رفتار او انداز دې. په دې لحاظ سره په عربئ ژبه کښ د سیرت معنی د چا د ژوند طرز (Life style)یا د ژوند تیرولو طریقه ده. نن په دنیاکښ د ټولو مسلمانانو په ژبو او د غیرمسلمو په ژبو باندې هم دسیرت لفظ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د ژوند مبارک دپاره استعمالیږی.

شاه عبدالعزیز دهلوی رحمه الله په خپل کتاب ”عجاله نافعه“ کښ د سیرت تعریف کولو سره لیکی چه :

*”آنچه به وجود پیغمبر و صحابه کرام وآل عظام است و از ابتدائے تولد آں جناب تا غایت وفات،آں راسیرت گویند“۔*

یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدن مبارک سره چه څه هم متعلق دی، د نبی صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو، اهل بیت او آلِ عظام سره چه کوم څیز تعلق لری د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدائش مبارک نه واخله د نبی صلی الله علیه وسلم دنیانه تشریف اوړلو پورې،ددې ټولو تفصیل ته د اسلامی علوم وفنون په اصطلاح کښ سیرت وائی.

ټول د مذهبونو بانیان او مؤسسین د ادیانو کوم ادیان چه دې وخت کښ په دنیا کښ رائج دی، په هغوی کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ذات خو واحد تاریخی شخصیت دې، چه پوره او په هر اړخ د تاریخ په سرچ لائټ کښ د دنیا د انسانیت په مخکښ دې، چه دهغې هره حصه د نیم ورځ د نمر په شان روښانه ده.

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د لوې نه لوې مخالف هم د نبي صلى الله عليه وسلم د تاريخي حيثيت او حقيقي شخصيت په باره کښې لږ شان هم د شک اظهار نه شي کولې. د نبي كريم صلى الله عليه وسلم دنياته د تشريف راوړلو نه مخکښې د مذهبونو د ډيرو بانيانو د وجود په باره کښې بخپله د هغې منونکي او عقيدت مند خلقو کښې هم ډير شکوک وشبهات موندلې شي. د تورات،انجيل او زبور په نوم سره چه کومې مجموعې نن زمونږه مخې ته دي. هغه د هغه د پاکو هستو د حيات طيبه، سوانح او خدماتو په باره کښې يا خو تقريبًا خاموش دي يا ډير سرسري او متضاد معلوماتو باندې مشتمل دي.هغه معلومات چه ددې کتابونو نه دهغه عظيم الشان انبياؤ او معلمين انسانيت په باره کښې ملاويږي، او انتهائي اجمالي او سطحي دي. دغه شان دهغې په مقابله کښې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم مبارک ژوند باندې نن پورې مسلسل نه صرف غوروفكر کولې شي او ليکلې شي،بلکه د تصنيف او تاليف په حوالې سره هغه عنوان دې چه په هغې باندې نن پورې دټولو نه زيات ليکل شوې دي. د سيرت په نوم باندې نن پوره کتب خانې قائم دي.د سيرت په نوم باندې ادارې او مسندونه قائم دي چرته چه دسيرت په مختلف موضوعاتو باندې دتحقيق او مطالعې فريضه سر ته رسولې شي.

سيرت يو مستقل فن او علم جوړشوې دې. يقينًا سيرت يو غيرمحدود چپې وهونکې سمندر دې. بيا د سيرت علم صرف د يو شخصيت سوانح عمرى نه ده، بلکه دا يو تهذيب،او يو تمدن، يوقوم، يو ملت، او د يو الهى پيغام شروع او د ارتقاء يو انتهائى اهم او مفيد داستان دې.

یو مغربي مستشرق په دې الفاظو کښې اعتراف کوی چه: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سیرت نګارو سلسله لامتناهی ده، خو په دې کښې ځاې موندل قابل دعزت او باعث د شرافت دې، الله تعالی دې دا عزت او شرافت مونږ ته هم راکړی.

بهرحال سیرت یو لا محدود،کامل،جامع او مختلف قسم موضوعاتو باندې مشتمل علم دې، چه دهغې نور شاخونه اقسام دی په کوم چه د اسلام علماؤ او سکالرانو ځانله ځانله شاخونه او د سیرت ځانله ځانله قسم باندې مختلف کتابونه لکلې دی. په هغه اقسامو او شاخونو کښې څو اهم دادی.

## د کتبِ سیرت مختلف مناهج

**تاریخی ،واقعاتی ، یا لوک سیرت**:

ددې نه مراد د سیرت هغه قسم او شاخ دې، په کوم کښې چه په عوامی انداز کښې په واقعاتی طور باندې د ابتداء نه آخره پورې د نبی صلی الله علیه وسلم سوانح عمری بیانول دی، په کوم باندې چه اهلِ علمو د مخکنې زمانې واړه لوې کتابونه لیکلې راروان دی. د هغې مقصد د مسلمانانو د سیرت د بنیادی حقائقو نه خبردارول دی. د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عظمت ، فضیلت او بزرګی دخلقو په مخکښې ښکاره کول او دهغې په ذریعه سره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره خپله ایمانی او دمحبت رشته مضبوطول دی.

**د سیرت تعلیمات**:

ددې سیرت نه مراد هغه معلومات یا هغه شعبې دی چه دعلم دنشرواشاعت تعلیم وتعلم سره متعلق دی. په دې سیرت کښې دا

خودلې شی چه نبی صلی اللّٰه علیه وسلم معلم کائنات او معلمِ انسانیت په حیثیت سره دې فریضې لره څرنګه سرته اورسوله. د نبی صلی اللّٰه علیه وسلم کیفیت تعلیم،طریقه او طرز دتعلیم څه وو وغیره.

**روحانیت سیرت:**

ددې نه مرادپه بنیادی طور باندې تزکیه او د نفسونو د اصلاح متعلق د نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم ورکړې شوې هدایات دی. نبی صلی اللّٰه علیه وسلم د تزکیه نفس او روحانی پاکیزګۍ دپاره څه اقدامات اختیارکړل.

**ادبیات سیرت:**

په دې د نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم خطباتو او مکاتیبو ادبی اعتبارسره جائزه اخستلې شی. دارنګه د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم د ارشاداتو د عربۍ ژبې ا سالیب،ساخت، طریقه د ادا او طرزبیان باندې څه اثر پریوځی او عربۍ ژبې ته ئې څه څه نوې اسالیب ورکړل، عربۍ ته ئې څه رونق ورکړو.

**نفسیات سیرت:**

په دې سیرت کښې د نبی صلی اللّٰه علیه وسلم د احکاماتو په شا حکمتونو لره راوچتولې شی چه د مخاطب ذهنی سطحې، لره نفسیاتو، خیالاتو او تصوراتو لره ئې د نظر لاندې ساتلو سره څنګه ارشادت فرمائیلې وو.

**جغرافیات سیرت:**

ددې نه مقصود دا خبره ده چه په جعرافیائی ماحول کښې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم تشریف فرما وو، او چرته چه دا ټول کار کیده

دهغه علاقې جغرافیائی حیثیت څه وو. هغه وخت کوم کوم ښار آباد وو او چرته چرته په څومره فاصلې باندې واقع وو.

**کلامیاتِ سیرت:**

د سِیرت د دې قسم نه مراد هغه موضوعات دی چه دعلم کلام او عقائدو سره متعلق دی، چه اصلاً سیرت سره تعلق لری. لکه د نبوت او رسالت حقیقت او ضروت، د وحی حقیقیت او ضرورت، ختم نبوت،معجزات،معراج وغیره عنواناتو باندې کلامی بحث کول.

**فقهیاتِ سیرت:**

دَ دې نه مراد د سیرت په رنړا کښې احکامو دشریعت لره پیژندل دی په ظاهره چه فقه او سیرت دواړه ځانله ځانله څیزونه ګنړلې شی، ځکه چه د فقهې دائره کار قانون او د شریعت اصول دی او دسیرت دائره کار عمومًا تاریخ او د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم سوانح عمری ده، خو په حقیقت کښې په دې دواړو کښې ډیر ژور تعلق موندلې شی. د فقهې نه چونکه مراد عمیق (ژور) فهم دې. په دې وجه ترڅو پورې چه دقرآن کریم،سنت مبارکه او د سیرت طیبه ذوق او ژوره پوهه نه وی نو هغه وخته پورې دشریعت په قوانینو او احکامو باندې عمل کول آسان نه دی. په دې وجه په فقه او سیرت کښې انتهائی او نزدې ربط موندلې شی.

د شریعت د ډیرو احکامو تفسیر،د سیرت نه بغیر په پوهه کښې نه راځی.په دې اعتبارسره هم د سیرت دعملی تطبیق نوم فقه ده. نن د شلمې صدئ د ابتداء نه د فقه السیرة په نوم سره د سیرت یو نوې انداز متعارف شو.

ددې فقه السيرة نه مقصد صرف د سيرت واقعات بيانول،صرف دسيرت تاريخی تفصيلاتو سره اعتنا کول نه دی، بلکه د دې حقيقی مقصد دادې چه د سيرت په دې تاريخی واقعاتو او تفصيلاتو کښ کوم سبق پټ دې هغې لره ښکاره کړې شی،چه کوم بصيرتونه او حکمتونه د سيرتِ پاک په واقعاتو کښ پټ دی، هغه مخې ته راوړلې شی ددغه شان کاوش نوم فقه السيرة يا فقهياتِ سيرت دې.

**اجتماعيات يا سياسيات سيرت:**

ددې نه مراد چه دسيرت نبوی صلی اللّٰه عليه وسلم مطالعه د اجتماعيت په نقطه نظر سره اوکړې شی چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم چه کله مدينې منورې ته تشريف يوړلو نو د نبی صلی اللّٰه عليه وسلم د ډيرو اقدماتو او فيصلو اجتماعی پسِ منظر څه وو، په مدينه منوره کښ اجتماعيت څنګه وو،کوم کوم خاندان او قبيلې آبادې وې. په هغوی کښ دتعلقاتو نوعيت څه وو د مدينې ژوند او معاشرت څه وو،د مکې شهری رياست څه وو او بيا په مدينه کښ رياست څنګه او په کومو کومو اقداماتو سره په وجود کښ راغلو.بياپه دې رياست کښ حکومت دکوم نوعيت وو،څه قسمه نظام او کومې شعبې قائم وې وغيره نوپه دې اجتماعی او سياسی اړخ باندې د سيرت نبوی مطالعې ته اجتماعياتِ سيرت يا سياسياتِ سيرت وائی.

د بنده دا زير نظر رساله هم د سيرت د موخرالذکر قسم سره متعلق ده.په سيرت باندې د ليکلو يو مقصد خو دادې چه د نبی کريم صلی اللّٰه عليه وسلم په سيرت باندې د ليکونکو د سعادت مندو خلقو په صف کښ د شريک کيدو شرافت حاصل شی.

په قول د مشهور مستشرق الیس سپرنګر:

"د هرمسلمان صاحب علم وقلم سخت خواهش وی چه د نبی کریم صلی اللّٰه علیه د سیرت نګارو کښ په اورډ فهرست کښ خپل نوم شامل کړی اګرچه په آخر کښ ولې نه وی".

او دویم مقصود دادې چه په عام طور باندې چه داسلام او پیغمبرِاسلام (ﷺ) په باره کښ چه کومې غلط فهمۍ دی یا غلط پروپیګنډه کولې شی چه اسلام صرف د مسجد،او یو څو عباداتو، ریاضتونو او څو ذکرواذکارو پورې محدود دین دې. او پیغمبراسلام صرف د عباداتو او مسجد وخانقاه پورې محدود دین راوړې دې. د سیکولر مائینډ خلقو د خیال مطابق د اسلام د سیاست مملکت او نظام مملکت، تهذیب وتمدن، معیشت او تعلیم سره څه تعلق دې،هرکله چه حقیقت دهغوی د خیال او غلط فهمۍ خلاف دې چه اسلام یو عالمګیر، جامع او د ژوند په ټولو شعبو کښ رهنمائی کوؤنکې کامل دین او دستور د ژوند دې.دکوم د دعوت او اقامت دپاره چه اللّٰه تعالی نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم لره راولیږلو. د بعثت یعنی رالیږلو نه پس هغوی دې کامل دین د اسلام لره دخلقو په مخکښ په پوره طریقې سره پیش کړو،بلکه دې لره د نافذ کولو سره ئې خپله فرضِ منصبی پوره کړه. بیاهم ددمقصد پیش نظر چه نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم یو جامع شخصیت او د نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم د کامل مقصدیت نه واقف کیدو سره دمسلمانانو غلط فهمی،د دین غلط تصور ختم

کیدو سره د حقیقت حال نه باخبره شی،په دې اړخ باندې مونږ خپل ګزارشاتو لره قرطاس ته دحواله کولو کوشش کړې دې، ځکه چه ددین حقیقت او دسیرت نبوی صلی الله علیه وسلم نه باخبره کیدو سره په هغه باندې عمل کول هم دنیک بختۍ او خلاصی ذریعه ده.

امام ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کښې لیکی چه :

" دسیرت علم حاصلول د هر مسلمان دپاره فرض دی. په دې وجه د دواړو جهانو نیک بختی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په راوړلې شوې رهنمایۍ او هدایت باندې مبنی ده. لهذا هر سړې چه دخپل ځان دپاره د سعادت طالب دې، خپل خیرخواه دې او خپل نجات غواړی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راوړلې شوې هدایت، او د نبی صلی الله علیه وسلم د سیرت او د هغوی د معاملاتو نه د خبر حاصلولو پابند او مکلّف دې".

بهرحال زیر نظر رساله په اصل کښې د صبح اخبار په هفته وار ایډیشن کښې د ریاست مدینه په نوم باندې زما د څو شائع شوې کالمو مجموعه ده.چه په کښې څه ضروری اضافې هم کړې شوې دی.ددې رسالې او دمضامینو په تیارۍ کښې بنده د سیرت ابن هشام،الوفاالوفاء للمسعودرحمه الله، محاضرات سیرت ډاکټر محمود احمدغازی رحمه الله، ډاکټر محمد حمیدالله صاحب دکتابونو،په عهدنبوی کښې دحکمرانۍ نظام،د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیاسی ژوند،د عهدنبوی صلی الله علیه وسلم میدان جنګ،خطبات بهاولپور،د اکرام ضیاء العمری

كتاب په عهدنبوى صلى الله عليه وسلم كښې مدنى معاشره چه د عذرا نسيم فاروقى اردو ترجمه او سيرت خيرالانام دائره معارف الاسلاميه جامعه پنجاب نه استفاده كړې شوې ده.

په آخر كښې د الله تعالى نه دعا ده چه مونږ ته ددين دحقيقى علم وفهم او د سيرت نبوى صلى الله عليه وسلم د مطالعې او صحيح پوهې سره په هغې باندې دعمل كولو توفيق راكړى.

اٰمِين يَارَبَّ الْعَالَمِين۔

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ

ابو معاويه محمد اياز درانى پشاورى
جامعه تبليغ القرآن يوسف آبادپيښور ښار
مارچ۲۰۱۳ء بمطابق
جمادى الاولىٰ ۱۴۳۴ھ

## "سیرت النبی ﷺ" هم جامع او مستندسیرت

هسې خو د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د سیرت طیبه په موضوع باندې مختلف وختونو او ورځو کښې په پوره کال کانفرسونه، سیمینارې او جلسې منعقد کیږي،خو د ربیع الاول د میاشتې په راتلو سره د هغې په تعداد کښې غیرمعمولي اضافه کیږي.اګرچه یو مسلمان دپاره د کال دولس میاشتې، دمیاشتې دیرش ورځې، د ورځې څلیریشت ګهنټې د ګهنټې شپته منټه او هر ساعت ربیع الاول دې. په دې میلادالنبی صلی الله علیه وسلم یعنی دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په پیدائش او دنیاته تشریف راوړلو باندې د خوشحالۍ اظهار او ددې نعمت شکریه ادا کول ضروري دې خو ددې اظهارتشکر سره سره اهمه خبره دپیغامِ میلاد لره هر وخت او هرساعت یادساتل فرض دی او د یو منټ دپاره د میلاد پیغام لره د نظرونو نه نه دی اخوا کول پکار همدا د کامیابۍ راز دې.

غرض داچه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ذات سره دیو مسلمان عقیدت او محبت او دهغه د ایمان حصه او دهغه د فطرت لازمی جزء ده. د یو مسلمان او مومن دپاره دخپل ځان نه دومره خبریدل ضروري نه دی، څومره چه دمحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د ذات او حیثیت پیژندل ضروري دی. کوم سړې چه محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم لره نه پیژنی هغه خپل ایمان او اسلام لره څنګه پیژندې شی. مومن په وجودِ ایمانی کښې سراسر د وجودِ پیغمبر محتاج دې. العیاذبالله که د وجود پیغمبرنه نظر واړولې شی،نو د یوې لمحې دپاره هم د مومن وجود ایمانی باقی نه شی پاتې کیدې.په دې وجه دارشاد دې:

اَلنَّبِیُّ اَوۡلٰی بِالۡمُؤۡمِنِیۡنَ مِنۡ اَنۡفُسِہِمۡ۔[احزاب]

" نبی، دمومنانو په حق کښ د هغوی دځان نه هم زيات نزدې دې".

په قول د محدثِ اعظم مولانامحمدادريس کاندهلوی رحمه الله :

" د مومن وجودِ ايمانی د نبوت دنمر يو معمولی غوندې عکس او پلوشه ده نو ښکاره خبره ده چه پلوشې ته چه کوم قرب او تعلق دخپل اصل منبع يعنی نمر سره کيدې شی هغه د آئينې سره نه شی کيدې. د مومن ايمان ته چه کوم تقويت رسيږی هغه دنبی په واسطې سره رسيږی. معلومه شوه چه ايمان نبی ته نزدې دې او د مومن نه لرې دې په دې وجه نبی د ايمان سره متصف بالذات دې او مومن د ايمان سره متصف بالعرض دې. لهذا ضروری ده چه مومن دخپل ايمان پيژندلو نه مخکښ د نبی صلی الله عليه وسلم سيرت لره اوپيژنی دې دپاره چه په هغه لار باندې لاړ شی او نورو لره هم په هغې باندې دتللو دعوت ورکړی "۔ [سيرت المصطفیٰ]

په کوم سورت کښ چه د نبی سيرت بيان شوې دې، هغې سورت لره دهغه انبياؤ په نوم سره موسوم کړې شوې دې، لکه څنګه چه سورة يونس او سورة يوسف او سورة ابراهيم وغيره او سورة لقمان او سورة کهف د حضرت لقمان او اصحاب کهف په نوم سره موسوم شو.په دې سره معلومه شوه چه امتونو د خپلو انبياؤ د سيرت او تاريخ ليکلو اهتمام کړې دې خو هغه ټول ناتمام دی. دکومو قومونو چه دا حال وی چه هغوی سره خپل صحيفه او آسمانی کتاب محفوظ نه وی او تردې پورې معلوم نه وی چه په چا باندې نازل شوې وو،کله نازل شوې وو، او څنګه نازل شو او چالره چه خپل خپل مقتدا او پيشوا ګڼړی د هغوی

قبر قدرې ورته معلوم نه وی هغوی دخپل مقتدا مکمل سيرت او مکمل سوانح حيات چرته پيش کولې شی. د پوره ژوند حالات او واقعات خو لوې څيز دې هغوی دخپل پيغمبر يوه کلمه هم داسې نه شی پيش کولې چه دهغې سند د هغوی پيشوا پورې متصل او مسلسل وی. بحمدالله دا شرف صرف امت محمديه(علی صاحب الف صلٰوة والف الف تحية) ته حاصل دې چه هغوی دخپل پيغمبر هر قول وفعل لره په متصل او مسلسل سند سره پيش کوی. د نبوت د زمانې نه واخله دې وخته پورې هيڅ يوه لمحه او څه لحظه داسې نه ده تيره شوې چه په هغې کښې دا امت دخپل نبی صلی الله عليه وسلم نه منقطع (کټ) شوې وی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم په ټولو انبياؤ او ټولو مذهبی رهنماؤ کښې په دې لحاظ سره يواځې دې چه د نبی صلی الله عليه وسلم راوړلې شوې کتاب په شان د نبی صلی الله عليه وسلم سيرت هم محفوظ دې چه په هغې سره مونږ د خپل ژوند په هره شعبه کښې رهنمائی حاصلولې شو. د ماشوم والی نه واخلې تر آخری ساه پورې،څومره خلقو چه نبی صلی الله عليه وسلم لره ليدلې دې، او د هغوی د ژوند داحالاتو مشاهده ئې کړې ده. د نبی صلی الله عليه وسلم اقوال ئې اوريدلې دی، د نبی صلی الله عليه وسلم تقرير ئې اوريدلې دې،د نبی صلی الله عليه وسلم دڅه څيز حکم ورکول ئې اوريدلې دی، د څه څيز نه منع کول ئې ليدلې دی، د هغوی يو عظيم تعداد تقريبًا يو لاکهه پورې رسی، چاچه په خپل سترګو ليدلې او غوږونو اوريدلې واقعات روستو راتلونکی نسلونو ته منتقل کړل. رسول الله صلی الله عليه وسلم بعضې احکام په خپله ليکلو سره هم بعض ته ورکړې يا ليږلې وو چه

روستنو خلقو ته ملاؤ شو. په صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین کښې کم از کم شپږ اصحاب داسې وو چه هغوی د نبی صلی الله علیه وسلم احادیث لیکل او نبی صلی الله علیه وسلم ته به ئې اورول، دې دپاره چه په هغې کښې څه غلطی پاتې نه شی. دا لیکل هم روستو راتلونکو ته ملاؤ شو. د حضورصلی الله علیه وسلم د وفات نه پس کم نه کم پنځوس صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین د نبی صلی الله علیه وسلم حالات،واقعات او اقوال د لیکلو په صورت کښې جمع کړل او دا ذخیره د علم هم هغه خلقو ته اورسیده چاچه روستو د احادیثو د جمع کولو او مرتب کولو خدمت ادا کړو.

بیا کومو صحابه رضی الله عنهم اجمعین چه دسیرت معلومات زبانی روایت کړل دهغوی تعداد دبعض محقیقینو په نزد یو لاکهه پورې رسیږی او د حجة الوداع په موقع باندې خو یو لاکه څلویښت زره صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین موجود وو، دومره خلقو نبی کریم صلی الله علیه وسلم لره په حج کولو لیدلې وو.د نبی صلی الله علیه وسلم نه ئې دحج طریقه زده اوکړه. هغه تقریرونه ئې واوریدل چه ددې حج په موقع باندې نبی صلی الله علیه وسلم کړې وو. څنګه ممکن ده چه دومره خلقو کله چه په داسې اهم موقع باندې دنبی صلی الله علیه وسلم سره په حج کښې شریک کیدو نه پس خپلو خپلو علاقو ته واپس رسیدلې وی نو ولې هلته به دهغوی نه دهغوی رشته دارانو، دوستانو او د وطن خلقو د سفر حالات او دحج احکاماتو تپوسونه نه وی کړې.ددې نه اندازه اوکړئ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان عظیم شخصیت په دې دنیاکښې تیریدو نه پس خلق به څومره په

شوق سره دنبي صلى الله عليه وسلم د احوالو او اقوالو او احكامو هداياتو به دهغه خلقو نه تپوسونه کړې وى چاچه نبي صلى الله عليه وسلم لره ليدلي وو او دهغوى ارشادت مبارک ئې اوريدلي وو.

صحابه کرام رضى الله عنهم اجمعين نه چه کوم روايات روستو نسلونو ته رسيدلي وو، دهغې په باره کښې د اول نه دا طريقه اختيار کړې شوې وه چه کوم سړې به هم رسول الله صلى الله عليه وسلم طرف ته منسوب کولو سره څه خبره کوله،نو هغه ته به دا خبره کول وو چه هغه دا خبره دچا نه اوريدلې وه پس سلسله په سلسله چا دچانه هغه خبره اوريدله او مخکښې به ئې بيانوله.دغه شان رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې د روايت پوره ګړئ ليدلې کيدلې دې دپاره چه دا اطمينان اوکړې شى چه هغه په صحيح طور باندې دنبي کريم صلى الله عليه و سلم نه نقل شوې ده. که د روايت پوره ګړئ به نه ملاويده نو دهغې صحت به شک من کيده.که ګړئ به نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته رسيده، خو په مينځ کښې به ئې څه راوى ناقابل اعتماد وو نو داسې روايت به هم نه شو قبليدلې.

تاسو لږ غور اوکړئ نو تاسو ته به محسوسه شى چه د دنيا د بل انسان حالات دغه شان نه دې مرتب شوې. دا خصوصيت صرف نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته حاصل دې چه دنبي کريم صلى الله عليه وسلم په باره کښې هيڅ يوه خبره هم د سند نه بغير نه ده تسليم کړې شوې او سند هم صرف دا نه دې کتلې شوې چه ددې حديث سلسله د روايت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رسيدلي ده يا نه، بلکه دا هم ليدلې شوې دى چه ددې سلسلې ټول راويان د بهروسې قابل دى يا نه.

آيا په انساني تاريخ کښې څوک بل کس داسې موندلې شي دچاچه د ژوند حالات دومره قدرې په مستند طريقې سره نقل شوې دې؟ او آيا ددې څه مثال ملاويږي چه د يو کس د حالاتو د تحقيق دپاره د هغه زرګونو خلقو په حالاتو باندې کتابونه ليکلې شوې وي، چاچه ددې يو شخصيت متعلق څه روايت بيان کړې وي؟ په موجوده دور کښې عيسائي او يهودي علماء د احاديثو د مشتبه ثابت کولو دپاره چه په پوندو باندې څومره زور لګوي. دهغې اصل وجه دا حسد دې چه دهغوي د دين دکتابونو او دهغوي د ديني پيشوايانو حالات د سر نه څه سند نشته دې. ددې سوزيدو په وجه هغوي په اسلام او قرآن او محمدصلی الله عليه وسلم باندې د تنقيد په معامله کښې علمي ديانت لره هم بالائے طاق اوساتلو.

د سيرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم صرف همدا يو خصوصيت نه دې چه هغه مونږ ته په نهايت مستند ذرائعو سره رارسيدلې دې، بلکه دهغې دا هم امتيازي خصوصيت دې چه په هغې کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند د هر اړخ دومره تفصيلات ملاويږي چه دتاريخ د چا بل کس د ژوند په باره کښې نه ملاويږي. د نبي صلی الله عليه وسلم خاندان څنګه وو،په نبي صلی الله عليه وسلم باندې وحی څنګه نازل شوې وه، نبي صلی الله عليه وسلم د اسلام دعوت څنګه خور کړې وو، د مخالفتونو او مزاحمتونو مقابله ئې څنګه اوکړه، او دخپلو ملګرو تربيت ئې څنګه اوکړو،په خپل کور کښې به نبي کريم صلی الله عليه وسلم څنګه اوسيدو، د خپلو بيبيانو او بچو سره د نبي صلی الله عليه وسلم سلوک څنګه وو،د خپلو دوستانو او

دشمنانو سره د نبی صلی الله علیه وسلم معامله څنګه وه د کومو اخلاقو تعلیم به نبی صلی الله علیه وسلم ورکولو او د نبی صلی الله علیه وسلم خپل اخلاق څنګه وو، دڅه څیز حکم ئې ورکړې وو، دکوم کار نه نبی صلی الله علیه وسلم منع کړې وه،کوم کار لره نبی صلی الله علیه وسلم لیدلې وو او منع کړې ئې نه وو او کوم څیز لره ئې لیدلې وو او منع کړې ئې وو. دا ټول څه لږ لږ تفصیلاتو سره د حدیث او دسیرت په کتابو کښې موجود دی.

نبی صلی الله علیه وسلم یو فوجی جنرل هم وو او دنبی صلی الله علیه وسلم د حکومت ټول حالات مونږ ته ملاویږی. نبی صلی الله علیه وسلم یو جج هم وو او نبی صلی الله علیه وسلم ته د پیش کیدونکې مقدماتو پوره پوره رواداونه هم مونږ ته ملاویږی او داهم معلومیږی چه په کومه مقدمه کښې نبی صلی الله علیه وسلم څه فیصله فرمائیلې وه.نبی صلی الله علیه وسلم بازارونو ته هم به وتلو او کتل به ئې چه خلق د اخستلو خرڅولو معاملات څنګه کوی.کوم کار چه به ئې غلط کیدو سره لیدلو، د هغې نه به ئې منع فرمائیلو او کوم چه به ئې صحیح لیدلو دهغه به ئې توثیق فرمائیله. غرض داچه د ژوند یوه شعبه داسې نشته دکوم متعلق چه نبی صلی الله علیه وسلم تفصیلی هدایات نه وی ورکړې.

همدا وجه ده چه مونږ د بې ځایه تعصب نه بغیر،په پوره علم ویقین سره دا وایو چه په ټولو انبیاء علیهم السلام او پیشوایان د مذهبونو کښې صرف یو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هستی ده، د کوم طرف ته چه نوعِ انسانی د هدایت او رهنمایئ دپاره رجوع کوی، ځکه

چه دنبی صلی الله علیه وسلم پیش کړې شوې کتاب په خپل اصل الفاظو کښې محفوظ دي او د نبی صلی الله علیه وسلم سیرت د هغه ټولو تفصیلاتو سره چه د هدایت دپاره درکار دی په ډیر مستند او معتبر ذرائعو سره مونږ ته رارسیدلي دي او دهغې سره سره د نبی صلی الله علیه وسلم سیرت جامع او کامل هم دې څنګه چه د الله تعالی کلام داسې سمندر دې چه څه غاړه ئې نشته (ډیرلوې دې)، دغه شان د نبی صلی الله علیه وسلم د سیرت هم څه غاړه نشته.

مشهور مستشرق الیس سپرنګر (Alias Springer) چا چه "مغازی"لره تدوین کړو په پیش لفظ کښې ئې لیکلې دی چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سیرت پاک اعجاز دادې چه په دې باندې د ځوارلس سوؤ کالو نه خلق لیکل کوی خو بیاهم دهغې اختتام په نظر نه راځی او ددې نه علاوه د هرمسلمان خواهش دې چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک ذات سره د هغه څه نسبت پیدا شی او همدا وجه ده چه هر مسلمان صاحب علم وقلم سخت خواهش وی چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سیرت نګارئ په فهرست کښې خپل نوم شامل کړی اګرچه په آخر کښې ولې نه وی.

کله پورې چه دنیا قائم ده،په سیرت النبی صلی الله علیه وسلم باندې صاحبان دعلم او دانش خپل قلمونه معطر کوی خو د سیرت النبی صلی الله علیه وسلم احاطه په څه صورت کښې ممکن نه ده.

# د رياستِ مدينه د قيام پسِ منظر

## نبی کریم ﷺ په حیثیت د حکمران:

داحقيقت دې چه نبی ددنيا طالب نه وو، خو بياهم نبی كريم صلی الله عليه وسلم په دنياكښ يو رياست،حكومت او اقتدار لره ځنګه قائم كړو. دنياوی اقتدار نبی صلی الله عليه وسلم نه غوښتلو او ددې باوجود هم نبی صلی الله عليه وسلم يو حكومت قائموی او د يو حاكم اعلیٰ په حيثيت سره حكمرانی هم كوی.ممكن ده چه دا تاثر پيدا شی چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم عظيم الشان او منفرد كارنامې لره صرف د يو رياست قيام، صرف د دنياوی معاملاتو تكميل، صرف د انتظامی نظم ونسق بهتری او فراهمی په پوهه كښ راشی.

ځنګه چه د تاريخ هر طالب پوهيږی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو معاهدې په نتيجه كښ مدينه منوره ته تشريف يوړلوچرته چه هغوی يو رياست قائم كړو. دشريعت تفصيلی احكام ئې نافذكړل. معاشرتی،تمدنی، عائلی او نور اصلاحات ئې نافذكړل. دې ټولو څيزونو ته كتلو سره مغربی مستشرقينو كښ ډيرو ته په دې باندې په پوهيدلو كښ ناكامی اوشوه چه يو پيغمبر حكمرانی ځنګه كوی خاص طور باندې عيسائيان حضرات چه د پيغمبرئ دكوم تصور سره مانوس دی، هغه د حضرت يحيي عليه السلام زهد او استغناء ده او د حضرت عيسی عليه السلام ددنيا نه بيزاری او د ترك دنيا رجحان دې. دهغوی په تصوركښ رهبانيت او ددنيا دټولو معاملاتو نه لاتعلق كيدل د نبوت شان دې. په دې وجه په هغوی كښ د ډيرو په پوهه كښ دا خبره رانغله چه يو نبی او پيغمبر رياست ځنګه قائمولې شی. دارنګه دهغوی د معتدل نه معتدل ترين خلقو هم په دې باندې د ډير تعجب اظهار كړې دې.

منټګمرى واټ يو انګريز مستشرق دې چه انتهائى معتدل او منصف مزاج موندلې شى.هغه(Muhammad at Mecca) او (Muhammad at Madina)په نوم باندې دوه ډير مشهور كتابونه ليکلى دى. ددې دوارو كتابونو په بين السطور كښ په هرځاې كښ دا خبره ښكاره ده چه په مكه كښ دنبى صلى الله عليه وسلم شان د يو نبى وو، خو په مدينه كښ ئې په مزاج،انداز او پيغام كښ تبديلى راغله او هلته ته تلو سره دوى يو بادشاه او حكمران جوړ شو.

دا اعتراض يا شبه يو خو د اسلام د مزاج او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيغام په خاتميت باندې نه پوهيدو په وجه سره پيداكيږى. حضورصلى الله عليه وسلم صرف د تارک الدنيا خلقو د فوج جوړولو دپاره نه وو راغلې. هغوى خو د فِي الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةٌ د جامعيت پيدا كولو دپاره تشريف راوړې وو. يو ځاې كښ نبى صلى الله عليه وسلم ښچپله فرمائيلې دى چه :

أَنَا نَبِيُّ الْمَلْحَمَةِ أَنَا نَبِيُّ الْمَرْحَمَةِ

"زه چه چرته د رحمت نبى يم نو هلته د جنګ نبى هم يم."

په يوه بله موقع باندې فرمائى : أَنَا الضَّحُوْكُ الْقَتَّالُ

زه چرته چه د انسانانو دپاره د مسكا(خوشحالئ) خوررولو دپاره راغلې يم نو هلته د بد كردارو او ظالمانو دپاره ښكاره شمشير هم يم او زه د هغوى سره د جنګ كولو مكلّف جوړ كړې شوې يم.

په دې وجه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات مبارک كښ د اولې ورځې نه دواړه څيزونه جمع دى.

دغه شان د حضورصلی الله علیه وسلم متعلق دا خبره د یوې لمحې دپاره د نظر نه اخوا کیدل نه دی پکار چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبرآخر الزمان،خاتم الرسل، دانائےسبل دې. د هغوی اصل مقصد او هدف دکوم په خاطر چه نبی صلی الله علیه وسلم دنیا ته رالیږلې شوې دې هغه دقرآن مجید فرائض چهارګانه په صورت کښې بیان کړې شو.يَتْلُوعَلَيْهِمْ اٰيَاتِهٖ، یعنی د قرآن مجید آیتونه تلاوت کولو سره خلقو ته رسول،وَ يُزَكِّيْهِمْ، دخلقو اعتقادی،اخلاقی، روحانی او اندرونی اصلاح کول یعنی تزکیه دنفس،وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَ الْحِكْمَةَ، دکتاب الله د اسرار و رموز تعلیم ورکول او دهغې په بنیاد باندې د وحی په رنړا کښې چه کوم هوښیارتوب نبی صلی الله علیه وسلم ته ورکړې شوې دې،چه دهغې سرچشمې د نبی صلی الله علیه وسلم د ذات مبارک نه جاری شوې وو،د هغې تعلیم انسانیت ته ورکول.دا وه د حضورصلی الله علیه وسلم بنیادی ذمه داری. هغې لره سر ته رسولو دپاره نبی صلی الله علیه وسلم تشریف راوړې وو، ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه پس دبل نبی راتلل نشته،د بل شریعت نازلیدل نشته، د بل یو کتاب نازلیدل د چا په مقدرکښې نشته،په دې وجه د حضورصلی الله علیه وسلم اسوه حسنه لره جامع او کامل اسوه حسنه جوړه کړې شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم چرته چه د عامو افرادو او عامو انسانانو دپاره نمونه ده، نو هلته د نبی علیه السلام ذات مبارک د حکمرانانو دپاره، فرمانراواؤ، فاتحینو،جرنیلانو او د مملکت د سربراهانو دپاره هم نمونه ده.په دې وجه د الله حکمت ددې تقاضا کوی چه دنبی صلی الله علیه وسلم ذات ګرامی کښې د نبوت او حکمرانئ دواړو صفات ئې جمع کړل. دویمه لویه

وجه داده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه تبدیلی راوړله،هغه دانسانی تاریخ دومره لویه تبدیلی ده چه دهغې مثال د دنیا په مدون تاریخ کښې نه ملاویږی. هغه تبدیلی کوم چه دژوند هرې ګوشې لره متاثره کړه او د ژوند څه داسې اړخ نشته دې چه د حضور صلی الله علیه وسلم په ورکړې شوې تربیت سره اصلاح پذیر شوې نه وی او دهغې اثرات او ثمرات دهغې آثار و برکات هغه قبول کړې نه وی. ددې ټولې تبدیلئ د تحفظ دپاره،د اسلام دتمدن د بقاء جوړولو او اسلامی تهذیب ته دتحفظ فراهم کولو دپاره د ریاست ډیر سخت ضرورت دې.

ما ددې نه مخکښې هم عرض کړې وو چه ریاست اوحکومت د اسلام مقصد نه دې،بلکه د اسلام ضرورت دې. د اسلام منزل نه دې نشانِ منزل دې. ددې ضرورت لاندې حضور صلی الله علیه وسلم په مدینه کښې ریاست قائم کړو،چه همیشه دپاره د ټولو ریاستونو دپاره نمونه ده او نمونه به وی څنګه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات ګرامی د هر انسان دپاره نمونه ده. دې ریاست چه کوم قوانین نافذ کړل د هغه ټولو قوانینو سرچشمه ده. او د ټولو قوانینو دپاره معیاری او مثالی حیثیت لری.

کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کښې کفارو ته دعوت ورکولو نو دا جمله به ئې ډیر ځل ارشاد فرمائیله چه د نبی علیه السلام دې دعوت لره قبلونکی به د عرب او عجم حکمران جوړیدې شی. تردې پورې چه په ابتدائی دور کښې کله چه دحضورصلی الله علیه وسلم تره محترم جناب ابوطالب ژوندې وو او دکفارو د طرف نه لا اوس په دشمنئ او مخالفت کښې ډیر شدت نه وو پیدا شوې نو د

مکې کفارو اوغوښتل چه د ابوطالب په ذريعه سره د مصالحت څه شکل راوځی او د افهام وتفهيم څه داسې فضا جوړه شی په کوم کښې چه دا کشيدګی او شدت ختم شی. ابوطالب ددې پيشکش خير مقدم اوکړو او وې وئيل چه ماته به ددې نه زيات خوشحالی په کومه خبره باندې کيدې شی، نو حضورصلی الله عليه وسلم هم تشريف راوړلو او دکفارو لوې لوې نمائندګان سرداران هم راغلل. ابوطالب رسول الله صلی الله عليه وسلم لره مخاطب کولو سره اووئيل چه ستادقوم خلق څه خبرې کولو له راغلې دی. نبی عليه السلام اوفرمائيل چه تره! تاسو چه کوم خبره خوښوې زه دهغې دپاره تيار يم، تاسو حکم اوکړئ. په دې باندې دمکې سردارانو خپله خبره اوکړه. حضورصلی الله عليه وسلم په جواب کښې چه څه اوفرمائيل هغه ډير اهم دی. د غور کولو خبره ده حضورصلی الله عليه وسلم اوفرمائيل زه دوی ته صرف په داسې خبره کولو باندې د ايمان راوړلو حکم کوم که چرې دا خلق دې لره اومنی نو پوره عرب به ددوی ماتحت شی او ټول عجم به ددوی په مخکښې سرښکته شی. يعنی دعرب او عجم فرمان روائی او اوچتوالې به دوی ته حاصل شی. دا خبره نبی صلی الله عليه وسلم هغه وخت ارشاد فرمائيلې وه کله چه د اسلام د قبولونکو تعداد د يو دوؤ درجنو نه زيات نه وو. دمکې نه بهر شايد چه چاته هم داسلام په باره کښې څه معلومات نه وو.

ددې نه پس په آخری دورکښې چه کله رسول الله صلی الله عليه وسلم د مختلف قبائلو د وفودونو سره ملاقاتونه کول. خاص طور د حج په موقعه باندې د حضورصلی الله عليه وسلم د ددين دعوت ورکولو

دپاره دمختلف قبائلو په قيام ګاهو باندې تشريف اوړلو. نو په هغه موقعه باندې هرې قبيلې ته به نبی صلی الله عليه وسلم فرمائيل چه د لا اله الا الله اقرار اوکړئ نو عرب او عجم به ستاسو ماتحت شی.

دا او دغه شان نور ډير ارشادات ددې خبرې د واضح کيدو دپاره کافی دی چه د اسلام په مزاج او پيغام کښې د اولې ورځې نه دا عنصر موجود وو، بلکه هغه عناصر موجود وو چه په هغې کښې د ژوند مکمل تبديلی ، د نظام معاشرت مکمل اصلاح،د فرد او معاشرې سره سره د حکومت مکمل اصلاح يو پروګرام د نبی کريم صلی الله عليه وسلم پيش نظر وو. په دې وجه دا وئيل صحيح نه دی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم مدينې ته تشريف راوړلو نه پس يو نوې او اجنبی عنصر د اسلام په تعليم کښې شامل کړو چه په مکی دور کښې شامل نه وو، څنګه چه د بعضې خلقو خيال دې.

**د مکې ښهری رياست:**

ددې نه علاوه د رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل خاندان او دهغوی ذات ګرامی يو داسې بين الاقوامی مزاج او کردار لرلو چه په عربو کښې ډير کم خلقو ته حاصل وو. ځکه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم غر نيکه محترم جناب قصی چا چه دمکې مکرمې ښهری رياست قائم کړو او دهغوی ذاتی تعلقات د خپل زمانې د څو حکمرانانو سره قائم وو. د هغه ماشوموالې دخپل ميرنی پلار سره په شام کښې تير شوې وو. او دهغه ځاې د حالاتو او معاملاتو نه ښه واقف وو. غالبًا په شام کښې د اوږدې زمانې نه د اوسيدو په وجه سره هغه ته د قيصر روم په دربار کښې هم تعارف حاصل وو. دهغه تعلق د يمن د حکمرانانو

سره هم وو. قصی هغه ړومبې شخصيت وو چاچه د قريشو تجارت لره په مختلف علاقو کښې منظّم او مرتب کړو او د هغه د کوششونو او تعلقاتو په وجه سره د قريشو تعارف د باقی دنيا په ډيروحصو کښې اوشو. جناب قصی ته چه کله په مکه مکرمه باندې د قبضې بحال کولو سره د هغه ځاې د نظام بحال کولو او د امن و امان قائم کولو موقع ملاؤ شوه نو هغوی د يو باقاعده شهری رياست بنياد کيخودلو.ددې رياست په قائم کولو کښې جناب قصی ډيرې هلې ځلې اوکړې. هغوی د قبيله خزاعه سره چه دکعبه په متوليت باندې د ډيرې زمانې نه په زبردستئ سره او په ناجائزه باندې قابض وو، جنګ اوکړو او د کعبې انتظام لره د هغوی نه په زوره واخستو. وئيلې شی د جناب قصی په دې مهم کښې قيصر روم هم ملګرتيا اوکړه.

د جناب قصی ددې قائم کړې شوې شهری رياست تذکره مغربی مصنفين نه کوی.مغربی مصنفين چه کله د ستی استيټ خبره کوی نو صرف يونان يا د زياتو نه زيات د روما خبرې کوی. اګرچه مغربی مصنفين د مکې د شهری رياست ذکر نه کوی خو د چا تذکره نه کولو سره دتاريخ حقائق نه بدليږی. واقعه داده چه د مکې شهری رياست څو سوه کالو پورې قائم وو.

په دې رياست کښې قصی اول لس شعبې قائم کړې او هغه ئې دقريشو په لس قبائلوکښې تقسيم کړې. بيا د وخت سره سره نور شعبې قائم کيدې چه په مختلف قبائلو کښې تقسيم کيدلې. هسې خو ټولې يوويشت عهدې قائم شوې. د هرې قبيلې سرابره به په پيدائشی او خاندانی طور باندې ددې عهدې حامل کيده هم،کومه چه دهغه خاص

قبيلې عهده وه. د حضرت صديق اکبر رضی الله عنه په خاندان کښې عدالتی ذمه داری وه او په خاص طور باندې دا ذمه داری چه کچرې څوک سړې قتل شی يا زخمی کړې شی نو دهغې ديت يا تاوان ادا کولو معامله. داسې د ټولو مقدماتوفيصله به صديق اکبر کوله.دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه په خاندان کښې دسفارت عهده وه. تاسو وئيلې شې چه د وزارتِ خارجه عهده.د نورو قبائلو دمعاملې او خبرو اترو دپاره چه به کله د قريشو د نمائندګۍ ضرورت وو نو حضرت عمرفاروق رضی الله عنه يا دهغه دخاندان مشران به ليږلې شو. دغه شان په مختلف خاندانونو کښې مختلف عهدې قائم وې. بنی عبدالدار چه دعربو يوه مشهوره قبيله وه هغه د بيت الله متولی وو او دبيت الله چابی دبنی عبدالدار د سرابره په لاس کښې وې.دا خبره ډيره زړه راخکونکې او حيرانونکې ده چه د جناب قصی قائم شوې دا عهده تر نن پورې قائم ده. نن هم د بنو عبدالدار د يو سردار په لاس کښې د بيت الله چابی وی او د مکې مکرمې او دحجاز څوک هم وړوکې او يا لوې حکمران تر ننه پوې ددې خاندان نه د بيت الله د چابۍ واپس اخستلو همت نه شی کولې.

دا خبره صرف تاريخی اتفاق نه دې بلکه دې پسې روستو يو تصور هم دې. په دې باندې چا توجه نه ده کړې.د ډاکټر حميدالله صاحب رحمه الله خيال دې چه کله نبی کريم صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته تشريف يوړلو او نبی صلی الله عليه وسلم هلته هم يو شهری رياست قائم کړو. د نبی عليه السلام دا نوې شهری رياست په اصل کښې د مکې مکرمې يو جلاوطن حکومت وو چه په مدينه

منوره کښې قائم کړې شو. په دې وجه نبی علیه السلام هغه صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین ته هم هغه عهدې ورکړې کومې چه په مکه مکرمه کښې دهغوی خاندانونو ته حاصل وې.دقاضی منصب حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته حاصل وو. د بیرونی سفارت ذمه داری حضرت عمرفاروق رضی الله عنه څو ځله سنبهال کړې وه. په باقی معاملاتو کښې چرته چرته چه متعلقه قبائلو صحابه موجود وو نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم سره هغه ذمه دارۍ ئې هغوی ته حواله کړې.

د جناب قصی نه بس دهغه په جانشینو کښې دټولو نه نامور او غیر معمولی شخصیت جناب هاشم بن عبدمناف وو. زر هغه د مکې د ریاست ذمه داری سنبهال کړه. هغه ډیر مشهور او بین الاقوامی شخصیت وو. د حضورصلی الله علیه وسلم د نیکه محترم پلار وو. جناب هاشم په دې اعتبار سره ډیر ناآشنادې نه چه صرف په عربو قبائلوکښې ډیر معتبر وو بلکه د قیصر روم په دربارکښې ئې براه راست پیژندګلو لرله. قیصر روم دهغه د شخصیت نه متاثره وو. کله به چه هغه تجارتی قافله اوړله شام ته به لاړلو او قیصر روم به په شام کښې وو نو هغه به د ملاقات دپاره جناب هاشم لره راغوښتلو او په یو روایت کښې راځی څو ځله په بعضې معاملاتو کښې دهغه ذهانت او د پوهې په وجه سره به ئې دهغه نه رائے هم اخستله. جناب هاشم د قریش د قبیلې دپاره د روم د سلطنت نه ډیر مراعات حاصل کړل. په یمن کښې د ایرانیانو چه کومې کالونۍ وې،هلته ئې هم دقریشو دپاره رعایتونه حاصل کړل. دا ټول مراعات او سهولتونه د قریشو قبیلې ته د جناب هاشم په وجه سره حاصل شول.

په اول ځل مديني منورې ته راتلونکی يو صاحب سره دحضور صلی الله عليه وسلم واسطه او تعلق پيدا شو. دا صاحب سويدبن صامت وو چه په مدينه منوره کښ دخپل تعليم او صلاحيتونو په وجه سره الکامل په وجه سره مشهور وو. حضورصلی الله عليه وسلم ورته دعوت پيش کړو. هغه په توجه سره خبره واوريده او دحضور صلی الله عليه وسلم په پيغام کښ ئې دلچسپي واخسته.دهغه سره د حکمت لقمان څه اجزاء ليکلې شوې وو. هغه اووئيل ماسره هم داسې څيز دې کوم چه تاسو بيانوې. هغه دحضورصلی الله عليه وسلم پيغام قبول نه کړو، خو مخالفت ئې هم اونکړو.ددې نه پس سويدبن صامت وفات شو. سيرت نګارو کښ په دې باندې بحث شته چه سويد بن صامت اسلام قبول کړې وو يا نه. او آيا هغه لره به مسلمان ګڼړلې شی يا نه.

ددې نه پس غالبًا راتلونکی کال دمدينې منورې يوه بله ډله مکې مکرمې ته دحج کولو دپاره راغله. دا د قبيله اوس يو شاخ بنو عبدالاشهل څه خلق وو. دوی د مکې د قريشو سره يوه معاهده کول غوښتل،چه دهغې مطابق دخزرج سره په جنګ کښ دمکې قريش د اوس قبيلې سره ملګرتيا اوکړی. نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغوی ته هم د خبرې کولو دپاره تشريف يوړلو. هغوی هم په ډير غور سره خبره واوريدله. په اخلاقو سره پيش شول. او وې وئيل چه مونږ خو اوس يو بل کار دپاره راغلې يو، په دې وجه مونږ په دې موقعه باندې بل کارته توجه نه شو ورکولې. هغوی هم دحضورصلی الله خبره قبوله نه کړه.

## بیعت عقبه او د مدینې د ریاست بنیاد:

د مدینې والو سره دحضورصلی الله علیه وسلم اوله باقاعده رابطه هغه وخت اوشوه کله چه دنبوت په یوولسم کال د مدینې منورې راتلونکی شپږو حجاج کرامو سره دحضورصلی الله علیه وسلم ملاقات اوشو. شپږ په شپږه کسانو اسلام قبول کړو او مدینې ته لاړل. بعضې خلقو هغه لره بیعت عقبه ګرځولې دې بعضې نورو حضراتو دې لره بیعت نه دې ګرځولې ځکه چه په دې موقعه باندې د څه باقاعده بیعت ذکر نه ملاویږی. یو سیرت نګار هم ددې حضراتو دبیعت څه واقعه نه ده بیان کړې، بلکه صرف د اسلام قبولولو واقعه ئې بیان کړې ده. هغه حضرات واپس کیدو سره په مدینه منوره کښې د اسلام دعوت او تبلیغ کار شروع کړو. راتلونکی کال کله چه دیثرب خلق دحج دپاره راغلل نو د دولسو کسانو یو باقاعده وفد د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشول. په دې دولسو کښې خو پنځه مخکنی کال والا وو او اووه نوې وو. دې دولس کسانو باقاعده اسلام قبول کړو. بیعت ئې ا وکړو او حضور صلی الله علیه وسلم ته ئې درخواست اوکړو چه مونږ سره څوک مبلغ اولیږه .حضورصلی الله علیه وسلم یو صحابی مصعب بن عمیررضی الله عنه هغوی سره اولیږلو د هغه تعلق د بنو عبدالدار سره وو. هغه مدینې ته تلو سره د اسلام دعوت ورکول شروع کړو.دهغه تبلیغ ډیر مؤثر او کامیاب ثابت شو. ډیر زر دمدینې منورې په هر کور،خاندان او برادرئ کښې د اسلام د نوم چرچا خوره شوه. په ډیر تعداد کښې خلق مسلمانان شول. په راتلونکی کال باندې ۷۲کسانو اسلام قبولولو په ارادې سره د باقی حجاجو سره راغلل.

هغوی د رسول الله صلى الله علیه وسلم سره بیعت اوکړو دعقبه په مقام باندې ئې حضورصلى الله علیه وسلم سره دوه درې ملاقاتونه اوکړل.عقبه هغه ځاې دې کله چه د منی نه مکې مکرمې ته راځې نو ښی طرفته یو اوچت غر دې چه دهغې شکل د دیوال په شان دې. هغې کښې دننه یو لاره ځی چرته چه یو مسجد دې. دا هغه ځاې چرته چه دا ملاقاتونه شوې وو.

دا خبره ډیر زړه راخکونکې هم ده او اهمه هم ده چه د حضورصلى الله علیه وسلم سره په دې ملاقاتونو کښې دحضور صلى الله علیه وسلم تره حضرت عباس بن عبدالمطلب هم موجود وو. په دې وجه دکومو خلقو چه دا خیال دې چه هغه په ډیر ابتداء کښې اسلام قبول کړې وو او د حضورصلى الله علیه وسلم په حکم سره په مکه مکرمه کښې مقیم وو،د هغوی د رائے ددې نه تائید کیږی.ددې نه پس د مدینې خلقو حضور صلى الله علیه وسلم ته درخواست اوکړو چه تاسو خپل صحابه کرامو ته مونږ سره دتلو هدایت ورکړې او پخپله هم مدینې ته تشریف راوړئ. حضورصلى الله علیه وسلم صحابه ته مدینې د تلو اجازت ورکړو. صحابه یو یو کیدو سره مدینې منورې ته لاړل. او چه کومه معاهده اوشوه په کوم کښې چه باقاعده بیعت هم اوشو هغې ته بیعت عقبه ثانیه به نوم سره یادولې شی. دې بیعت ته "بیعت حرب" وئیلې شی. اول بیعت ته "بیعت النساء" وئیلې شی. دبیعت النساء لفظی معنی خو ده دښځو بیعت. خو د ښځو د بیعت نه مراد د بیعت هغه الفاظ دی چه په سورة ممتحنه کښې راغلې دی په کوم کښې چه حضورصلى الله علیه وسلم ته فرمائیلې شوې دی چه

تاسو دښځو بیعت اوکړې نو دفلان فلان څیزونو بیعت ترینه واخلئ. ښځې چونکه په جهاد کښ حصه نه شی اخستې. دهغوی نه دا وعده اخستل مناسب نه وو چه هغوی میدان جنګ ته لاړشی اوجنګیږی. په دې وجه سره د هغوی نه په جنګ کښ د حصه اخستلو بیعت نه دې اخستلې شوې. په دې وجه د جنګ نه علاوه د نورو څیزونو بیعت ته بیت النساء اوئیلې شو. همدا وجه ده چه دې اول بیعت ته بیعتِ نساء په نوم سره یادکړې شو.

په دویم بیعت کښ انصارمدینه دا وعده اوکړه چه مونږ به ستاسو دفاع هم کوو. او ستاسو دپاره به جنګیږو هم. چه څوک په تاسو باندې حمله کوی هغه به مونږ په خپل ځان باندې حمله کول ګنړو او تاسو سره په هریخ ګرم کښ یوځاې یو. په خوښ او ناخوښ هرڅیز کښ به مونږ تاسو سره یو. کله چه دا بیعت اوشو نو بعضې انصاری صحابو ته داخیال راغلو چه داسې خو به نه کیږی چه الله تعالی زمونږ په لاسونو باندې مکه فتحه کړی نو نبی صلی الله علیه وسلم واپس مکې ته لاړشی او مونږه پریږدی؟ هغوی په مناسب انداز سره دا سوال دحضورصلی الله علیه وسلم په مخکښې کیخودو. په جواب کښ ورته نبی علیه السلام مسکې شو او وې فرمائیل: زما وینه ستاسو وینه، ستاسو وینه، زما وینه،ستاسوصلح زما صلح او زما صلح ستاسو صلح. اوس به تاسو سره زما مرګ او ژوند وی.دکوم نه پس چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف یوړلو.

نن دسیاست و ریاست په سیاق وسباق کښ د سوشل کنټریکټ خبرې خو ډیر کیږی. د روسانو د زمانې نه کیږی. مونږ ته معلوم نه ده

چه په يورپ کښ څه رياست په باقاعده کنټريکټ په بنياد باندې قائم شوې دې يا نه دې شوې. څه تاريخی ثبوت داسې نشته چه د يو حکمران سره د رياست دقيام نه مخکښ څه معاهده کړې شوې وی او د هغه معاهدې په نتيجه کښ څه رياست قائم شوې وی. د يورپ برعکس دلته ټول سيرت نګار او مؤرخين متفق دی چه دوه ځله معاهده اوشوه. ۷۲ سړی چه نه صرف دخپل خپل قبائلو نمائندګان وو، بلکه دومره ښکاره افراد وو چه دمخکې نه ئې هلته د سردارئ مقام لرلو. هغوی دخپلو قبيلو دطرف نه معاهده اوکړه. رسول الله صلى الله عليه وسلم توثيق اوفرمائيلو او ددې په نتيجه کښ نبی صلى الله عليه وسلم مدينې ته تشريف يوړلو. دا يو داسې رياست وو چه يو آزادنه سوشل کنټريکټ په نتيجه کښ په وجود کښ راغلو.

د مدينې په رياست او باقی نورو رياستونو کښ يو بل لوې اهم فرق دادې چه کله رياست جوړيږی نو دهغې دچلولو دپاره د قانون ضرورت کيږی. ګويا رياست مقصد او قانون دهغې د چلولو ذريعه ده. دلته د هغې نه خلاف ده. دلته يو قانون الهی نازليدو. يو شريعت ورکړې کيدو. ددې شريعت بعضې احکام په مکه مکرمه کښ نازل شوې وو. ددې شريعت د نفاذ او تحفظ دپاره د رياست ضرورت وو. دلته قانون اصل څيز وو او رياست ذريعه وه. لهذا شريعت اصل مقصود دې او رياست دهغې ذريعه ده. په اسلام کښ رياست مقصود نه دې. په اسلام کښ رياست دحصول مقصد يو اهم او ضروری وسيله ده. لهذا په اسلام کښ د رياست درجه روستو ده. دشريعت درجه مخکښې ده.

مونږ وئيلې شو چه دا کوم بيعت عقبه وو په کوم کښې چه د رياست بنياد کيخودلې شو دا د اسلامی رياست د شروع ورځ وه. ۱۱ ذی الحجه ۱۳ نبوت باندې يا ددې نه سمدست پس دا واقعه راپيښه شوه.که د رياست مدينه شروع تاريخ د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د رسيدلو نه مخکښې شمار کړې شی نو هغه به دنبوت يوولسم کال د ذی الحجې ديارلسم تاريخ وی. د حضورصلی الله عليه وسلم د راتلو نه مخکښې دشمارلو ضرورت په دې وجه دې چه ددې معاهدې په نتيجه کښې حضورصلی الله عليه وسلم ته حضورصلی الله عليه وسلم لره د رياست مدينه سربراه تسليم کړې شوې وو. په اسلامی قوانين باندې د تلو عهد و پيمان شوې وو. دحضورصلی الله عليه وسلم مقررشوې کارندو هلته ذمه دارئ سنبهال کړې وې.په دې وجه رياست خو د حضور صلی الله عليه وسلم د تشريف راوړلو نه مخکښې قائم شوې وو. صحابه کرام تلل شروع شول، کوم صحابی به چه هلته رسيدلو، هغه به هلته ذمه دارياني سنبهالولې.په دې وجه وئيلې شی چه يوولسم ذی الحجه دنبوت په ديارلسم کال په مدينه منوره کښې اسلامی رياست قائم شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم بطور سرابره روستو هلته تشريف يوړلو.

## د رياست مدينې د قيام طريقه کا ر

مدينې منورې ته دتلو نه مخکښې چه کوم بيعت اوشو که د هغې په الفاظو باندې غور اوکړې شی نو په هغې کښې هغه عناصر موجود دی چه د يو سياسی او رياستی بندوبست دپاره ضروری وی. د مدينې انصارؤ فيصله اوکړه چه مونږ به په هره معامله کښې ستاسو

خبره اورو او اطاعت به کوو، يعنى سمع وطاعت. ستاسو ارشادات به د قانون درجه لرى او مونږ به دهغې تابعدارى کوو. بيا امربالمعروف او نهى عن المنکر دپاره به خپلې ذمه دارئ سرته رسوو. ستاسو احکام به په ځاې راوړلو کښ مونږ خپل قوت استعمالوو، کومه چه دحق معامله به وى،په هغې کښ به صرف د حق تابعدارى کوو او يو قبائلى عصبيت سره به ملګرتيا نه کوو. دحق په معامله کښ به د الله تعالى نه علاوه د بل چانه يره نه کوو.

ددې معاهدې په نتيجه کښ په مدينه کښ يو وړوکې غوندې کامن ويلتھ قائم شو. کامن ويلتھ په دې وجه چه دا يو قبائلى معاشره وه،هرقبيله په خپل ځاې باندې خودمختاره وه. حضورصلى الله عليه وسلم دې قبائلى يونټو لره ختم نه کړل، بلکه په هره قبيله کښ ئې عريف او نقيب مقررکړل دې دپاره چه دهغه قبيلې دطرف نه خبره کوى. بياچه کله مهاجرينو مدينې منورې ته تشريف يوړلو نو نبى صلى الله عليه وسلم د مهاجرينو هم نمائندګان مقرر کړل. دغه شان جدا جدا يونټې قائم شوې. په دې يونټو کښ خپل مينځ کښ اتحاد سره يو داسې مشترکه حکومت په وجود کښ راغلو چه په داخلى طور باندې په خودمختاره يونټو باندې مشتمل وو.

## د مدينې منورې محلِ وقوع:

دا د جزيره نمائے عرب په فراخه شګلنه سلسله کښ يو وړوکې غوندې نخلستان( دکهجوروعلاقه) وه. حجاز او تهامه چه دمغربى عرب دوه لويې صوبې دى د قريش په تاريخ کښ اهم مقام لرى. دا عمومًا په غريزه او شګلنه علاقه باندې مشتمل ده.په دې علاقوکښ

ځاې په ځاې واړه واړه د کهجورو علاقې موندلې شی. په هغې کښې نسبتًا يوه لوئ (نخلستان) دکهجورو علاقه وه کوم ته چه مدينة النبى او دارالهجرت کيدو لازوال شرافت حاصل وو.

دا نخلستان په يو داسې خطه کښې دې چرته چه د اوږدې زمانې نه د يو ډير لوې لاوے غرونه شليږی. د حضورصلى الله عليه وسلم د هجرت نه لس يا دولس کاله مخکښې هم د لاوے د غرونو شليدو اثرات نن څوارلس سوه کاله تيريدو نه پس هم په مدينه منوره کښې په نظر راځی. دا د لاوے غرونه هغه دی کوم ته چه په عربئ کښې "لابه" وئيلې شی. لاوا شايد ددې لفظ نه ماخوذ ده. په يو مشهورحديث کښې حضورصلى الله عليه وسلم فرمائيلې دی چه څنګه ابراهيم عليه السلام د بيت الله خواؤ شاء لره حرم ګرځولې وو،هم دغه شان زه مدينې لره حرم ګرځوم. بيا نبى عليه السلام د مدينې دحرم حدود مقرر کولو سره اوفرمائيل "**مابين لابتى المدينه**" يعنى زه د مدينې منورې د دواړه لابو ترمينځه زمکې لره مقدس او محترم ګرځوم. دا لابه کله شليدلې وه يا دکله نه شليدل شروع شوې وو، ددې په باره کښې ډيرو مؤرخينو تفصيل سره بيان کړې دې.

علامه سمهودى په "وفاء الوفاء" کښې د لاوے متعلق خاص معلومات ورکړی دی، ددې لاوے د شليدو يو لويه فائده دا اوشوه چه د مدينې منورې په خواؤشا کښې په شين والى (شينکئ) کښې اضافه اوشوه. الله تعالى دهغه ځاې په زمکې کښې دننه معدنيات راويستل او دمدينې منورې په زمکه کښې ئې واچول،چه په هغې سره دهغه ځاې په پيداوار کښې زيادت شو، او نن پورې دعرب په زمکه کښې دمدينې زرخيزی (شين والې) يو ښکاره او ممتاز مقام لری.

دا علاقه دکوم درقبې او وسعت په باره کښې چه مخکښې هم ما عرض کړې دی چه دهغې اوږدوالې تقريبًا څوارلس ميله پورې او پلن والې اته نه لس ميلو پورې دې. دا په وړو مختلفو کلو باندې مشتمل وو، دکوم تعداد چه شل دويشت ښودلې شی. په هرکلی کښې وړې وړې قلعه ګانې موجود وې دکوم تذکره چه د مدينې منورې تقريبًا ټولو تاريخ نويسو کړې ده.

که دهغه قلعه ګانو اندازه کول وی نو دهغې آثار اوس هم په مدينه منوره کښې موجود دی. خاص طورباندې د کعب بن اشرف يهودی قلعه دمدينې منورې نه اته لس ميله فاصله باندې اوس هم موجود ده، ددې نه اندازه کيږی چه د آطام نوعيت څه وو. دا آطام په کوم کښې چه به دننه د کلی مشر او دقبيلې نور ذمه داران اوسيدل، يو خود کفيله يونټ به وو، په بعض صورتونو کښې که به اُطم لوې وو نو پوره قبيله به په کښې اوسيدله. دهغې نه بهر زمکه چه اکثر به په باغونو او پټو باندې مشتمله وه هغه به ددې قبيلې يا اطم کښې د اوسيدونکو ملکيت وو. په دې اُطم کښې به د وسلې خانه هم وه، د ضرورت د څيزونو محفوظ کولو انتظام به هم وو.

دا واړه واړه کلی چه په دې رقبه باندې خواره وو، روستو ددې ټولو نوم مدينة النبی اوګرځيدلو. دا واړه واړه کلی ديو بل نه مختلف وو په هغې کښې يو کلی ته يثرت وئيلې کيدو. يثرب په جعرافيائی اعتبارسره مرکزی حيثيت لرلو او د آبادئ په لحاظ سره لوې هم وو. شايد هم دا وجه وه چه نن مدينه ويونکی پوره علاقې ته دهغه دور په عام بول چال کښې يثرب وئيلې کيدو.

غرض دا چه چه کوم ښارته دمدينه منوره نوم ورکړې شو دا څه يو ښار نه وو. بلکه د ډيرو کلو مجموعه وه. يو ډيره لويه رقبه وه دکوم په باره کښې به دا اندازه صحيح وی چه دموجوده اسلام آباد برابر رقبه وه. چه دهغې اوږدوالې تقريبًا ديارلس څوارلس يا شايد پنځلس ميله ته نزدې ته وه. غرض داچه د لس دولس ميلو په مينځ کښې وه. ټول سيرت نګارو ددې شمالی او جنوبی حد جبل اُحد او جبل عير لره ګرځولې دې. د جبل عير نه هغه غاړه نن صبا دمدينې ائرپورټ دې. د ائرپورټ نه ښارطرف ته تللوکښې په لاره کښې جبل عير راځی.دجبل اُحد او جبل عير په مينځ کښې شمالاً او جنوبًا دا حد دې او شرقًا او غربًا هم لس دولس ميله علاقه ده. په دې علاقه کښې دا ټول کلی او وړې وړې قلعه ګانې وې.دهغې دپاره د آطام اصطلاح به استعماليده.دا قلعه ګانې ددې نوعيت کوم ته چه اردو پښتو کښې ګړهئ وائی.د ګړهئ نه مراد يو داسې لويه حويلی ده چه په دفاعی طورباندې مضبوطې جوړې کړې شوې وی. په کوم کښې چه دننه د يو نه زيات خاندان اوسيږی. د خاندان مشر هم هلته اوسيږی او څه خلق په بهر زمکو باندې اوسيږی. دغه شان تقريبًا دوه اويا آطام د مدينې منورې په خواؤ شاء کښې موجود وې. دې وخت کښې هم بعض آطام (قلعه ګانو) اثرات په مدينه منوره کښې موجود دی. که تاسو هلته تشريف يوړلو نو دکعب بن اشرف د اطم آثار اوس هم موجود دی. د کعب بن اشرف يهودی قلعه د مسجد نبوی نه اته لس ميله فاصله باندې ده. پخپله په مدينه ښار کښې هم د بعضې آطام آثار موجود دی. دغه شان بعضې باغونه اوسه پورې موجود دی. ګويا چه کيفيت دا وو چه يو لوې باغ دې چه ديو قبيلې ملکيت

دي. ددې باغ په مينځ کښ يا دهغې يو طرفته لويه حويلي قائم ده، په کوم کښ چه هغه ټول قبيله ياخاندان اوسيدل،په هغې کښ دننه به د قبيلې مشر او دقبيلې نور ذمه داران به هم اوسيدل. دا يو خود کفيله يونټ وو،ددې نه دبهر قبيلو زمکې چه اکثر په باغونو باندې مشتمل وې هغه به ددې قبيلې او اطم کښ د اوسيدونکو ملکيت وو، په دې اطم کښ به د وسلې دپاره هم خانه وه او دضرورت د نورو څيزونو محفوظ کيدو هم انتظام په دې کښ موجود وو.په دې پوره رقبه کښ ددې اوطام نه علاوه دولس پنځلس واړه واړه کلي وو. په هغې کښې ديو کلي نوم يثرب وو چه نسبتًا لوې کلې وو. دهغې د وجې نه به کله کله دې پوره علاقې ته يثرب وئيلې کيدو. يو واړه غوندې کلې هغه هم وو، په کوم کښ چه مسجد نبوی موجود دې. دا کلې د بنو مالک بن نجار ملکيت وو. هلته يو خالی ځاې د دوه يتيمانو ملکيت وو، چه حضورصلی الله عليه وسلم ورته معاوضه ورکړه او ويخستله او هلته ئې مسجدنبوی جوړ کړو. ددې پوره علاقې نوم مدينة النبي يا مدينه اوګرځيدله.

په مدينه منوره کښ په اول ځل داسې اوشو په خپل مينځ کښ د يو بل سره د جنګ کوؤنکو او د مختلفو قبائلو په بنياد باندې يو رياستی نظم ونسق قائم کړې شو. ددې مشری د ټولو په اتفاق سره رسول الله صلی الله عليه وسلم سنبهال کړه او دغه شان د دې اوږد جنګ او ابتلا روايت ختم شو چه د مدينې منورې په مختلفو قبيلو په مينځ کښ جاری وو. د هجرت نه اووه اته کاله مخکښ يو جنګ شروع شوې وو. دې ته به جنګ بعاث وئيلې کيدو. څو کله پورې جاری وو د اوس او خزرج قبيلو په مينځ کښ تورې راوچتيدې.

د يهوديانو څه قبيلو د اوس سره ملګرتيا اوکړه او څه قبيلو د خزرج سره ملګرتيا اوکړه څو کاله پس د هجرت نه تقريبًا څلور پنځه کاله مخکښې چرته دا جنګ ختم شو. ددې جنګ نه مايوس کيدو سره د اوس او خزرج خلقو په خپل مينځ کښې دا تجويز ايخودلې وو چه مونږ له د يو مشترک مشر انتخاب کول پکار دی. نو دڅه خلقو د تجويز مطابق هغه منتخب مشر عبدالله بن ابی ابن سلول وو چه روستو دمنافقينو سردار ورته وئيلې کيدو. ددې مشترکه سرداري يا بادشاهۍ معامله باقاعده فيصله شوې خو وه ، خو تجويز کول ئې زير غور وو. بعض خلق متفق وو او بعض نه وو.يقينًا د عبدالله بن ابی ابن سلول او د هغه د ملګرو کوشش به دا وو چه په تجويز باندې عمل اوشي. هم په دې دوران کښې د هجرت واقعه راپيښه شوه او څومره د مدينې انصار يعنی اوس او خزرج وو. هغه ټول حضورصلی الله عليه وسلم ته راجمع شول او هغه حيثيت رسول الله صلی الله عليه وسلم ته حاصل شو کوم چه دبعضو خلقو خيال کښې د عبدالله بن ابی ابن سلول دپاره سوچ کيدلو.

حضورصلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته تشريف راوړلو نه مخکښې د مدينې منورې داخلی نظم ونسق ئې مقرر کړې وو. چه کوم مهاجرين وو هغه د مختلف انصاری خاندانونو سره دهغوی د خاندانونو افراد اوګرځولې شول. په انصاری خاندانونو کښې دولس نقيبه د مخکښې نه مقرر کړې شوې وو. سعدبن عباده د خزرج قبيلې نقيب النقباء ورته وئيلې کيدو. چه کوم باقی نقباء منتخب کړې شو او کومو لره چه د هغوی قبيلو د مخکښې نه منتخب کړې وو، هغه ټول په ټوله

داسې خلق وو چه دمخکښ نه ئې په خپل خپل قومونو کښې د سردارۍ مقام لرلو. مثلاً براء بن معرور په باره کښې د ابن هشام روايت دې چه دهغه په باره خلقو وئيلې وو چه:

هُوَسَيِّدُنَاوَشَرِيُفُنَاوَابنُ سَيِّدِنَاوَابنُ شَرِيُفِنَا

"هغه زمونږ سردار هم دې، باعزت سړې دې، زمونږ د سردار ځوې دې او دشريف سړى ځوې دې".

دغه شان کله چه دا ټول مقامى بندوبست مکمل شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته تشريف راوړلو.

## د رياست د قيام دپاره ابتدائى درې کارونه

مدينې منورې ته تشريف راوړلو نه پس د ټولو نه مخکښ هغوى درې کارونه اوکړل.

۱۔ د مسجدنبوى تعمير ئې اوفرمائيلو. ددې نه مخکښ په قبا کښې د مسجد قباء تعمير اوشو.

۲۔ ددې نه پس ئې د مواخاة (رورولئ) عمل مکمل کړو.څومره مهاجرين چه د مکې مکرمې نه راغلې وو هغوى ئې دمدينې د خاندانونو سره يوځاې کړل.مواخاة اصل کښې د يوې زړې د عربو د ادارې د راژوندى کولو يو نوې انداز وو. دا د ولاء په نوم سره په عربو کښې رائج وه. د اسلام نه پس هم رائج پاتې شوه. د ولاء نه مراد به دا وو چه که څوک سړې غواړى نو دخپلې قبيلې سره به ئې تعلق ختم کړو او د بلې قبيلې سره به ئې تعلق جوړولو. که هغه بلې قبيلې به قبوله کړه نو هغه سړې به بيا ددې بلې قبيلې فرد جوړيدو. دې ته به ئې د ولاء تعلق

وئيلو. چه کوم سړی به دغه شان تعلق قائم کولو نو هغه ته به مولٰی المولات وئيلې کيدو. يعنی هغه سړې چه د ولاء په وجه سره به مولا جوړ شو. د مولٰی معنی دوست،دتعلق ساتلو والا،مدد کولو والا د مدد توقع ساتلو والا، دا ټول معنې د مولٰی د لفظ دی.

۳۔ دريم کار حضورصلی الله عليه وسلم دا اوکړو چه يو چارټر ئې مرتب اوفرمائيلو کوم ته بعضې مؤرخينو د ميثاق مدينه نوم ورکړې دې. بعضو هغې ته معاهده وئيلې ده ددې قديم ترين راويان مثلاً امام ابوداؤد،امام احمدبن حنبل او سيرت نګارو کښې ابن هشام او ابن سعد او مؤرخينو کښې څو کسانو ددې دپاره دکتاب اصطلاح استعمال کړې ده.

كِتَابُ رَسُولِ اللهِ صَلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِيْنَ يَا بَيْنَ الاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِيْن

دکتاب عربې ترجمه فيصله يا چارټر کيږی. په قرآن پاک کښې دا لفظ هم په دې معنو کښې استعمال شوې دې.لکه : لَوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللهِ " کچرې د الله تعالی فيصله نه وې راغلې" دغه شان "كَلَّا اِنَّ كِتَابَ الْاَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّيْنَ كَلَّا اِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّيْنَ وغيره" لهذا دکتاب لفظ په قرآن پاک کښې چرته چه هم د کتاب الله نه علاوه په بل څه مفهوم کښې راغلې دې دهغې نه مراد فيصله ده چه رسول الله صلی الله عليه وسلم کړې ده.يقينًا دې چارټر لره جاری کولو کښې حضورصلی الله عليه وسلم د قبائلو سره خبره اوکړه او د چارټر تفصيلات ئې دهغوی په مشورې سره مقررکړل.کله چه د انصارؤ د ذمه دارانو سره ابتدائی خبرې اترې کيدې نو د حضرت انس رضی الله عنه په کور کښې شوې وې. هغوی بيان

کړې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ په کور کښې تشریف فرما وو کله چه دا معاهده کیدله.حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه بیان کوی چه زه دحضورصلی الله علیه وسلم سره بالکل نزدې ناست ووم. حضورصلی الله علیه وسلم به یوه یوه جمله املا فرمائیله او مابه لیکله. زما کونډئ دحضور صلی الله علیه وسلم د کونډې لاندې وه. مونږ ټول په فرش باندې ناست وو. کله چه دا معاهده لیکلې کیده.

غرض دا چه د حضورصلی الله علیه وسلم د پوره کوشش او محنت منشا فقط اعلاء کلمة الله وه. او چه یو داسې حکومت قیام په عمل کښې راشی، په کوم کښې چه ظلم نه وی. هرسړې ته د اعتقاد کامله آزادی وی. ددنیا نه بدامنی او فساد لرې وی دې دپاره چه هر سړې ته د خپل قابلیت مطابق د الله تعالی د پیدا کړې شوې څیزونو نه د زیات نه زیات د استفادې موقع ملاؤ شی او دارنګه محتاجانو ته دممکنه حده پورې دحکومت د طرف نه امداد ورکړې شی. بس دمحمدصلی الله علیه وسلم مشن دغه شان پوره کیدو چه ټول انسانان د یو مذهبی او سیاسی معاشرې یعنی حکومت لاندې راشی، دکوم نه چه بغیر د امن انتظام او خوداری ممکن نه ده.

# مسجد نبوی او د هغې نظام

په مدینه کښ د اسلامی ریاست د قیام په حوالې سره په مخکښنې هفته کښ په کالم کښ دا تذکره شوې وه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف راوړلو نه پس د ټولو نه مخکښ چه کوم درې کارونه کړې وو په هغې کښ اول کار د مسجد نبوی تعمیر وو په دې مضمون کښ د مسجد دتعمیر او روستو په دې مسجد کښ چه کوم نظام رائج وو او د مسجد نبوی د یوې نوې معاشرې په تعمیر کښ چه کوم کردار ادا کړې وو، په هغې باندې به تبصره وی.

**تعمیر د مسجد قباء**:

غرض دا چه نبی صلی الله علیه وسلم د مکې نه هجرت کولو سره مدینې منورې ته اورسیدو نو هغوی د بنوعمره قبیلې مسکن قباء کښ کوز شو او دلته ئې د ټولو نه اول د مسجد بنیاد کیخودلو دې دپاره چه صحابه کرام په هغې کښ جمع شی،مونځ ادا کړی او دنبی صلی الله علیه وسلم سره مشاورت کیږی. قباء د هغه کلی زوړ نوم دې ځکه چه دلته د قباء په نوم باندې یو کوهې وو. دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم څو ورځې قیام اوفرمائیلوددې مسجد په قرآن کښ داسې تذکره شوې ده.

"چه کوم مسجد د اولې ورځې په تقویٰ باندې قائم شوې ووهم هغه ددوی دپاره زیات مناسب دې چه ته په دې کښې (د عبادت دپاره) ولاړ یې.په دې کښ داسې خلق دی چه پاک اوسیدل خوښوی،الله تعالی ته پاکی اختیارونکی خوښ دی". [سورة توبه]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې مسجد د قِبلې په ځاې باندې اول کانړې کیخودو،بیا حضرت ابوبکررضی الله عنه بیا حضرت عمررضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه کانړې کیخودو. بیا انصار او مهاجرین ددې تعمیر طرف ته متوجه شول او ډیر زر دهغې تعمیر مکمل شو.نبی کریم صلی الله علیه وسلم پخپله ددې په کانړو او خټو راوچتولو کښ شریک وو. دغه شان ډیر زر ساده غوندې مسجد قباء تیارشو. ددې فرش د کانړو،منبردکهجورو د تنې او چهت د کهجورو د پانړو وو او اکثرحصه کهلاؤ وه. د مسجد قباء په فضیلت کښ نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:

اَلصَّلٰوۃُ فِی مَسْجِدِ قُبَاءِ کَعُمْرَۃٍ مَنْ تَطَهَّرَ فِی بَیْتِهٖ ثُمَّ اَتٰی مَسْجِدِ قُبَاءِ
فَصَلّٰی فِیْهِ صَلٰوۃً کَانَ لَهٗ کَاَجْرِ عُمْرَۃٍ [حدیث]

”په مسجد قباء کښې مونځ کول داسې دی لکه یوه عمره کول“ او وې فرمائیل :” یو سړی په خپل کور کښ اودس اوکړو بیا مسجد قباء ته راغلو په هغې کښ ئې مونځ اوکړو نو د هغه دپاره د یو عمرې اجر دې“.

**د مسجد نبوی تعمیر:**

د مسجد قباء بنیاد ایخودلو نه پس نبی صلی الله علیه وسلم د مدینې مینځ ته تشریف یوړلو او دموجوده روضه مبارک په ځاې باندې نبی صلی الله علیه وسلم د خپلې اوښې په کیناستو باندې قیام اختیار کړو او سمدست دمسجد د تعمیر کولو تیاری ئې شروع کړه.په مختصرطورباندې دهغې تذکره کولې شی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم كله چه دمدينې منورې مينځ ته تشريف يوړلو اوچرته چه اوښه قصواء ناسته وه نو هغوى هلته دټولو نه مخکښ د مسجد تعمير شروع کړو. او دا د زمکې ټکړه د سهل او سهيل نومې دوه انصارى يتيمانو ماشومانو ملکيت وو، چه د حضرت اسعدبن زراره په پرورش کښ وو چه نقيب محمدى وو، زهيرى په اعلان المساجدکښ ليکلې دى چه حضرت اسعد په دې ځاې باندې به د نبى صلى الله عليه وسلم د تشريف راوړلو نه مخکښ مونځ کولو.په دې کښ به دکهجورو وغيره ډهيرى وو دارنګه په دې کښ د څو کهجورو او غرقد اونه او د څو مشرکانو قبرونه وو او هوار ځاې وو. نبى عليه السلام هغوى سره ددې د سودا خبره اوکړه نو هغوى هبه کول غوښتل. دارنګه قبيله بنو نجار د قيمت ادا کولو اجازت اوغوښتلو خو دا دواړه خبرې ئې منظور نه کړې او د سرو زرو په لس دينار باندې ئې دا واخستله، دا رقم حضرت ابوبکر صديق رضى الله عنه ادا کړو.

نبى صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو په شريکه د مسجد تعمير شروع کړو ددې په تعميرکښ څه کانړى،څه کچه خښتې، او دکهجورو تنې استعمال کړې، دا تنې د ستنو په ځاې باندې اودرولې شوې او چهت د کهجورو د ښاخونو او پاڼړو نه جوړ کړې شوې وو، د مسجد په تعميرکښ نبى صلى الله عليه وسلم خختې،کانړى په خپله به اوچتول او راوړل او په خپله مبارکه ژبه به ئې فرمائيل:

اَللّٰهُمَّ لَاعَيْشَ اِلَّاعَيْشَ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِر [حديث]

" اې الله ژوند خو د آخرت ژوند دې، ته انصارو او مهاجرينو لره اوبخښې".

صحابه رضی الله عنهم اجمعین به هم خختې ایخودلې او شعر به ئې په رجز کښې لوستلو:

لَئِنْ قَعَدْنَا وَالرَّسُوْلُ يَعْمَلُ فَالْعَمَلُ الْعَمَلُ الْمُضِلّ

" رسول اللهؐ دې کار کوی او مونږ دې ناست یو نو دا ډیر دګمراهۍ کار دې".

د مسجد دیوالونه دکچه خختو وو او درې ګزه اوچت وو. په ابتداء کښې دا مسجد اویا لاسه اوږد او شپته لاسه پلن جوړ کړې شو او درې دروازې باب جبریل،باب نساء او باب رحمت کیخودل شوې چه تر ننه پورې په هغه ځاې باندې په دې نومونو باندې مشهورې دی.

## صحابه کرامؓ او د مساجدو تعمیر

کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف راوړلو نو په هرکلی ،قبیله،عشیرې کښې د مسلمانانو تعداد په تیزۍ سره زیاتیدو. د اوس او خزرج دواړو قبائلو څه ځاې داسې نه وو په کوم کښې چه په کافی تعداد کښې خاندان او افراد مسلمانان نه شول.همدا وجه ده چه دهجرت په یو نیم دوه کاله کښې دننه د مسجدنبوی نه علاوه په مدینه منوره کښې نهه مساجد قائم شول.ښکاره خبره ده چه د مدینې منورې د یو سر نه بل سر پورې فاصله دولس پنځلس میل وی او پلن والې اته میله وی نو دهغه ځاې د اوسیدونکو دپاره په مسجدنبوی کښې دپنځه وخته مونځ حاضری ممکن نه وه.تاسو به لوستلې وی چه کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم آخری وخت وو او طبیعت مبارک به ئې د څو لمحو دپاره بهتر شو، نو نبی علیه السلام پرده اوچته کړه او مسجدنبوی ته ئې اوکتل نو صحابه کرام

خوشحاله شول. په عام طور باندې دخلقو دا خيال وو چه اوس صحت مبارک ښه کيږی هغه وخت حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه دحضورصلی الله عليه وسلم نه کور ته د تلو اجازت اوغوښتلو،ځکه چه هغه دڅو ورځو نه کور ته نه وو تلې. حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د هجرت نه پس يوې انصاری ښځې خارجه بنت زيد سره واده کړې وو،دهغې کور د مسجد نبوی نه په څه فاصله باندې وو.قباء ته نزد عوالی نومې يو بستی وه په هغې کښ يو وړوکې غوندې کلې سخ وو چرته چه به حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه او دا ښځه اوسيدله. دا د مسجد نبوی نه درې نيم کلوميټره فاصله باندې دې. دغه شان مختلف صحابه کرام رضی الله عنهم چه چرته چرته اوسيدل او هر ځاې کښ يو نه يو مسجد موجود وو. ددې نهه مسجدونو تعداد کښ دحضورصلی الله عليه وسلم په آته کاله مدنی ژوند کښ د غزوه بدر نه واخله تر دنيانه تشريف اوړلو پورې اضافه کيدله او کله چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ددنيا نه تشريف اوړلو نو په مدينه منوره کښ څلويښت مساجد قائم شوې وو، دکوم تذکره چه مؤرخينو او سيرت نګارو کړې ده.

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه پس صحابه کرام رضی الله عنهم هم دحضورصلی الله عليه وسلم په شان د مسجد په باره کښ دالله تعالی فرمودات،د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ارشادات او دهغوی عملی سيرت نه د مسجد اهميت پيژندلې وو. هغه حضرات دمسجد د ضرورت او دهغې دمقام نه ښه واقف وو. لهذا هغوی دمسجد په باره کښ هغه طريقه اختيارکړه چه درسول الله صلی الله

عليه وسلم وه. په دې وجه دهغوی په ژوند کښ د مسجد په باره کښ څه خبرې مشترکې موندلې شی. د ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین د مسجد سره ژور تعلق وو، مسجد تعمیرکول،آبادول،په مسجد کښ مونځ ادا کول،د مسجد متعلق کارونه کول او هر قسمه دهغې حق ادا کول دهغوی طریقه ده.

صحابه رضی الله عنهم اجمعین به دمساجدو په تعمیر کښ خصوصی حصه اخستله.دارنګه هغوی په حویلیو(د یو خاندان د کورونو مجموعه) محلونو او باغونو کښ مسجدونو تعمیرکړل. دغه شان هغه صحابه چه په حکومتی ذمه دارو او کلیدی عهدو باندې وو، هغوی په خاص طور د دارالحکومت سره مساجد تعمیر کړل. نو دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په دور کښ هم په درجنونو مسجدونه په مدینه منوره کښ تعمیرشوې وو. دا تعداد دنبی صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس څو چنده زیات شو.

نن هم د صحابه کرامو په نوم باندې سه سوؤنو هغه مساجد موجود دی دکومو بنیاد چه هغوی ایخودلې وو. دا مساجد هر هغه خطې کښ موندلې شی چرته چه به دهغوی بابرکته قدمونه پریوتل او دصحابو په نوم باندې خو په لکهونو مسجدونه په دنیا کښ قائم ودائم دی. دا د مسجد په تعمیر کښ دهغوی دلچسپی او دشوق مظهر دې.

کله چه به مسلمانان مجاهدین د جهاد دپاره تلل نوچرته چه به ئې چهاؤنی جوړوله نو هلته به ئې اول مسجد جوړولو بعضې وختونو کښ به عارضی قیام وو نو د سرکنډو مسجد به ئې جوړولو او چه د هلته نه به ئې کوچ کولو نو واپس به ئې هغه لرګی راویستل اوخپل

ځان سره به ئې اوړل. چرته چه به هغوی مستقل آبادئ قائم کړې نو هلته به ئې د ټولو نه مخکښ د بستئ په مينځ کښ د مسجد سنګ بنياد ايخودلو.دا ټول د قرآن وحديث او د حضورصلی الله عليه وسلم د اسوه نمونه وه چه دمسلمانانو انفرادی او اجتماعی ژوند د ټولو معاملاتو مرکز مسجد جوړ شو.نو د اميرالمؤمنين عمربن خطاب رضی الله عنه په زمانه کښ کله چه عتبه بن غزوان بصره فتح کړه نو دټولو نه مخکښ ئې د مسجد بنياد کيخودلو او هغې سره ئې دارالامارة جوړ کړو او د هغې ګيرچاپيره پلاننګ کولو سره ئې هرې قبيلې ته جدا پلاټ ورکړو او په هر محله کښ ئې د مسجد او قبرستان ځاې متعين کړو.

سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه چه په ۱۷ھ کښ کوفه فتح کړه نو د ټولو نه مخکښې ئې د جامع مسجد بنياد کيخودلو او دهغې مخې ته ئې د سنګ مرمر په ستونو باندې د سيوری دپاره يو چهترئ جوړه کړه.دا مسجد د ښار په مينځ کښ وو. په دې مسجد کښ د څلويښت زرو کسانو د مونځ ادا کولو ګنجائش وو. ددې نه دوه سوه لاسه لرې دارالامارة جوړ کړو.بيا ئې دهغه نه څلور واړه طرفونو ته مکانات او کورونه جوړ کړل. د مسجد او دارالامارة نه هر طرف ته لارې وتلې وې، دارالامارة او مسجد به عام طور باندې برابر تعمير کيدل،څنګه چه الفسطاط،دمشق،بصره او قاهره وغيره کښ اوشو. دارنګه خليفه عبدالملک مسجد دمحل مخې ته تعمير کړو. په دې وجه چه مسلمان حکمران به د مساجدو تعمير لره خپل دينی او سماجی ذمه داری ګنړله او په دې وجه به د مسجد امام او حاکم هم يو وو. دغه شان ابوعبيده بن جراح د جامع مسجد دمشق او دارالامارة بنياد

ایخودلو په وخت کړې وو.بالکل هم دا طریقه عمروبن عاص رضی الله عنه د دریائې نیل په غاړه په فسطاط کښ د لوې مسجد بنیاد ایخودلو په وخت اختیارکړې وه. عقبه بن نافع (م۵۸ھ) د قیروان د تعمیر په وخت مسجد او دارالامارة نه ابتداء اوکړه او د هغې نه ګیرچاپیره ئې د اوسیدلو خطې متعین کړې دې دپاره چه دا د ښار مرکز شی.

**د مسجد نبوی نظام او په معاشره کښ ئې کردار:**

د ټولو نه مخکښ مسجدنبوی اخلو چه زمونږ دپاره بهترین نمونه ده. مسجدنبوی صلی الله علیه وسلم دمسلمانانوو دپاره د کثیرالمقاصد مرکز حیثیت لری او د عام معاشرتی ژوند کار سرته رسولو سره سره د اسلام د اهمیت زیاتیدو په وجه د امت مسلمه سیاسی او مذهبی مرکز هم وو. لهذا حضورصلی الله علیه وسلم د خپل انفرادی اجتماعی معاملاتو مرکز مسجد لره جوړ کړو.د ازواج مطهراتو د حجرو داروزې ئې په مسجد کښ کیخودې دې دپاره چه د مسجد سره براه راست تعلق وی، دحضورصلی الله علیه وسلم نشت به په مسجد کښ وو او وفودونه به هم په مسجد کښ پاتې کیدل او ملاقات به ئې کولو، د ذکر وتعلیم حلقې په مسجد کښ قائم وې،وعظ ونصیحت به په مسجد کښ کیدو،جهادی زخمیان به په مسجد کښ پاتې کیدل او دهغوی مرهم پټې به په مسجد کښ کیدلې،د اصحابه صفه ټهکانه یعنی مدرسه صفه د مسجد په یو کونې کښ وه.دغنیمت مالونه او واجب او نفلی صدقات به په مسجد کښ جمع کیدل او دلته نه به تقسیم کیدل، د صحابه مجلسونه به په مسجد کښ وو، د اسلام حمایت او دحضورصلی الله علیه وسلم مدح کښ اشعار به دمسجد د منبر نه وئیلې کیدل،د بنو ثقیف د

نمائنده ګانو خيمې په مسجد کښې اولګولې شوې، د احد جنګ نه پس راتلونکې سردارانو شپه په مسجد کښې تيره کړه.دجهاد د تيارې دپاره به اجتماع په مسجد کښې کيده، فقراء او مساکين دپاره چنده به په مسجد کښې کيده، بعض جهادى مظاهرې او لوبې به هم د مسجد په صحن کښې کيدلې، په مسجد کښې به تخفې وصوليدې او تقسيم کيدې به،نبى صلى الله عليه وسلم به د سفرنه په واپسئ باندې مسجد ته حاضريدو او دوه رکعته نفل به ئې کول بيا به ئې کور ته تشريف اوړلو.قيديان به ئې د مسجد ستنو پورې تړل او فيصلې به په مسجد کښې کيدلې. غرض داچه مسجد دارالندوه(د اجتماعى مشورې مرکز) دارالاماره(حکومتى مرکز) او دارالتعليم دارالکفاله دارالافتاء والقضاء، دارالعبادة والاصلاح ټول هر څه وو.

د مسجدنبوى دوه حصې وې. يوحصه هغه وه په کوم کښې چه به عبادات تعليم وغيره کيدل او دويمه حصه هغه وه کومه چه به د جهادى مظاهرو،اوښانو تړلو،ميلمنو ايساريدو او خيمې وغيره نصب کولو دپاره استعمالولې شوه.

د نبى صلى الله عليه وسلم معمول وو چه کله به څه اهمه مالى معامله راپيښى ده او دمونځ وخت به وو نو دمونځ نه پس او که دمونځ وخت به نه وو نو د اَلصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ اعلان کولو سره به ئې خلق راجمع کول او هغه معامله به ئې دهغوى مخې ته ايخودله.

دحضرت جرير رضى الله عنه نه روايت دې چه يوه غرمه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر وو څه خلق راغلل چه بربنړ بدن،کمبل يا عبا ئې اغوستې او غاړو کښې تورې

زوړندې وې. دې خلقو دمضر قبيلې سره تعلق لرلو. د هغوی د فقروفاقې حالت ليدو سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم مخ مبارک متغير شو. نبی عليه السلام کور ته تشريف يوړلو او بيا بهر راوتلو او حضرت بلال رضی الله عنه ته ئې د اذان ورکولو حکم ورکړو. نو بلال رضی الله عنه اذان اوکړو او بيا ئې اقامت اوکړو او نبی صلی الله عليه وسلم مونځ ورکړو. ددې نه پس نبی صلی الله عليه وسلم حاضرينو ته خطاب اوفرمائيلو. ددې نه پس نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : هر سړې دې خپل دينار و درهم،جامې غنم او اوربشو مقدار کښې صدقه او خيرات اوکړی. بيا ئې ارشاد اوفرمائيلو چه (خيرات کوئ) خواه د کهجورئ يوه ټکړه ولې نه وی.

راوی وائی چه يو انصاری يوه تهيلئ راوړله چه دهغې په وزن سره دهغه لاس سترې شو بيا خلق يو بل پسې راتلل تردې پورې چه ما د خوراک د څيزونو او د جامو ډهيری اوليدل او د رسول الله صلی الله عليه وسلم مخ داسې پړقيدو لکه سره زر چه وی. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل کوم سړی چه په اسلام کښې ښه طريقه راويستله دهغه دپاره اجر دې او هغه خلقو ته به دعمل ثواب هم وی چاچه په هغې باندې عمل اوکړو. خو دهغه خلقو په اجر کښې به څه کمې نه شی کولې. او کوم کس چه په اسلام کښې بد مثال قائم کړو او بد بنياد ئې واچولو نو په هغه باندې هغه ده چه کوم خلق په هغې باندې عمل کوی او دهغوی ګناه به هم ده ته ملاويږی او دهغه خلقو په ګناه کښې به کمې نه وی.

دغه شان په سوؤنو واقعات دی چه نبی علیه السلام اجتماعی معاملات په مسجد کښ مقررکړل. مسجد لره د ابتداء نه دمالی معاملاتو دمختلف اړخونو دپاره استعمال کړې شوې دې. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مساکینو د امداد دپاره د چندې اعلان په مسجد کښ به فرمائیلو او په دې اپیل چه به کوم مال او اسباب جمع کیده هغه به په مسجد کښ ډهیرې کیدو او بیا به تقسیم کیدو. د زکوة مال به په مسجد کښ جمع کیدو او دمسجد نه به تقسیم کیدو. صدقه فطر (سرسایه) به په مسجد کښ جمع کیده او هلته به تقسیم کیده.

د جهاد او حج عمرې اعلان به هم د مسجد نه کیدو او دجهاد دپاره سامان به په مسجد کښ جمع کیدو او مجاهدینو ته به ورکولې شو.بعضې وختونو کښ مالِ غنیمت،انفال او د فدیې مال به هم مسجد ته راوړلې شو او دلته نه به په حق دارانو کښ تقسیم کیدو. که مال به یو ورځ کښ تقسیم نه شو نو نبی صلی الله علیه وسلم به په هغه شپه کورته تشریف نه اوړلو، بلکه په مسجد کښ به ئې قیام فرمائیلو. او دهغوی ددې سنت تابعداری کولو سره صحابه کرام رضی الله عنه اجمعین به هم د اجتماعی مال معاملاتو لره په مسجد کښ فیصله کول. په ډیرو علاقو کښ به بیت المال د مسجد په یو حصه کښې وو. دارنګه اسامه بن زید ۹۷نه تر۹۹ کښ د مسجد عمرو مخې ته یوه قبه تعمیرکړه چه په هغې کښ د یوې قبې نوم هم قبة الخزانه وو.

د مسجد تعلیم وتدریس دپاره استعمال د حضور صلی الله علیه وسلم د ابتدائی مدنی دور نه شروع شو.نبی صلی الله علیه وسلم په

مسجد کښې د صفه په نوم سره مدرسه قائم کړه چه پکښې به د طلباؤ تعداد د اوياؤ پنځه سوه پورې به وو. دکوم د طعام او قيام بندوبست چه په مسجد کښې وو او درس وتدريس به په مسجد کښې وو،د قرآن مجيد او حديث شريف او روژې د مسائلو تعليم ذکر وارشاد ټول هر څه به په مسجد کښې کيدو.اصحاب صفه به تعليم حاصلولو او کله چه به ئې چرته دتبليغ دپاره مبلغين ليږل نو حضورصلی الله عليه وسلم به په هغوی کښې د ضرورت افراد به ليږل. دارنګه د مدينې او ګير چاپيره صحابه رضی الله عنهم اجمعين به وقتًا په وقتًا په مسجد کښې قيام کولو او ددين تعليم به ئې حاصلولو. لهذا مسجد نبوی صلی الله عليه وسلم د طالب علمو قيام ګاه هم وو. حضرت عمررضی الله عنه به مختلف علاقو ته قاريان ليږل،هغوی ته به هدايت کيدو چه هغوی د جمعې په ورځ په مسجد کښې خلقو ته ددين تعليم ورکړی. په مساجدو کښې به ابتداءً د قرآن تعليم ورکولې شو بيا دحديث تعليم ورکول شروع شو.روستو نور علوم مثلاً فقه،صرف ونحو منطق وغيره تعليم شروع شو او دبعضې فنون تعليم به هم ورکولې شو.

اسلام چه دکوم سياست علمبردار دې. دهغې بنياد د الله تعالی دحاکميت،د طاغوت نه برأت او د مخلوق په کفالت باندې دې.دهغې فکری او نظرياتی بنيادونه قرآن مجيد فراهم کوی او ددې عملی تشکيل د سرور عالم صلی الله عليه وسلم په اقوالو و افعالو او د هغوی په سنت سره کيدو او د مسجد نه به دهغې ابتداء کيده. اسلام د ژوند يو پوره او ددې ټول مسائلو لره مربوط منظّم ليدل غواړی. لهذا دده په نظر کښې مسجد صرف يو عبادت خانه نه اکيډمی(تعليم ګاه) او پارليمنټ او

مجلس شورى اجلاس به هلته كيدو، هلته به دمجاهدين اسلام جنگى مشقونه كيدل او نبى صلى الله عليه وسلم به پخپله دهغې معائنه فرمائيله.

## د مسجد سره د مسلمانانو تعلق:

د مسجد حيثيت،اهميت او اجتماعيت كښې دده مقام دكوم چه مختصرًا ذكر اوكړې شو، دې لره د نظر لاندې ساتلو سره چه زمونږ د مسجد سره تعلق څه دې، څنګه او څرنګه به وى؟ دې دپاره يوه خاكه وركولې شى كوم لره چه مونږ خپله كړو نو يو طرف ته د مسجدحق ادا كيدې شى،نو بل طرف ته زمونږ اجتماعى و معاشرتى ژوند كښې چه كومې خاميانې پيدا شوې دى هغه لرې كيدې شى او معاشره په صحيح معنو كښې اسلامى جوړيدې شى. دنبى كريم صلى الله عليه وسلم او صحابه كرام رضى الله عنهم اجمعين په شان د هرمسلمان د مسجد سره ژور تعلق كيدل پكاردى. دا تعلق دومره مضبوط وى چه هغه نه صرف هغه پنځه وخته فرض مونځ په مسجد كښې ادا كړى، بلكه اكثر وختونو كښې سنت او نوافل هم په مسجدكښې اوكړى د مونځ نه څه وخت مخكښې تلل په مسجدكښې كيناستل،تلاوت د قرآن مجيداوذكر كول،مسنون اوراد وظائف لوستل.

په حديث كښې راغلى دى چه :

**اِنْتِظَارُ الصَّلٰوۃِ مِنَ الصَّلٰوۃِ [حديث]**

" دمونځ انتظار كول د مونځ نه دې".

يعنى كله پورې چه سړې دمونځ په انتظار كښې وى، نو ثواب ورته ملاويږى، دمومن مسجدسره صرف د مونځ تعلق نه وى،بلكه د

خپل ځان دپاره په دنیا کښې بهترین ځاې دې مسجد اوګڼړی او هغې سره دې زړه اوتړی.کچرې په مسجدکښې د اعتکاف په حیثت سره کینی نو داعتکاف ثواب به ورته ملاویږی.شریعت د مسجد سره د تعلق په دې وجه تاکید کړې دې چه بنده کله پورې په مسجد کښې ناست وی د ډیرو بدو او ګناهونو نه بچ وی.

د مسلمانانو د اولې ورځې نه د مسجد سره د روحانیت او عبادت تعلق دې. په مسجدکښې په جمع سره مونځ او نفرادی مونځ کول،تلاوت کول،نفلونه کول، ذکرواذکار کول،په اعتکاف کښې کیناستلو لره مسلمانانو خپل معمول جوړکړې دې.دحضورصلی الله علیه وسلم په زمانه کښې مسجد د عبادت مرکز خو وو، خو ورسره به بعض اجتماعی کارونه هم په مسجد کښې کیدل.

خلفائې راشدین به په مسجدکښې کیناستل او عبادت به ئې کولو او د هغوی ماتحت حکمرانان به هم په مسجدکښې د پنځه وخته مونځ دپاره حاضریدل په دې وجه به عام مسلمانانو خپل عبادات په مسجد کښې ادا کول. د سفر نه واپسئ باندې به هم خلق مسجدته حاضریدل.په مصرکښې به په بعضو شپوکښې په مسجدکښې ډیر رونق وو.خلقو به اجتماعی خوراک خوړلو او پوره شپه به ئې په مسجدکښې قیام کولو. دا سلسله په جزوی طور باندې نن هم جاری ده په بعضې ځایونو کښې روزانه او په خاص طور باندې د جمعې په شپه به په مساجدوکښې خوراک جمع کیدو چه په مستحق مسافرو او روژه دارو کښې به تقسیم کیدو. بعضې خلق د واده یا خوشحالئ په موقعه باندې او بعضې وختونو کښې د مصیبت او تکلیف په موقعو باندې د مسجد

دپاره صدقه او خیرات ورکوی. په آفتونو او مصیبتونو کښې په مسجدکښې جمع کیږی دعا غواړی. بعضې خلق خوشبو او تیل یا نور څیزونه په طور د هدیې لیږی. دا سلسله د مسلمانانو د مسجد سره د شوق علامت دې،خو مسجد آبادولو والا په عواملو کښې دا صرف یو عامل دې.

د مسجد سره دتعلق یو صورت دادې چه دمسجد خدمت اوکړې شی، د مسجد د خادمانو په کار کښې ورسره مدد اوکړې. په صفایئ و انتظام کښې دهغه مدد اوکړې،خلقو ته د خلقو د الله او رسول صلی الله علیه وسلم خبرې اوښایې.په مسجدکښې د درس قرآن اهتمام اوکړې،څه دینی کتاب لوستلو سره (خلقوته) واوروئ.یا ځپله ددین علم حاصل کړئ. دا ټول کارونه د سنت مطابق دی.

هرمسلمان له پکار دی چه په کومه محلّه یا بستئ کښې مسجد نشته دې،هلته دنورو رونړو سره یوځاې کیدلو سره مسجد تعمیر کړئ او چرته چه مسجدشته دې هغه په ښه حالت کښې اوساتئ او د آبادولو کوشش اوکړئ. په خپله حلاله ګټه کښې څه حصه د مسجد دپاره هم خاص کړئ او په مسجد کښې هغه د کار او نظام چلولو حتی الوسع کوشش اوکړئ،څنګه چه په مسجد نبوی کښې کیدل. نو یقینًا مسجد زمونږ په معاشره کښې ډیر اهم کردار ادا کولې شی چه زمونږ په لاسونو کښې دې.

د مسجدنبوی صلی الله علیه وسلم نمونې لره مخې ته ایخودلو سره مسلمانانو یوې مودې پورې مسجد لره خپل روحانی عباداتی، تعلیمی،تدریسی،تربیتی،سماجی،فلاحی، سیاسی او اجتماعی مرکز جوړ

کړې وو. کله پورې چه د مسجد دا حيثيت برقرار وو په مسلمانانو کښې اجتماعيت،مساوات، يووالې،محبت،رورولي،او سياسى او معاشرتى اتحاد قائم وو، خوکله چه مسلمانانو د مسجد دې حيثيت لره شاته اوغورزولو نو په دې کښې قسماقسم فتنې خورې شوې او هغوى په فرقو کښې پريوتل.

تاريخِ اسلام صفاصفا ښائى چه په قرن اول او د روستو په دَورونو کښې څه مودې پورې مسلمانانو د مسجدحقيقى مقام او کار لره ملحوظ ساتلې وو او دې لره ئې خپل اجتماعى مرکز جوړ کړې وو. الله تعالى او دهغه رسول صلى الله عليه وسلم چه مسجد ته کوم حيثيت ورکړې دې عين ددې مطابق هغوى چه کله پورې ددې سره خپل تعلق ساتلې وو نو معاشره مستحکم او مستقيم وه،خو افسوس کله چه دا تعلق کمزورې شو نو اجتماعى ژوند د کمزورې نه کمزورې شو.

## د نبوى دور د رورولۍ نظام

د اسلام په نظرکښې ټول مومنان د رورولۍ په رشته تړلې شوې دى. د الله سبحانه تعالى ارشاد دې:

"ټول مومنان د يو بل رونړه دى". [الحجرات: ٤٩:١٠]

ددې رشتې په وجه سره اسلام په ټولو مومنانو باندې دا ذمه دارى اچوى چه هغوى ديو بل سره ژور د رورولۍ تعلقات قائم کړى او دنيکۍ په کارونو کښې ديوبل معاون جوړشى. ددې مضمون خصوصى موضوع هغه نظام مواخات دې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت نه پس په مدينه کښې د اسلامى رياست د قيام دپاره چه کوم درې کارونه کړې ووپه هغې کښې يو دې يعنى د صحابه کرام رضى الله

عنهم اجمعين په مينځ کښې ئې روروِلی قائم کړې وه. ددې نظام په ذريعه سره دهغوی په خپل مينځ کښې هغه مخصوص حقوق وفرائض په وجود کښې راغلي وو، چه دعام اهل ايمان په خپل مينځ کښې د حقوق وفرائض نه زيات د يو ممتاز حيثيت حامل وو.

## په مکه کښې د روروِلئ قيام:

مشهور مؤرخ او جغرافيه دان بلاذری ليکی چه حضور صلی الله عليه وسلم د هجرت نه مخکښې په مکه کښې دمسلمانانو په مينځ کښې په دې بنياد باندې نظام مواخات قائم فرمائيلې ووچه هغوی دحق پاسدارئ دپاره به ديو بل ممد ومعاون اوسی،نو د کومو صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين په مينځ کښې چه په مکه کښې مواخات (روروِلی) قائمې کړې شوې وه،د هغوی نومونه لاندې ليکلې دی:

۱۔ حضرت حمزه رضی الله عنه او حضرت زيد رضی الله عنه بن حارثه۔

۲۔ حضرت ابو بکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه

۳۔ حضرت عثمان رضی الله عنه بن عفان او حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ۔

٤۔ حضرت زبير رضی الله عنه بن عوام او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ۔

٥۔ حضرت عبيد الله رضی الله عنه بن حارث او حضرت بلال حبشی رضی الله عنه ۔

٦۔ حضرت مصعب بن عمير رضی الله عنه او حضرت سعد رضی الله عنه بن ابی وقاص۔

۷۔ حضرت ابو عبیده بن الجراح رضی اللّٰه عنه او حضرت سالم رضی اللّٰه عنه مولیٰ ابی حذیفه۔

۸۔ حضرت سعید رضی اللّٰه عنه بن زید بن عمرو بن نفیل او حضرت طلحه رضی اللّٰه عنه بن عبید اللّٰه۔

۹۔ او نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم پخپله د حضرت علی رضی اللّٰه عنه سره رشته د مواخات مستحکم اوفرمائیله.

## په مدینه کښې د مؤاخات قیام او دهغې وجوهات:

د مکې نه چه کوم خلقو مدینې ته هجرت اوکړو،هغوی مختلف معاشی،معاشرتی او د صحت مسائلو سره مخ شو. په دې خبره خو ټول پوهیږی چه مهاجرینو خپل اهل وعیال او خپل ډیر مال ودولت په مکې کښې پریخودل او راغلل. دې خلقو خو په تجارت کښې مهارت لرلو چه د قریشو خاص امتیازی وصف وو، خو د زراعت او صنعت د شعبو نه دا حضرات قطعًا ناآشنا وو،او دمدینې معاشی نظام ټول په ټوله په زراعت او صنعت باندې قائم وو.

د تجارت دپاره چونکه سرمایه پکار وی،په دې وجه مهاجرین په فوری طور باندې په یوه نوې معاشره کښې په خپلو خپو اودریدل وو. د مدینې نوې ریاست د بیشماره مسائلو سره مخ وو چه په هغې کښې سرفهرست دمهاجرینو د آبادکارئ مسئله وه. مهاجرین په هغه علاقه کښې نوې او ددې معاشرې نه مکمل طور باندې ناواقف وو. هغوی خپل اهل وعیال او ټول خپل خپلوان په مکې پریخودې راغلې وو چه دهغوی سره ددوی رابطه نه وه.ددې په وجه هغوی دسخت قسم یوځوالی ښکار وو او دخپل سرزمین نه هم لرې وو. بله دا هم چه د

نوې ښار د آب وهوا هم د هغوی د وطن نه مختلف وه چه دهغې په وجه سره مهاجرين په تبه کښې مبتلاشول. هغوی فوری طور باندې د توجه ضرورت وو او داسې عارضي حل پکار وو چه د کوربه د عمومي رسوم پورې محدود نه وی. د مدينې انصارو دهغوی په مدد کولو کښې څه قسم کمې اونکړو. هغوی د ايثار او خلوص هغه اعلی مقام مثالونه قائم کړل چه په کتاب الله کښې هميشه دپاره د محفوظ کيدو مستحق اوګرځيدل.

د مدينې انصارو د سخاوت او فياضۍ اعلی معيار پيش کولو سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکښې دا تجويز کيخودو چه هغوی به خپل ټول د کهجورو باغونه د خپل ځان او خپل مهاجرينو رونړو په مينځ کښې تقسيم کړی. ځکه چه هغه د کهجورو باغونه دهغوی د آمدنۍ لويه ذريعه وه. رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته دا مشوره ورکړه چه هغوی دې دخپل باغونو انتظام په خپل لاس کښې اوساتی، خو چه دهغې نه کومه ميوه راځی په هغې کښې دې خپل مهاجرين رونړه هم شريک کړی.

**مواخات او د انصارو ايثار (قربانی)**:

داسې معلوميږی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دا نه غوښتل چه مهاجرين دې د زراعت (زميندارۍ) په کارونو کښې حصه واخلی. ددې دوه وجهې وې، يو وجه دا وه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې مهاجرينو نه دجهاد او تبليغ کار اخستل غوښتل،او دويمه وجه دا وه چه مهاجرين د زراعت سره په مکمل طور باندې نابلده وو چه دهغې د اظهار هم يو موقعه باندې حضورصلی الله عليه وسلم

فرمائيلې وو. ددې وجې نه د مدينې په زرعی پيداوار کښې څه اضافه اونه شوه.

دې انصارو خپله ټوله اضافی زمکه د حضور صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې پيش کولو سره عرض اوکړو چه که تاسو خوښوئ نو زمونږ کورونه هم تاسو دپاره حاضر دی. حضورصلی الله عليه وسلم دهغوی شکريه ادا کړه او دخپل مهاجرينو صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين دپاره ئې په هغه زمکه کښې څه کورونه تعمير کړل کومه چه انصارو پيش کړې وه او څه په هغه زمکه باندې چه دچا ملکيت نه وو.

د انصارو دې فياضانه رويې د مهاجرينو زړونه واخستل. هغوی به د انصارو د فياضئ په ښکاره اعتراف کولو. حضرت انس رضی الله عنه روايت کوی چه مهاجرينو د حضور صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې عرض اوکړو : يارسو الله ! مونږ د انصارو په شان خلق کله هم نه دی ليدلې. هغه بهترين خلق دی. که د هغوی لږ هم څه وی نو بيا هم د مدد کولو نه نه روستو کيږی او که دهغوی سره ډير څه وی نو بيا هم په قربانئ کښې دهغوی څوک ثانی نشته.هغوی په هر ضرورت کښې زيات حصو اخستلو سره زمونږ مدد کړې دې تردې پورې چه په خپلو خوشالو کښې ئې مونږ تردې حده پورې شريک کړو چه مونږ ته دا ښکاريده چه د الله تعالی په نزد د ټول اجر وثواب مستحق به هم هغوی ګرځی. رسول الله صلی الله عليه وسلم جوابًا اوفرمائيل : نه! بلکه کله پورې چه تاسو دهغوی تعريف وتوصيف کوئ او دالله تعالی نه ددوی دپاره دعا کوئ(يعنی تاسو به هم د ثواب مستحق ګرځئ.

د مهاجرينو دپاره د انصارو ټول مالی ايثار او فياضئ باوجود ضرورت ددې خبرې وو چه يو داسې نظام قائم کړې شی، چه په هغې کښې مهاجرينو ته په قانونی طور باندې يو باعزت مقام حاصل شی. بالخصوص د مهاجرينو مرتبه ددې تقاضا کوی چه دهغوی مسائل په دې طريقه باندې حل کړې شی چه هغوی ټټپله خو په انصارو باندې بوج محسوس نه کړی. په دې بناء باندې چه د مواخات نظام ته يو قانونی حيثيت ورکړې شو. مواخات ته قانونی حيثيثت ورکولو د تاريخ متعلق څومره روايات چه مونږ ته رارسيدلې دی، په هغې کښې معمولی غوندې اختلاف مونډلې شی،بياهم روايان په دې خبره باندې متفق دی چه دا قانون سازی د هجرت نه مخکښې کال سره په عمل کښې راغلې وه. اختلاف په دې خبره کښې دې چه آيا دا قانون د مسجدنبوی د تعمير په دوران کښې نافذکړې شو يا ددې نه پس. ابن عبدالبر رحمه الله په خيال کښې د هجرت په پنځمه مياشت په کوم تاريخ باندې دمواخات نظام لره قانونی شکل ورکړې شو،هرکله چه ابن سعد ليکی چه دهجرت نه پس او جنګ بدر نه مخکښې دا کار اوشو، خو هغه هم د څه خاص تاريخ تعين نه کوی.

په رواياتو کښې راځی چه ددې قانون باقاعده اعلان د حضرت انس رضی الله عنه بن مالک په کور کښې اوکړې شو. دا مواخات د انصارو او مهاجرينو په مينځ کښې اوکړې شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم د دوو دوو رونړو جوړې تشکيل کړې، چه په هغې کښې به ديو تعلق د انصارو سره او ديو تعلق د مهاجرينو سره وو. مواخات د لس کم سل کسانو په مينځ کښې اوکړې شو چه په هغوی کښې پنځه

ځلويښت کسان د انصارو او پنځه ځلويښت کسان دمهاجرينو وو. په رواياتو کښ ر اځی چه يو مهاجر هم داسې پاتې نه شو چه د هغه رورلی ديو انصاری سره قائم نه کړې شوه. د تاريخ اسلام او سيرت نبوی صلی الله عليه وسلم ټول قديم مآخذ په دې باندې متفق دی چه مواخات د مهاجرينو او انصارو په مينځ کښ اوکړې شوه.

د مهاجرينو او انصارو په مينځ کښ چه کوم د مواخات قيام دپاره قانون جوړې کړې شو، دهغې په نتيجه کښ خپل مينځ کښ د يو بل رور جوړيدونکی دوه کسان يو ته په بل باندې خاص حقوق حاصل وو، چه په هغې کښې يو دا وو چه هغوی به په خپل مينځ کښې ديو بل سره معاونت کوی،او خپل مينځ کښ معاونت د څه خاص معاملې سره مخصوص نه وو،بلکه د ژوند په ټولو مسائلو باندې محيط وو. خواه هغه مادی وی يا روحانی.د يو بل دمدد او پرورش نه واخله خپل مينځ محبت او دوستانه روابط پورې ددې تعاون په دائره کښ شامل وو،تردې پورې چه دمواخات په نظام کښ دا امر هم شامل وو چه دوه کسان چه خپل مينځ کښ رونړه ګرځولې شوې دی، قطع نظر د نورو رشته دارو نه هغوی د يو بل سره په وراثت کښ هم حقدار به وی.دې ټولو حقوقو د مواخات رشتې لره دومره ژوره او مضبوطه جوړه کړه چه د وينې او نسلی تعلق هم ددې په مخکښې کمزورې شو.

انصارپه دې خبره باندې خوشحاله وو چه هغوی دخپل مهاجر رونړو د مدد کولو او د هغوی دپاره د قربانۍ ورکولو موقع ملاؤ شوه. د رواياتو نه پته لګی چه انصارو د زړه د کُومې نه د رورولې پاسداری اوکړه اوپه خپل عملدرآمدکولو کښ ئې د خپل انتهائی جذباتو اظهار

اوکړو. په هغې يو منفرد او يګانه روزګار مثال دحضرت سعدرضی الله عنه بن ربيع (الانصاری) او دعبدالرحمن رضی الله عنه بن عوف (مهاجر) دې. حضرت سعدرضی الله عنه په پوره جذبې سره خپل مواخاتی رور عبدالرحمن ته اووئيل: ماسره چه څومره دولت دې هغه به زه دخپل ځان اوستاپه مينځ کښ نيم نيم تقسيم کړم.زما دوه ښځې دی،په هغې کښ چه دکومې سره تاسو نکاح کول غواړې، زه هغې ته طلاق ورکولو دپاره تياريم، ته دعدت تيريدو نه پس دهغې سره نکاح اوکړه.حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه هم په دې جذبې سره جواب ورکړو: الله تعالی دې ستامال او ستابيبيانې ستادپاره د برکت ذريعه جوړه کړی،ماته د بازار لار اوښايه. کله چه عبدالرحمن رضی الله عنه د بازار نه واپس کيدو نو دهغه په لاس کښ کُچ او پنير وو چه هغه په خپل تجارت کښ په نفع کښ ګټلې وو.حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه وائی چه يو ځل حضورصلی الله عليه وسلم زما په مخ باندې د زيړ رنګ د خوشبو آثار اوليدل نو تپوس ئې اوکړو: څه معامله ده؟ عبدالرحمن رضی الله عنه عرض اوکړو: يارسول الله! ما دانصارو د يوې ښځې سره نکاح کړې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : نو بيا خو دوليمې انتظام اوکړه، خواه يو چيلئ حلاله کړې.

بيشکه ددې بې مثاله اخوت (رورولئ) اوخپل مينځ کښ دخلوص تصويرکتوسره انسان ګوته په غاښ نيولو سره حيران پاتې کيږی،چه دهغې مثال په پوره انسانی تاريخ کښ د دنيا يو قوم هم نه دې پيش کړې. دحضرت عبدالرحمن رضی الله عنه بن عوف شريفانه او غيرت مندانه رويه او دخپل مواخاتی رور نه فائده نه اوچتولو جذبه هم دغسې قدرې قابلِ تحسين ده څومره قدرې چه د ابن ربيع رضی الله

عنه د فیاضئ او ایثار قابل قدر ده. حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه یو لائق او تجربه کار سوداګر وو او په خپل نوې اجتماعی ژوندکښ خپل مقام پخپله د پیدا کولو پوره صلاحیت لرلو. څه موده پس د هغه مالی حالت دومره قدرې مستحکم شوې وو چه نه صرف واده ئې اوکړو،بلکه د سره زرو څه مقدار ئې خپلې اهلیې ته د مهر په طور باندې ادا کړو، او بیا یو وخت راغې چه دهغه په کاروبار کښ ډیر برکت پیدا شو او دهغه په مال کښ دومره اضافه اوشوه چه دهغه شمار دمسلمانانو په دولت مندو خلقو کښ اوشو. د غریبئ په دور کښ هم هغه د سوال کولو نه ځان ساتلو وو او خپل لاس ئې اوچت لاس جوړ کړې وو چه په ورکولو خو آماده وو خو اغستل به ئې کله هم نه.

په آخر کښ په حتمی طور باندې وئیلې شی چه دمسلمانانو ترمینځه کوم نظام دمواخاتو قائم کړې شوې وو هغې ته قانونی حیثیت ورکړې شوې وو هغه به همیشه دپاره ناقابل تنسیخ وی،البته ددې نظام نه وراثتی حقوق کټ کولو سره منسوخ کړې شوې وو. په هرزمانه کښ مسلمان دې لره خپل علاقه کښ قائمولې شی.ددې بنیاد خپل مینځ کښ تعاون،همدردی او مشاورت باندې وی او ددې په نتیجه کښ څو داسې مخصوص حقوق په یو بل باندې عائد کیږی به چه دعام اخوت اسلامی د حقوقو نه به زیات وی.

دمسلمانانو دطرف نه د الله تعالی د احکامو د تعمیل مکمل مظاهره دغه شان کیدې شی، کله چه هغه دضرورت په وخت ایمان او اسلام رشتې ته ترجیح او فوقیت ورکولو سره خپل ټول نور دمعاشرتی، علاقائی او قومی تعلقات او تعصّباتو قربانی ورکړی.

## د رياست مدينه دستور (ميثاقِ مدينه)

د حضورصلی الله علیه وسلم مدينې ته په تشريف راوړلو باندې په درې کارونو کښې اول کار دمسلمانانو دپاره يو کثيرالمقاصد اداره يو ديني مرکز د مسجد نبوی صلی الله عليه وسلم تعمير اوشو چه په هغې سره مسلمانانو ته دخپل عبادت تعليم وتربيت سره د معاملاتو فيصله کولو دپاره يو خپل بااختياره ځاې ملاؤشو. د اسلامی تحريک او اسلامی رياست په قيام کښې دديني مرکز او ادارې د ضرورت او افاديت نه څوک انکار کولې شی.

دهجرت نه پس که مکې والو مسلمانانو لره نه چهيړل نو هغوی په آرام سره په مدينه کښې ژوند تيرولو، خو هغوی مسلمانانو ته په مدينه باندې دحملې کولو دهمکيانې ورکولې. رسول الله صلی الله عليه وسلم اول په مسلمانانو يعنی مهاجرينو او انصارو کښې مواخات قائم کړل دې دپاره چه مهاجرين د مدينې ښار په معيشت کښې داخل کړې شی او دهغوی د ژوند تيرولو انتظام اوکړې شی دې دپاره چه هغوی په معاشره باندې بوج جوړ نه شی او بل مهاجرين هم د معاشی مسائلو سره مخ نه شی او هغوی د زړه اطمينان حاصلولو ددعوت دين او اقامت دين دپاره يو شی، دا کار د انصارو د فراخ دلئ او ميلمه دوستئ په وجه سره ډير زر او په آسانئ سره ممکن شو.

دريم کار دميثاقِ مدينه قيام دې. د اسلام نه مخکښې په مدينه کښې دڅه قسمه مملکت وجود نه وو،بلکه قبائلی نظام وو چه خپل مينځ کښې په خانه جنګئ کښې مبتلا وو،د هجرت نه اووه اته کاله مخکښې يوجنګ دهغوی په مينځ کښې شروع شوې وو،ديته جنګ بعاث

وائی څو کالو پورې جاری وو اوس او خزرج قبائل خپل مینځ کښې په جنګ شوې وو.

دیهودیانو څه قبیلو د اوس سره ملګرتیا کړې وه او څه قبائلو د خزرج سره،څو کاله پس دهجرت نه تقریبًا څلور پنځه کاله مخکښې چرته دا جنګ ختم شو.هم ددې جنګ نه مایوسه کیدو سره او ددې پریشانه کیدو سره د اوس او خزرج بعضې خلقو دا تجویز پیش کړو چه مونږ له د یو مشترکه مشر انتخاب کول پکار دی،د چا رائې د اوس په ابوعامر راهب باندې وه او دبعضې خلقو د تجویز مطابق عبدالله بن ابی ابن سلول چه روستو د رئیس المنافقین په نوم سره مشهور کیدو سره د مشرئ دپاره منتخب کول وو. د مشرئ په انتخاب باندې ئې د تاج پوشئ دپاره د مدینې زرګرانو ته د تاج جوړولو آرډر هم ورکړې وو. په دې دوران کښې د هجرت واقعه راپیښه شوه او څومره انصاری صحابه رضی الله عنهم اجمعین یعنی د اوس او خزرج وو هغه د حضورصلی الله علیه وسلم نه ګیرچاپیره جمع شول او هغه حیثیت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاصل شو چه دبعضو خلقو په خیال کښې د عبدالله بن ابی ابن سلول دپاره سوچ کیدلو.

حضورصلی الله علیه وسلم د دریم کار یعنی قیام ریاست مدینه او میثاقِ مدینه کارته عملی جامه اچولو دپاره د مدینې نه ګیرچاپیره ټول عناصرو او قبائلو یو ډیره لویه جلسه او مشترکه اجلاس راوغوښتلو په هغې کښې مسلمانان،مهاجر، انصار،مسلم وغیرمسلم،د مدینې مشرکان چه اوسه پورې ئې اسلام نه وو راوړلې یهودیان،عیسائیان ټول شریک شول.

حضورصلی اللّٰه علیه وسلم د یومشترکه حکومت قائمولو رائے پیش کړه. ټولو شریکانو دې رائے لره د اکثریت سره قبول کړه سیوا د څو خاندانونو نه چه په هغې کښې یو عبداللّٰه بن ابی ابن سلول او دهغه څه ملګری وو، ځکه چه دهغه متوقع حیثیت رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ته منتقل کیدل وو او دویم ابوعامر راهب او د هغه د خاندان خلق ځکه چه هغه د انجیل عالم وو او هغه په انجیل کښې وئیلې وو چه آخری نبی به راځی. د نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم مدینې په تشریف راوړلو باندې هغه غمژن شو چه نبی خو ماله کیدل پکار وو، ځکه چه زه خو عالم یم او دا محمدصلی اللّٰه علیه وسلم خو اُمی دې وغیره.

غرض داچه د اکثریت اتفاق رائے نه نبی صلی اللّٰه علیه وسلم د مدینې د ریاست نظام چلولو دپاره څو نکاتو باندې مشتمل دستور پیش کړو کوم لره چه د میثاقِ مدینه په نوم سره یادولې شی. په دې دستورکښې څو اهم خبرې دا وې.

په اول ځل د حکمران او رعایا حقوقو لره په تحریری طور باندې په عمل کښې راوستلې شول. دستور مرتب کولو سره بیا د ټولو خلقو مخکښې پیش کړې شو دلته خاص قابل ذکر خبره داده چه دا ددنیا د ټولو نه اولنې تحریری دستور دې چه یو اُمی شخصیت په لاسونو باندې په وجُود کښې راغلو.

# د میثاق او دستورِ مدینه دفعات

۱۔ دا مملکت به د ټولې دنیا په مقابله کښې یو مستقل اوخودمختاره مملکت وی.

۲۔ په دې مملکت کښې به مسلمانان هم وی او غیرمسلم به هم وی.

۳۔ غیرمسلم ته به دهغوی ددین پوره آزادی وی. لِلْمُسْلِمِیْنَ دِیْنُهُمْ وَلِلْیُهُوْدِ دِیْنُهُمْ۔

٤۔ د مملکت د سربراه په طور باندې نبی صلی الله علیه وسلم لره بالا تفاق مقررکړې شو. څو میاشتې پس به د هغوی فیاضی عقل مندی،انصاف خوښول خلقو ته معلوم شی.

په دې دستورکښې ددفاع په سلسله کښې دوه خبرې اهمې او قابل د ذکر دی.

۵۔ امن او جنګ ناقابل تقسیم څیزونه دی،که امن وی نو د ټولې مدینې والو او ټولو قبائلو دپاره او که جنګ وی نو هم دټولو.داسې نه چه څو قبائل به جنګیږی او د څو به صلح وی. دامن او جنګ مرکزیت او ناقابل تقسیم کیدل یو اهم څیز وو.

٦۔ که دجنګ دپاره بهر وتل وی نو په هغې کښې به څوک شریک وی او څوک نه وی، دا اختیار به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاصل وی،ګویا چه د هغوی اختیار د کمانډران چیف نه زیات وو،چه نه به صرف هغوی جنګی انتظام کوی، بلکه د جنګ دپاره سیاسی اړخ باندې هم به نبی صلی الله علیه وسلم ته اختیار وی چه هغه خلقو لره رسول الله صلی الله علیه وسلم

خارج كولې شی چه مشتبه وی او كوم چه مسلمانانو ته نقصان رسول غواړی.

۷۔ دا هم صراحت دې كه چرې د بهر نه څوک حمله کوی نو هره محلّه،قبيله به مدافعت براه راست كوی په دې كښ به ټولې محلې اوقبائل د يوبل سره تعاون كوی.

۸۔ د فوج اخراجات به هر محله او قبيله به پخپله برداشت كوی،ځکه چه هغه وخت حكومت ابتدائی وو او دحكومت سره مال او بيت المال نه وو يعنی رضاكارانه فوج وو. وسله هم خپله،خرچه هم خپله،ځكه چه په دې سره به په حكومت باندې بوج نه پريوځی، خو بيا هم د فوج مركزی منډې ترړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لاس كښ وې.دا د اولې سن هجرئ واقعه وه.

۹۔ دعدل او فيصلو انتظامِ عدالت ابتداء به قبيله وار وی يعنی هرقبيله به خپل مسئله د خپلې قبيلې سردار ته راوړی. كه مسئله د دوه فريقو په مينځ كښ وی نو په دې صورت كښ به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راځی يا به خپل څوک بل حَكم مقرركړی،خو دا صراحت چه په آخر كښ به د عدالت ايپل د رسول الله صلی الله عليه وسلم ذات وی.

۱۰۔ په دستوركښ دمسلمانانو دپاره دا صراحت دې چه قانون ساز به رسول الله صلی الله عليه وسلم وی،يعنی قومی انتظام او عدالت عظمی د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اختيار كښ وو.مطلب داچه مسلمانان به صرف او صرف په رسول الله صلی الله عليه وسلم او شريعت باندې فيصله كوی.

مخکښ مې عرض کړې دې چه مدينې منورې ته تشريف راړلو نه پس دريم حضورصلی الله عليه وسلم دا کار اوکړو چه يو چارټر ئې مرتب اوفرمائيلو کوم لره چه بعضِ مؤرخينو د ميثاقِ مدينه نوم ورکړې دې.بعضو دې ته معاهده وئيلې ده. ددې زړه راويان مثلاً امام ابوداؤد،امام احمدبن حنبل رحمه الله او سيرت نګارو کښې ابن هشام او ابن سعد او مؤرخينو کښې ډيرو کسانو ددې دپاره دکتاب اصطلاح استعمال کړې ده.

كِتَابُ رَسُولِ اللهِ صَلى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِلانْصَارِ وَالمُهَاجِرِينَ يَا بَيْنَ الانْصَارِ وَالمُهَاجِرِين۔

دکتاب عربې ترجمه فيصله يا چارټر کيږی. دا چارټر يا فيصله ده چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوکړه،يقينًا ددې چارټر په جاری کولو کښې حضورصلی الله عليه وسلم دقبائلو سره خبره اوکړه. او د چارټر تفصيلات ئې دهغوی په مشورې سره مقررکړل. کله چه د انصارو ذمه دارو سره ابتدائی خبرې اترې کيدې نو دحضرت انس رضی الله عنه په کور کښې کيدلې. هغوی بيان کړې دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ په کور کښې تشريف فرما وو کله چه دا معاهده کيدله. حضرت زيدبن ثابت رضی الله عنه بيانوی چه زه د حضورصلی الله عليه وسلم سره نزدې ناست ووم. حضورصلی الله عليه وسلم به يوه يوه جمله املا فرمائيله او ما به ليکله. زما کونډۍ د حضور صلی الله عليه وسلم د کونډۍ نه لاندې وه. مونږ ټول په فرش باندې ناست وو کله چه معاهده ليکلې کيده.

ددې نه پس کله چه دا معاهده مکمل شوه.په عام طور باندې قديم وجديد مؤرخينو وينا داده چه دا معاهده په اووه څلويښت يا دوه

پنځوس دفعاتو باندې مشتمل وه او دې دفعاتو لره په دوه حصو کښې تقسيم کړې شوې دی.

دا معاهده په دوه ځانله وختونو کښې کړې شوې ده. دبعضو خلقو وينا ده چه دا يو معاهده ده او په يو وخت کښې کړې شوې ده.په جديد مصنفينوکښې مثلاً ډاکټر حميدالله صاحب رحمه الله او څو نور حضراتو دا خيال دې چه دا دوه ځانله دستاويزات وو چه په مختلف وختونو کښې مرتب شول او روستو دې لره املا کولو سره يو کړې شوه. اول پنځويشت دفعات خو دهجرت بالکل په ابتدائی ورځو کښې مرتب شول او دا د مهاجرينو او انصارو په مختلف قبائلو په مينځ کښې فيصله کونکې معاهده وه. دويم حصه د غزوه بدر نه پس مرتب شوه. ددې په رو سره يهودی قبائل هم په دې معاهده کښې شامل شول. د عربۍ ژبې مشهور لغت لسان العرب کښې يو ځاې د دوه کتابونو حواله ده.

**كِتَابُهُ صَلى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِلْمُهَاجِرِينَ وَالانْصَارِ اور كِتَابُهُ صَلى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِلْيَهُوْدِ**

ددې نه پته اولګيده چه په قديم مصنفينو کښې ابن منظور افريقی هم دې لره د دوؤ دستاويزاتو مجموعه ګڼړلې ده.

امام ابوداؤدهم په خپل کتاب الخراج والفئ والامارة، چه د سنن ابوداؤد يوه حصه ده، دهغې په باب نمبر ۲۱ کښې چه د هغې نوم دې **بَابُ كَيْفَ كَانَ اِخْرَاجُ الْيَهُوْدِ مِنَ الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ** چه د يهوديانو اخراج د مدينې منورې نه کله او څنګه اوشو.په هغې کښې هغوی دا ليکلې دی چه حضورصلی الله عليه وسلم څنګه دمهاجرينو او انصارو په مينځ کښې يو کتاب تحرير کړې وو او دا د غزوه بدر نه پس يهوديان هم په دې چارټرکښې شامل شوې وو. ددې نه پته اولګيده چه دا دوه ځانله معاهدې

وې چه روستو په يو دستاويز کښې جمع کړې شوې وې.ددې دفعات ډاکټر حميدالله دوه پنځوس ګرځولې دی. وينسنک چه مشهور ډچ مستشرق وو هغه اووه څلويښت ګرځولې دی. بعضې نورو مصنفينو شپږ پنځوس دفعات ګرځولې دی.

دا تحرير يا دستاويز د مدينې د رياست دپاره آئينی دستاويز وو، ډاکټر حميدالله او ول هاوزن او څو نورو جديد مصنفينو په ځاې باندې دې ته د انسانی تاريخ اولنې تحريری دستور وئيلې دې.يقينًا دا د انسانی تاريخی اولنې او مدون دستور دې. ددې نه مخکښې څه داسې مثال نه ملاويږی چه دڅه رياست دنظام چلولو دپاره تحريری دستور مرتب کولو سره نافذ کړې شوې وی.

د دستور اوميثاق څو مختصر امور ذکرکولو نه پس اصل دستور څه داسې دې.

بسم الله الرحمن الرحيم

هٰذَا كِتَابٌ مِن مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ صَلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ قُرَيْشٍ وَيَثْرِبَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ فَلَحِقَ بِهِمِ وَجَاهِدْ مَعَهُمْ اَنَّهُمْ اُمَّةٌ وَاحِدَةٌ مِن دُونِ النَّاسِ۔

دالله په نوم چه رحمن او رحيم دې. دا يو چارټردې چه د پيغمبر اسلام محمدصلی الله عليه وسلم جاری کړې دې. دا دهغه مومنانو او مسلمانانو په مينځ کښې دې. دکوم تعلق چه د قريش او يثرب سره دې او دهغه ټولو خلقو سره چه روستو به ددې تابعداری کولوسره دوی سره ملاويږی.او دهغوی سره يوځاې کيدو سره به جهاد کوی. دلته د دوه فريقينو ذکر راغلو چه دا هغه پارټيانې دی دکوم په مينځ کښې چه دا چارټر جاری کړې شو.

دا چارټر حضورصلی الله علیه وسلم بطور سربراه د رياست ورکړې دې. په اول ځل قبائلي نظام کښې يو رياست قائم شوې دې.په اول ځل يو داسې امت قائم شو چه د مختلفو قبائلو په وابستګو سره ماورا دې. په اول ځل د يو ديني عقيدې په بنياد باندې داسې وحدت قائم شوې دې چه د رنګ او نسل نه اوچت دې ددې دفعاتو نه دا خبره پخپله مخې ته راځی.

اويوه بله خبره چه په ذهن کښې راځی هغه داده چه هغه وخت پورې د مدينة النبی نوم زيات عام شوې وو. دمدينة النبی نوم کچرې عام شوې وې نو شايد د يثرب په ځاې هغه به ليکلې کيدو. د روستو په بعضې دستاويزاتو کښې د مدينې لفظ شامل دې. کوم قبائل چه په دې دستاويز شامل شول. مخکښې تلو سره دهغوی فهرست ځانله دفعاتو کښې بيان کړې شوې دی.يهودی قبائل په ابتداء کښې په دې معاهده کښې شامل نه وو. په خپله څو عرب غيريهودی قبائل هم په شروع شروع کښې په دې دستور يا چارټر کښې شامل نه وو. د اوس ډير ګروپونه په شروع کښې شامل شول،څلور قبائلي ګروپونه شامل نه شول. هسې د مدينې دا خلق د غزوه خيبر نه پس شامل شول. دا چه کومه د دولس څوارلس ميلو پلنه علاقه وه په دې کښې چه کوم خواره کلي يا آطام وو دهغې اکثر حصه په دې کښې شامل شول. اوکوم خلق چه شامل نه شول په هغې څه ددې مخالفت اوکړو. څه مخالف اونکړو، خو بالادستی عملاً ټولو ددې تسليم کړه.

په اول ځل داخبره هم په واضح طورباندې ثابتيږی چه دا معاهده په بنيادی طور باندې دقريشو مسلمانانو او انصارو مسلمانانو

په مینځ کښې شوې وه. دې لره د امت واحده په نوم سره یادکړې شوه. باقی خلق ضمنًاپه دې کښې شامل شول. دا هغه خلق وو چه دځه معاهدې،حلف یا ولاء په نتیجه کښې دقریشو یا انصارو سره وو. مثلاً حضرت بلال حبشی رضی اللّٰہ عنه،صهیب رومی رضی اللّٰہ عنه، دا حضرات ټولپله قریشی نه وو،خو دمختلف قریشی قبائلو سره وابسته وو. هغه ټول ددې لاندې شامل دی.

ددې نه پس چه کوم بقیه دفعات دی په هغې کښې بعضې غیرمسلم مدنی قبائلو لره هم شامل کړې شول. هغه غیرمسلم په کوم کښې چه اول مشرکین او بیا یهودیان هم شامل شول. دا په طور د شهریان ریاست شامل شول او په طور د افراد امت شامل نه شول.په دې وجه چه ددوی په باره کښې وئیلې شوې دی چه مونږ امة مع المومنین. دوی ته امة من المومنین نه دی وئیلې شوې بلکه امة مع المومنین اوئیلې شو.

ددې معاهدې د ابتدائی حصې د نفاذ نه پس غزوه بدر پورې ډیر یهودیان په دې کښې شریک نه وو. ځه قبائل خو دمخکښې نه شامل وو. دغزوه بدر نه پس باقی یهودی شامل شول،البته ځه یهودی قبائل د شروع نه په دې کښې شامل وو. دهغوی دپاره جدا دفعات کیخودلې شول.

وَاِنَّهُ مَن تَبِعَنَا مِن یهود فَاِنَّ لَهُ النَّصرُ والاسوة غَیرَ مَظلُومِینَ وَلَا مُتَنَاصَرِینَ عَلَیهِم

کوم یهودیان چه زمونږ په دې معاهده کښې زمونږ تابعداری کوی هغوی ته به هم هغه شان مدد فراهم کولې شی او هغوی ته به هم هغسې دمساوات حق ورکولې شی چه کوم قریش او انصارو ته حاصل

دې.نه به په هغوی باندې ظلم کولې شی، نه به دهغوی خلاف دچا مدد کولې شی.

وَإِنَّ الْيَهُودَ يُنْفِقُونَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ مَا دَامُوا مُحَارِبِينَ

دا جمله دوه ځله راغلې ده. که چرې یهودیانو ته د مسلمانو سره یو ځاې د جنګ کولو دپاره اوؤیلې شی نو هغوی به دجنګ اخراجات په خپله برداشت کوی. په دې وجه چه دهغوی به هم دفاع کول وی. د خپلې دفاع اخراجات به هغوی په خپله برداشت کوی او مسلمانان به دخپلې دفاع اخراجات په خپله برداشت کوی. ددې نه هم په واضح طور باندې دا پته لګی چه هغوی د امت واحده افراد نه وو. که د امت واحده افراد وې یا هغوی لره په امت واحده کښې شامل ګڼړلې کیدل نو د خپل دفاعی اخراجاتو ادا کولو به پابند نه وې.

ددې نه پس مخکښې تللو سره یو یو کیدو سره یهودی قبائل په دې معاهده کښې شامل کیدل. په هغې کښې داکثرو نشاندهی ددې دستاویز په متن کښې کړې شوې ده. د اووه قبائلو تذکره کړې شوې ده هغه قبائلو ته هغه ټول مراعات ورکړې شول چه په ابتداء کښې مسلمانانو ته ورکړې شوې وو. په دې دستاویز کښې یوه دفعه داسې ده چه تقریبًا د هرې قبیلې په حواله بیابیا وئیلې شوې ده. اته لس ځله دې لره بیابیا وئیلې شوې ده. هغه داده:

الْمُهَاجِرُونَ مِنْ قُرَيْشٍ عَلَى رُبْعَتِهِمْ يَتَعَاقَلُونَ بَيْنَهُمْ مَعَاقِلِهِمُ الْأُولَى

همدا خبره د انصارو په باره کښې هم ده چه هغوی به په سابقه طریقه کار باندې کاربند وی او ددیت ادا کول به په خپل مینځ کښې د مخکښې په شان وی. ګویا چه د سوشل سیکورټی ذمه داری به دهرې قبیلې

خپله وی هغوی به ددې نظام بدستور پابند وی کوم چه په دې قبیله کښ د مخکښ نه راوران دی. دا خبره د مهاجرینو سره سره، د انصارو اته او دټول یهودی قبائلو په باره کښ صراحت کړې شوې دې او دې الفاظو لره یو یو کولو سره دهراؤ کړې شول.

پنځویشت دفعاتو باندې مشتمل د اول جزء په آخری دفعه دا وو چه :

وَاِنَّكُمْ مَهْمَا اِخْتَلَفْتُمْ مِنْ شَيءٍ فَاِنَّمَا مَرَدَّهٗ اِلَى اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ وَاِلٰى مُحَمَّدٍ ﷺ

که په څه معامله کښ ستاسو په مینځ کښ اختلاف شی نو آخری فیصله به الله عزوجل او محمدعلیه السلام والصلوة کوی.ګویا چه د شریعت بالادستی او اختلافی امور یعنی غیر منصوص امورو کښ د حضورصلی الله علیه وسلم ذات مبارکه لره تسلیم کړې شو.په دې کښې ټولو شهری خلقو ته د مساواتو یقین دهانی اوکړې شوه. ددې نه مخکښ په عرب ماحول کښ مساوات به نه کیدو. د بعضو قبائلو حق به زیات وو د بعضو به کم وو. تردې پورې که دفلانی قبیلې سړې اوژلې شی نو نیم دیت به ورکولې شی او که د فلانئ قبیلې سړې اوژلې شی نو پوره دیت به ورکوی. د فلانئ قبیلې سړې اوژلې شی نو دو چنده دیت به ورکولې شی. که دفلانئ قبیلې سردار اوژلې شو نو د قاتل قبیلې به څلور سرداران وژلې شی. دغه شان په رائج الوقت نظام کښ په اول ځل مساوات انسانی د یو قانونی اصول په طور باندې اختیارکړې شو.

سَوَاسِيَةٌ لَا فَرْقَ بَيْنَ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ غَنِيٍّ وَفَقِيْرٍ

داټول به برابر وی، واړه او لوې او مالدار او غریب په مینځ کښ به څه فرق نه وی. بیا د زیات وضاحت دپاره اووئیلې شول چه :

تَتَكَافُو دِمَائُهُمْ وَدِيَتُهُمْ وَاحِدَةٌ

ددې ټولو وینه به د یو بل سره برابر وی او دیت به د ټولو یوشان وی. بیا اوفرمائیلې شول چه ذِمَّةُ اللهِ وَاحِدَةٌ، د الله تعالی دطرف نه چه کومه ګارنټی ورکړې شوې ده هغه دټولو دپاره برابر ده او یو شان ده.اِنَّ الْمُؤْمِنِيْنَ يحمى كُلٌّ مِنَ الاخِرِ،ټول مومنان به دیوبل مدد کوی. دغه شان په اول ځل د قبائلی تعصّباتو نه بالاتر کیدو سره د جنګ او صلاح اختیار یو مرکزی حکومت ته ورکړې شوه.ددې نه مخکښې هرقبیله بلکه هر فرد آزاد وو چه کله غواړی نو جنګ شروع کړی او دچا خلاف چه غواړی نو وسله اوچته کړی په دې دستاویز کښې دا اوئیلې شول چه سلم المومنين واحده، د مسلمانانو د مصالحت او امن نظام به یو وی.

لَا يُسَالِمُ مُؤْمِنٌ دُوْنَ مُومِنٍ

څوک یو د ایمان خاوندبه بل لره پریخودلو سره دچاسره جنګ یا صلحې معامله به نه کوی.

اِلَّا عَلٰى سَوَاءٍ وَعَمَلُ بَيْنِهِمْ

سیوا ددې نه چه دټولو دپاره به یو شان نظام وی او په عدل سره به د ټولو دپاره یوشان نظام اختیار کولې شی.

یهودیان چه کله په دې چارټر کښې د غزوه بدر نه پس شامل شول نو هغوی دپاره روستو د شلیرویشت نورو دفعاتو اضافه اوکړې شوه. په هغې کښې په اوله دفعه کښې دی.

وَاِنَّ يَهُوْدَ بَنِى عَوفٍ امه مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ

د بنی عوف یهودیان به د مسلمانانو سره سره یو جدا امت وی.

لِلْيَهُوْدِ دِيْنُهُمْ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ دِيْنُهُمْ

دیهودیانو به خپل دین وی او د مسلمانانو به خپل دین وی. دواړه به دجنګ په دوران کښې خپل خپل اخراجات برداشت کوی.

دا میثاق چه په دویمه هجرئ کښې جاری شو. په انسانی تاریخ کښې اولنې تحریر او مدون دستور دې.د حجاز او عربو په تاریخ کښې هم په اول ځل داسې دستاویز مرتب شو. د صحابه کرامو سره ددې دستاویز نقلونه به موجود وو. د صحابو به خاندانونو کښې ددې نقلونو په ډېر اهتمام سره حفاظت کیدلو.امام بیهقی یوځاې لیکلې دی چه دحضرت عمرفاروق په خاندان کښې یو صاحب سره ما ددې نقل لیدلې دې. د امام بیهقی وفات په ۴۵۸ھ کښې شوې وو. ددې نه پس پته لګی چه ترد۴۵۸ھ پورې ددې نقلونه د صحابه رضی اللّٰه عنهم اجمعین په خاندانونو کښې موجود وو.

غرض داچه په مدینه منوره کښې په اول ځل داسې اوشول چه په ټولو بلکه په خپل مینځ کښې متحارب او د مختلف قبائلو په بنیاد باندې یو ریاستی نظم ونسق قائم کړې شو،ددې سربراهی په اتفاقِ رائے سره رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم سنبهال کړه او دهغه اوږد جنګ او ابتلاء روایت ختم شو چه د مدینې منورې د مختلفو قبیلو په مینځ کښې جاری وو.

ددې میثاق او معاهدې په نتیجه کښې د مسلمانانو دا اولنې اسلامی ریاست اومملکت په مدینه منوره کښې قائم شو. چه په مزه مزه د صحابه کرام رضی اللّٰه عنهم اجمعین ،بنو امیه، بنو عباس په دور کښې د لکهونو مربع میلونو پورې ئې د یو عظیم خلافت شکل اختیار کړو(الحمدللّٰه علی ذالك)،خو افسوس چه څو صدئ مخکښې د خلافت مغلیه او خلافت عثمانیه په زوال باندې عارضی وخت دپاره ختم شو دکومې سزا چه ټول مسلمانان د عالم ننه پورې خوری.

# د ریاستِ مدینه نظم و نسق

د مدینې د ریاست په حوالې سره نبی صلی الله علیه وسلم نظم ونسق دپاره څه څه اقدامات اوکړل او ددې څه نتیجه راوتله. په دې سلسله کښې اوله خبره ذهن نشین کول پکارده چه په مدینه کښې مخکښې نه څه حکومت نه وو، بلکه رسول الله صلی الله علیه وسلم قائم کړو او نه دا څیز نبی علیه السلام ته په وراثت کښې ملاؤ شوې وو.نه هلته څه باضابطه حکومت وو،نه فوج،نه خزانه، نه څه بل څیز،بلکه نبی علیه السلام د حکومت ابتداء اوکړه او د صفر نقطې نه ئې عروج ته اورسول.

بهرحال په نبوی دور کښې د مدینې ریاست یو کثیر القبائل، کثیرالمذهبی او کثیرالثقافتی حکومت وو په کوم کښې چه بالادستی شریعت ته حاصل وه. آخر قانون د الله او دهغه د رسول فرمان وو. حضورصلی الله علیه وسلم لره په دې کښې په طور دحاکم اعلی تسلیم کړې شو. ټولو فریقو ته داخلی خودمختاری هم ورکړې شوه او دسابقه روایاتو ښه څیزونو ته په دې کښې ځاې ورکړې شو. د اسلام یو مزاج چه د مدینې منورې په دور کښې ډیر ښکاره شو او د نورو قومونو او نورو تمدنونو او تهذیبونو مثبت او تعمیری څیزونو لره خپلولو او خپل نظام کښې دځاې ورکولو دی.

د مسنداحمد په روایت کښې دی نبی علیه السلام اوفرمائیل چه :

یُعْمَلُ فِی الِاسلَامِ بِفَضَائِلِ الجَاهِلِیَّةِ،

چه په اسلام کښې به د جاهلیت د زمانې په ټولو فضیلتونو او ښه خبرو باندې عمل کولې شی.

په دې وجه دکوم قوم،دکومې علاقې يا په کومه زمانه کښې چه کوم هم ښه څيزونه مروج دی نو هغې لره په اسلامی نظام کښې اختيارولو سره قبلولې شی او څه ښه خبرې لره به په دې بنياد باندې مسترد کولې نه شی چه هغه د څه غير اسلامی پس منظر نه راغلې ده.

**د نقباؤ تقرری:**

يو ځل په مدينه منوره کښې باقاعده د نظم ونسق قائمولو نه پس رسول الله صلی الله عليه وسلم د مختلف قبائلو د نقباؤ د تقرری کار لره مکمل کړو. ددې دستاويز يا دستور نه پس کله چه د مدينې منورې د داخلی نظم ونسق د کار نه لږ فرصت ملاؤ شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د خواؤشاء په قبائلو باندې توجه ورکړه او دهغوی سره ئې دوستانه تعلق قائم کولو دپاره د رابطو آغاز اوفرمائيلو.ددې غرض دپاره مختلف قبائلو کښې ډير مهمات هم اوليږلې شول. په اول ځل چه کومه دسته اوليږلې شوه. هغه حضورصلی الله عليه وسلم دخپل تره محترم حضرت حمزه رضی الله عنه بن عبدالمطلب په مشرئ کښې د مدينې منورې جنوب طرف ته بنی ضمره قبيلې ته اوليږله. هلته دهغوی دخبرو اترو او مهمات په نتيجه کښې يوې معاهدې ته ترتيب ورکړې شو چه نن هم موجوده ده. د عهدنبوی د وثائق په مجموعو کښې ملاويږی.دغه شان دمنورې منورې شمال کښې قبيله جهينه ته يو دسته اوليږلې شوه. هغوی سره هم د دوستئ معاهده اوشوه او هغوی هم په دې بندوبست کښې شامل شول. تاسو وئيلې شئ چه يو خو د مدينې بنيادی رياست وو چه کومه معاهده په شرکاؤ باندې مشتمله وی. بيا دمدينې منورې هغه آطام او کلی وو چه په معاهده کښې شريک نه وو، خو عملاً هغوی

دې معاهدې لره تسليم کړه.ددې نه پس يوه دائره تاسو وئيلې شې چه حضورصلی الله عليه وسلم د مدينې منورې څلور واړه طرفونو ته يو حلقه اثر په صورت کښې قائم کړو. په دې دائره کښې د مدينې څلور واړه طرفونو ته د او سيدونکو دشمنيانې ختمول او هغوی د اسلام په حق کښې مائل کول او دمسلمانانو سره د دوستۍ کولو دپاره آماده کول مقصود وو. نو دټولو نه مخکښې په جنوب کښې دهغه قبائلو سره رابطه اوشوه چه دمکې په لاره کښې وو،بنوضمره سره،بنوجهينه سره معاهده اوکړې شوه. بيا مزينه قبيله چه ډيره لويه قبيله وه او دمدينې منورې مغرب طرف کښې آباد وو هغوی سره معاهده اوکړې شوه دا ټول معاهدات د هجرت په ابتدائی ورځو کښې او ډيرې په کاميابۍ سره اوشوې. دې دوستانه معاهداتو سره د مدينې دفاع لره منظّم کولو او مسلمانانو ته د امن وسکون فراهم کولو کښې لوې مدد ملاؤ شو.

**مردم شماری**:

مدينې منورې ته تشريف اوړلو نه سمدست پس نبی صلی الله عليه وسلم مردم شماری هم اوکړه. د صحيح مسلم روايت دې. هغوی اوفرمائيل:

أُكْتُبُوْلِي مَنْ تَلَفَّظَ بِالإِسْلاَمِ

ما دپاره دهغه خلقو يو فهرست تيارکړئ کوم چه مسلمانان شوې دی. ګويا دمسلمانانو اوسيدونکو اوله مردم شماری دهجرت نه پس اوشوه.ددې دتاريخ په باره کښې په سيرت نګارو کښې اختلاف دې چه دا واقعه کله راپيښه شوه. د بعضې سيرت نګارو خيال دې چه دا واقعه دوه ځله پيښه شوې ده. يو ځل مدينې منورې ته د تشريف اوړلو

نه سمدست پس او په دويم ځل څه موده پس راپيښه شوه. ممکن ده دا واقعه څو ځله راپيښه شوې وی، خو مدينې منورې ته د راتلو نه پس رسول الله صلی الله عليه وسلم مردم شماری اوکړه.او د صحابه کرامو د نومونو مبارکو په اول ځل ريکارډ مرتب کړې شو.

**امن و امان**:

په مدينه منوره کښ دټولو نه اول انتظامی معامله چه د حضور مخې ته وه هغه د امن وامان مسئله وه چه ددې قسماقسم قبائلو په موجودګئ کښ،چه په هغوی کښې لګ بهګ نيم دشمنان قبائل وو،په شروع کښ دغيرمسلمو اکثريت وو، په دې ټولو کښ امن وامان څنګه قائم کړې شی. خاص طور د بهر نه راتلونکی مسلمانانو ته سيکيورټی څنګه فراهم کړې شی. په مدينه منوره کښ د جرائم واقعات مخکښ ډير زيات به کيدل. دحضورصلی الله عليه وسلم د راتلو نه پس په جرائمو کښ ډير کمې راغلو،خو بيا به هم دقتل،غلا،بدکارئ،شراب خورئ او ډاکې او اغواء وغيره واقعات ښکاره کيدل. يو يو کولو سره رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې واقعاتو مخ نيوې اوکړو. د شپې په مدينه منوره کښ د پهرې انتظام هم ئې اوکړو. د بعضې افسرانو مقررتيا ئې هم اوکړه کوم ته چه مونږ د پوليس افسران وئيلې شو.

ټول سيرت نګارو ليکلې دی چه حضرت محمدبن مسلمه انصاری،چه يو ښکاره انصاری سردار وو، هغه لره رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدينې د امن و امان ذمه دار مقرر کړې وو. دغه شان هغه ته مونږ د مدينې اول پوليس افسر وئيلې شو. دهغه مقرر کړې کارندې به وې چه د ښار په مختلف علاقو او نزدې کلو ته به تلل او

دامن وامان فريضه به ئې ادا کوله.خاص طور باندې په هغه علاقو کښې د امن وامان فريضه به ئې ادا کوله چرته چه به دمسلمانانو آبادئ زياتې وې ځنګه چه به دمسلمانانو آبادئ زياتيدې،په امن وامان کښې به اضافه کيده. دغيرمسلمو آبادئ چه به څومره کميدې خاص طور باندې درې لوې يهودی قبائلو لره ويستلو نه پس په جرائمو کښې ډير کمې راغلو. د جرائمو او دغه د واقعاتو ډير مثالونه دهجرت په ابتدائی کالونو کښې دی. روستو دغه شان مثالونه نسبتًا ډيرکم دی.

**ټاؤن پلاننګ**:

ددې سره نبی عليه السلام د مدينې منورې په مقامی نظم ونسق باندې هم توجه ورکړه. د ټاؤن پلاننګ په باره کښې ئې بعضې هدايات ورکړل. د مدينې منورې آبادی په تيزئ سره زياتيده. په تعميراتو کښې اضافه کيده.دمکې مکرمې نه راتلونکو ډير حضراتو هلته زمکې واخستلې او خپل کورونه ئې جوړکړل. واړه کورونه هم جوړ شول، غټ کورونه هم جوړ کړې شو او په بعضې صورتونو کښې دا هم صورت راپيښ شو چه د کورونو نقشې داسې جوړې شی چه دمدينې منورې د آبادئ دپاره د څه مشکل ذريعه نه وی. دارنګه کوڅې ځنګه جوړې کړې شی او د کورونو په مينځ کښې فاصله څومره اوساتلې شی،ددې په باره رسول الله صلى الله عليه وسلم هدايات جاری کړل. په مدينه کښې څه نوې سړک نه وو، بلکه يو قسمه پخپله لاره جوړه شوې وه چه په هغې باندې به خلق تيريدل. د سړک جوړولو،دمرمت کولو ضرورت نه وو،البته په دې سلسله کښې دحضورصلى الله عليه وسلم ارشادات ملاويږی.

یو سیرت نګار لیکلي دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي وو چه په کوڅه کښې کم نه کم اووه لاسه فاصله کیدل پکار ده.په کوڅه کښې د یو طرف کور او بل طرف کور په مینځ کښې فاصله د لاس په اوږدوالی سره به ناپ کولې شوه. کچرې یو لاس یو نیم فټ اوږد وی نو اووه لاس نه مراد دادې چه لس نیم فټو ته نزدې د کوڅې پلن والې پکار دې.ښکاره خبره ده چه په هغه زمانه کښې ګاډی نه چلیدل. ټانګې هم نه وې خلق به په سورلو باندې سوریدل سفر به ئې کولو. په دې وجه په دومره فاصله کښې د دوه سورلو په آسانئ سره تیریدل ممکن دی. کچرې ددې نه سبق ملاویږی نو هغه دادې چه په کوڅو او سړکونو کښې دومره فاصله کیدل پکاردی چه مخامخ دوه ګاډی په یو وخت تیریدې شی. ددې نه معلومه شوه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قانون سازی صرف ددین دپاره نه وه بلکه ددنیاوی امورو دپاره هم هغوی به قانون سازی کوله. یعنی نبی صلی الله علیه وسلم په کارونوکښې عربینزم هم شامل وو.

**تعمیرات:**

د مهاجرینو د راتلو سلسله د فتح مکې پورې جاری وه. دهغوی آبادکاری به کیدله. ددې مقصد دپاره د کورونو جوړلو ضرورت هم به پیش کیدو.همدا هغه زمانه وه کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوې لوې او عالیشان عمارتونو د تعمیر حوصله شکنی اوفرمائیله. بعضې صحابه چه د لویو مالدارو خلقو نه وو. هغوی دځان دپاره د لږ لوې کور جوړولو خواهش ظاهر کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دې لره ناخوښه کړو. نو حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه، چه

په رشته کښې د حضورصلی الله علیه وسلم ماما کیدو،د مکې مکرمې د مالدار خلقو نه وو. هغوی یو لوې کور جوړول اوغوښتل نو حضور صلی الله علیه وسلم ناخوښه کړو. کله چه هغه ته د حضور صلی الله علیه وسلم د ناخوښۍ اطلاع ملاؤشوه نو هغوی د کور هغه حصه اوغورزوله چه هغې ته کتو سره حضورصلی الله علیه وسلم د ناخوښۍ اظهار فرمائیلې وو. دا په دې وجه سره وه چه په ښارکښې آبادی په تیزۍ سره خوریده. ډیر خلق چه ښار ته راتلو سره آباد شوې وو ضروری مالی وسائل نه لرل. دهغوی سره دومره امکانات نه وو چه غټ غټ کورونه تعمیر کړې شی. په دې وجه که په دې حالاتو کښې د لویو لویو عمارتونو جوړولو اجازت ورکولې کیدو نو خپل مینځ کښې د مسابقت پیدا کیدو امکان وو چه دولت او اهل ثروت خلق به لوې لوې کورونه جوړول شروع کړی او په مدینه منوره کښې به دځاې کمې شی او داسې به ددې په وجه سره د نوې راتلونکو دپاره د کورونو جوړول مشکل شی. د فراخه او آرام ده کور نبی علیه السلام تعریف اوکړو او یو حدیث کښې دیو کور د ضروریاتو نشاندهی ئې هم اوفرمائیله چه په کور کښې د سړی د خپل اوسیدو دپاره کمره کیدل پکار دی، د هغه د بچو دپاره کمره، دمیلمنو دپاره کمره،د نوکرانواو خادمانو دپاره کمره، ددې نه علاوه که غیر ضروری کمرې جوړې کړې شی نو هغې لره ئې خوښ کړې نه دی. ددې نه اندازه اوشوه چه سخت ضروریات دهغې بندوبست په کور کښې کیدل پکاردی. ددې نه علاوه غیر ضروری طور باندې لوې لوې کورونه جوړول او دشان اوشوکت اظهار کول په اسلام کښې خوښ نه دی.

**سيکټريټ** :

د مدينې د نظم ونسق په حوالې سره يو اهم اقدام د سيکټريټ انتظام وو،يعنی يو څو افسران وی چه د هغوی په ذمه د ليکلو لوستلو او اندراج کولو او ريکارډ کار وی. مسعودی ليکلې دی چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د کاتبانو مختلف کارونه وو. بعض افرادو به وحی ليکله، بعضې د زکوة اندراجاتو دپاره مقرر وو چه څومره رقم وصول شو، څومره خرچ شو،چرته خرچ شو او چا وصول کړو.

د مالِ غنيمت طريقه کار د جاهليت په طريقه باندې نه وو ايخودلې شوې چه کوم سپاهی څه وصول کړل هغه دهغه دې، بلکه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه ټول وصول شوې غنيمت به يو ځاې ته راجمع کولو سره ټولو سپاهيانو ته برابر حصه ورکړې شی.نو ددې اندراج او تقسيم دپاره هم خصوصی کاتب وو.دغه شان دهر شعبې دپاره تقريبًا جدا جدا کاتب به وو. دغه شان يو کاتب په دې باندې مقرر وو چه کوم سپاهی به دجهاد دپاره هر وخت تيار وی او هر وخت رياست هغه راغواړی نو هغه به حاضريږی نو د هغه نوم او تنخواه وغيره ريکارډ به ئې ساتلو.

**وزارت**:

په رياست مدينه کښ به وزيران هم وو. ښکاره خبره ده چه د نن صبا په شان وزراتونه به نه وو چه ځان ځانله وزرات او عمله وی او نه دومره وزراتونه او دفترونه وو چه نن صبا مونږ په شلمه صدئ کښ خواؤ شاء ليدلې شی،ځکه چه رياست ابتدائی وو او شعبه جات کم وو، مثلاً نوې سړکونه جوړول،مرمت کولو کار هلته نه وو نو

ښکاره ده چه دهغې دپاره وزراتونه هم نه وو،نه ناظم نه انجينئر البته په دې سلسله کښې هدايات نبی صلی الله عليه وسلم ورکړې وو، البته په مختلفو معاملاتو باندې مشوره اخستو دپاره او په ذمه دارو کښې مددکولو دپاره بعض صحابه کرام متعين وو. تقريبًا ټولو سيرت نګارو ليکلې دی چه سيدنا ابوبکر رضی الله عنه حيثيت د وزير اول په شان وو. امام حاکم په خپل کتاب مستدرک کښې د سعيدبن مسيب نه روايت کړې دې چه :

كَانَ اَبُوبَكْرٍ مِنَ النَّبِيِ صلی الله عليه وسلم مَكَانَ الوَزِيرِ،

چه د حضرت ابوبکر درجه د حضور په بارګاه کښې د وزير وو.

فَكَانَ يُشَاوِرُهُ فِي جَمِيعِ اُمُورِهِ

په هرمعامله کښې به ئې دهغه سره مشوره کوله.

وَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ الله صلی الله عليه وسلم يُقَدِّمُ عَلَيهِ اَحَدًا،

اوچاته به ئې هم په هغه باندې ترجيح نه ورکوله.دغه شان د اهم کارونو دپاره هم وزراء موجود وو.

يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه الله تعالی ښه حاکم ته ښه وزير ورکوی او بد حاکم ته بد وزير ورکوی. کله چه يو حاکم د ښه کار اراده کوی نو الله تعالی ښه خلقو لره د هغه په ټيم کښې شامل کوی اوکله چه دبد کار اراده کوی نو بد خلقو لره د هغه وزرات کښې شامل کوی.

# د رياست مدينه تعليمی نظام

## د اسلام په نظر کښې دتعلَيم اهميت:

نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته نبوت ملاویدو سره په غارحرا کښې اوله وحی د اقراء نه شروع شوه او اوله وحی کښې دعلم ذریعه قلم اوخودلو. اَلَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ۔مطلب دا شو چه د انسانی تمدن او تهذیب او دهغې ترقی،تعلیم،قلم او لیکلو سره ده. یو علم او معلومات دحیواناتو دې او بل علم او معلومات د انسانانو دې. دحیواناتو علم نه زیاتیږی، هرکله چه دانسانانو علم زیاتیږی،ترقی کوی، ځکه چه یو خو هغوی ته دخپل پلار نیکه او مشرانو علم وتجربه او معلوماتو منتقل کیږی او دویمه د ده خپله تجربه او سوسائټی،ماحول او د نورو معلوماتو، تجرباتو اوعلم نه هم استفاده کوی. په دې وجه قرآن پاک کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خطاب کولو سره الله تعالی فرمائی: قُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا الله تعالی نه د خپل علم داضافې دپاره داسې دعا کوئ چه اې زما ربه! زما په علم کښې اضافه اوکړې. په دې بناء باندې اسلام د اِقْرَاْ او عَلَّمَ بِالْقَلَمِ نه د وحی شروعات کړې دې،ځکه چه هم دا علم د انسانی سماج،تمدن او تهذیب د ترقئ ذریعه ده. دعلم ددې اهمیت سره سره اسلام په تعلیم او علم باندې څه پهرې (څوکې) او حدود هم مقرر کړی دی. د اسلام په نزد هغه تعلیم او علم مفید او مطلوب دې دکوم په ذریعه سره چه د الله تعالی سره تعلق پیدا شی،چه ددنیا او آخرت دپاره مفید او کارآمد ثابت وی او دمخلوق خدا د خدمت او خیرخواهئ ذریعه جوړه شی.د اسلام پیش نظر داسې تعلیم او علم مطلوب نه دې، بلکه مبغوض او ملعون دې چه د الله تعالی نه د لری والی،انکار و

الحاد سبب جوړيږي او کوم چه د مخلوق خدا د خيرخواه جوړيدو په ځاي انسان خور او آدم خور جوړشي.
څنکه چه علامه اقبال وئيلي دي: ؎

اور یہ اہل کلیسا کا نظامِ تعلیم ایک سازش ہے فقط دین و مروت کے خلاف

**تعليم په ذريعه د خط وکتابت:**

بهرحال په عهدی نبوی صلی الله عليه وسلم کښ د نظام تعليم بندوبست موجود وو، په دې حوالې سره د عربو صورت حال څه داسې بيانولې شی چه په مکه کښ د ليکلو لوستلو والا رواج د سر نه نه وو، په دې وجه سره نبی صلی الله عليه وسلم ته هم اُمی به وئيلې کيدو. دلته د ليکلو لوستلو رواج د ابو سفيان رضی الله عنه پلار حرب نه شروع شو. عراق هيره نه يو سړې مکې ته راغلو هغه دحرب لور سره واده اوکړو هغه د شکر ګزارئ په طور حرب ته اووئيل چه د خپلو معاملاتو د څيزونو هيريدو په وجه سره هغه ليکه.او هغه حرب ته ليکل لوستل اوخودل. ګويا دخط وکتابت رواج د عهدنبوی صلی الله عليه وسلم نه څه موده مخکښ شروع شو. ددې نتيجه دا وه چه هغې لا زياته ترقی هم نه وه کړې. هيره نه راتلونکی سړی چه کوم خط خودلې وو هغه يقيناً دخپلې علاقی او رواج مطابق وو،په کوم کښ څليرويشت حروف وو او په عربئ کښ اته ويشت حروف دی. په هغې کښ خو په هم شکل حروفو کښ امتياز کول هم مشکل امر وو لکه ت،ب،ی،ن، کله چه دا واړه وی نو هم شکل کيږی په دې حروفو کښ فرق په نقطو سره ممکن وه. لهذا ددې نقطو رواج دنبی کريم صلی الله عليه وسلم نه شروع شو. خطيب بغدادی يو روايت نقل کړې دې چه دا کار نبی کريم صلی الله

عليه وسلم ادا کړو لهذا سيدنا معاويه رضی الله عنه خپل سيکرټری کاتب غشّان ته املاء کولو په وخت اوفرمائيل چه دې لره رقش کړه. نو کاتب تپوس اوکړو اې اميرالمؤمنين رقش څه څيز دې. نو اميرمعاويه رضی الله عنه مُسکې کيدو سره اوفرمائيل چه يو ځل ما په مدينه کښې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم د کاتب په حيثيت سره ليکل کول نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل ليکه او رقش ئې کړه. ما تپوس اوکړو يارسول الله صلی الله عليه وسلم رقش څه څيز دې نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل په حرف باندې چه چرته ضرورت وی نو نقطې لګوه. ددې نه معلومه شوه چه په حرفونو باندې نقطې دا روستو څيز نه دې، بلکه د حضور صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې موندلې شی.

ډاکټر حميدالله صاحب د تحقيق مطابق په مصر کښې په جهيلونو باندې ليکلې شوې څيزونه دريافت شو په کوم چه هغه دوه خطونه هم اوموندلې شول چه د سن ۲۲ هجرئ يعنی سيدنا عمرفاروق رضی الله عنه د زمانې دی په هغې هم نقطې موندلې شی.لهذا نبی کريم صلی الله عليه وسلم او عمرفاروق رضی الله عنه او امير معاويه رضی الله عنه په زمانه کښې د نقطو څه نه څه رواج دې هغې ته حجاج بن يوسف او د روستو د زمانې وئيل صحيح نه معلوميږی. دغه شان دا هم وئيلې شی چه په دنياکښې په اوله عربئ کښې ليکلې شوې کتاب قرآن مجيد دې ددې نه مخکښې دعربئ ژبې څه کتاب نه وو،البته څو څيزونه ملاويږی لکه سبعه معلقات چه خانه کعبه کښې به د اعزاز و اکرام په طور باندې زوړندولې شوه دغه شان معاهدات به هم ليکلې کيدل.

په الفهرست کښې ابن نديم ليکلي دي چه دخليفه مامون په خزانه کښې يو مخطوطه (دکاغذ پرچه) چه په هغې باندې د دهبې دخط څه عبارت وو هغه ليکلي دی چه هغه دښځو د خط په شان وو او دا دعبدالمطلب خط وو، خو بياهم په عربئ کښې دقرآن شريف نه مخکښې دمستقل کتاب نوم ونشان پورې نه ملاويږی.بهرحال ددې ځيزونو نه معلوميږی چه په هغه زمانه کښې دخط وکتاب آغاز شوې وو البته لا زياته ترقی نه وه شوې. بهرحال د خط د تعليم طرف ته دنبی کريم صلی الله عليه وسلم به هميشه توجه وه. دغه شان نبی صلی الله عليه وسلم په مکه کښې دار ارقم لره د درسګاه او تربيت ګاه په طور باندې هم استعمال کړې دې. په مدينه منوره کښې دهجرت کولو نه پس دتعليم بندوبست او نظام نور هم وسيع او منظّم شو.

## درس ګاهونه اود تعليم نګرانی:

په مدينه منوره کښې په شروع کښې نهه مساجد او روستو بيا خلويښت مساجد قائم کړې شوې وو. په دې کښې په اکثر مساجدو کښې د درس وتدريس انتظام هم وو. حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه ددې پوره درس نظامی مشر وو. که اوئيلې شی چه هغه ددې رياست اول وزير تعليم وو نو شايد چه صحيح به وی. هغه به ټولو مساجدو ته په خپله تشريف اوړلو. چرته چرته چه به دقرآن پاک تعليم کيدو،دهغې نګرانی به ئې فرمائيله. نبی صلی الله عليه وسلم دمسجد نبوی دتعمير نه څه موده پس په مسجدکښې يوه مخصوصه حصه د تعليم دپاره مختص کړې شوه کوم ته چه صفه وائی. په صفه کښې چه کوم صحابه زيرتعليم وو،دهغې نګرانی به هم رسول الله صلی

الله علیه وسلم پخپله براه راست فرمائیله،ددې سره سره په دوی باندې یو صحابی عبادة بن صامت رضی الله عنه نګران هم مقرر وو.صفه په مسجد نبوی کښ یوه حصه وه چرته چه صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین په لوې تعداد کښ مقیم وو. د بهر نه راتلونکی صحابه کرام به اکثر په صفه کښ پاتې کیدل چرته چه دهغوی دتعلیم او تربیت اهتمام به کیدلو. دا صحابه کرام هغه دی چه روستو لوې لوې فاتحین او سردار جوړ شو. فاتح شام حضرت عبیده بن الجراح هم په صفه کښ مقیم وو. حضرت عبدالله بن عمرجلیل القدر صحابی هم یوه زمانه کښ په صفه کښ مقیم وو. مشهور راوی حدیث حضرت ابوهریره رضی الله عنه هم په صفه کښ مقیم وو. ددې نه اندازه کیږی چه په صفه کښ ملاویدونکی تربیت د کوم انداز وو.

په مدینه منوره کښ د لیکلو لوستلو رواج دمخکښ نه وو. سویدبن صامت رضی الله عنه چه د حضرت لقمان حکیم د حکمت نامې نه واقف وو او هغه به ئې لوستله هم. په مدینه منور کښ ډیر صحابه وو، چه لیکل لوستل ئې پیژندل. په هغوی کښ څه حضرات داسې وو چه کامل ورته وئیلې کیدل. د لیکلو لوستلو بندوبست او د تعلیم نشرواشاعت د هجرت نه سمدست پس شروع شو. دې خبره باندې مونږ ټول پوهیږو چه د مکې په کفارو کښ چه کوم قیدیان په جنګ بدرکښ په لاس راغلې وو په هغوی ډیرو د مدینې لس لس ماشومانو ته لیکل لوستل زده کړل. دا دهغوی فدیه وه چه دهغې په بدله کښ هغوی آزاد کړې شو.

كومو حضراتو چه به په مدينه منوره كښې د درس وتدريس فريضه ادا كوله په هغوى يو ښكاره نوم د حضرت معاذبن جبل رضى الله عنه هم دې ښنګه ښنګه نورې علاقې فتح شوې،رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته د تعليم دپاره خلقو لره ليږل. عمرو بن حزم رضى الله عنه لره ئې د اوولس كالو په عمر كښې يمن ته ليږلې وو. دهغه په باره كښې روايت دې چه :

لِيُفَقِّهُهُمْ فِي الدِّينِ وَيُعَلِّمُهُمُ القُرآنَ

دې دپاره چه هغوى ته د دين پوهه اوښائى او د قرآن پاک تعليم وركړى.معاذبن جبل رضى الله عنه لره د فتح مكې نه پس د څو ورځو دپاره په مكه كښې پريښودلې شوې وو دې دپاره چه خلقو ته ددين تعليم وركړى. حضورصلى الله عليه وسلم حضرت مصعب بن عميررضى الله عنه لره د هجرت نه مخكښې مدينې منورې ته ئې ليږلې وو. د تعليم قرآن ګشتى معلّمين حضور صلى الله عليه وسلم په مكه كښې هم مقرر كړل او مدينه كښې هم. د مدينې چه كوم حضراتو لره دتعليم قرآن دپاره د عربو مختلفو قبائلو او علاقو ته ليږلې شوې وو دهغوى فهرست ډير اوږد دې. د مدينې منور په مسجدونو او تعليمى مركزونو كښې چه كومو صحابه كرام به تعليم وركولو په هغوى كښې حضرت زيد بن ثابت رضى الله عنه،ابن بن كعب رضى الله،حضرت ابودرداء رضى الله عنه،اسيدبن حضيررضى الله عنه،خالدبن سعيدبن العاص رضى الله عنه،حضرت ابوعبيده رضى الله عنه،عمروبن حزم رضى الله عنه،او معاذبن جبل رضى الله عنه نوم ډير ښكاره دې. حضرت عبدالله بن سعيدبن العاص رضى الله عنه چه يو مهاجر صحابى وو په مسجدنبوى كښې به ئې كتابت خودلو.

حافظ ابن عبدالبر د هغوی په باره کښې ليکلې دی:

وَكَانَ كَاتِباً مُحْسِنًا

هغه ډير ښه کاتب وو. هغه به ماشومانو ته کتابت خودلو. حضرت عباده بن صامت رضی الله هم د خويش نويسئ استاذ وو او خويش نويسی به ئې خودله. حضورصلی الله عليه وسلم د غيرمسلمو نه فنی او تجرباتی علومو حاصلولو کښې څه قباحت نه ګڼړلو. نو حضرت زيدبن ثابت لره د يهوديانو د ژبې زده کولو دپاره د يهوديانو مدارسو ته اوليږلو. په منجنيق کښې دمهارت حاصلولو دپاره ئې صحابه کرام يمن ته اوليږل. په مدينه منوره کښې د دارالقراء په نوم باندې يو لوې کور وو چرته چه به په لوې تعداد کښې د قرآن پاک تعليم وتربيت کيدلو. هلته به په لوې تعداد کښې طلبه او اساتذه پاتې کيدل. حضرت معصب بن عميرپه باره کښې راځی چه کله مدينې ته راغلو نو په هغه کور کښې پاتې شو کوم ته چه روستو دارالقراء به وئيل کيدو. حضرت عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه هم په هغه کور کښې پاتې شو.

**نصاب تعليم**:

قرآن پاک،دين او فقهې سره سره به چه دکومو نورو څيزونو تعليم ورکولې کيدلو دهغې فهرست الترتيب الاداريه کښې بيان کړې شوې دې . په هغې کښې داڅيزونه شامل دی،فلکيات،تيراندازی، لامبو وهل،عربی ژبه او ادب،طب، قيافه، دجنګ طريقه،تجارت،ترجمه او مختلف ژبې.

ډاکټر محمدحميدالله صاحب د نصاب تعليم متعلق چه کوم د هغه رائے او استنباط دې فرمائی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم

چونکه دمختلفو علومو او فنونو د اهميت نه واقف وو او غوښتل ئې چه مسلمانان دې لره زده کړې، د هغې دپاره جدا جدا درسی کتابونو په ځاې هم يو درسی کتاب ئې خوښ کړو او وې غوښتل چه يوکس دې يو کتاب لره هميشه لولی. خواه هغه د خپل فن متعلق لوستل خوښوی يا د نورو فنونو متعلق لوستل غواړی او هغه دې قرآن مجيد. قرآن مجيد که انسان باربار لولی نو په دې کښ به دخپل فن څيزونه هم اولولی او ضمنًا د نورو فنونو څيزونو لره به هم سرسری نظر سره اولولی او په دې به دپوهيدو کوشش کوی اوکله نه کله به د ضرورت په وخت دا نور فنون به هم دده په کار راشی. نو که په دې نظر سره مونږ په قرآن باندې نظر واچوو نو مونږ ته به د بيشماره علومو او فنونو ذکر په نظر راشی. په دې کښ صرف دينی څيزوننه عقائد،عبادات،اخلاق وغيره ذکر نه دې بلکه په دې کښ به مونږ ته نور علوم هم په نظر راشی په دې کښ دتاريخ ذکر دې،په دې کښ دهغه علومو هم ذکر دې کوم ته چه مونږ " اکزکټ سائنس" وايو هم تذکره ده مثلاً په قرآن کښ د باټنی ذکر مونږ ته په کثرت سره په نظر راځی، د مناظر قدرت ډيره تذکره ده،دغه شان د اسټرانمی هم ذکر راځی په دې کښ دجينيالوجی او امبرايالوجی يعنی نطفې نه واخله تر د بچې پيدائش پورې او د بچی د پرورش موندلو ذکر هم ملاويږی او ډير تفصيل سره، چه دهغې اثر نن پورې دې.

د پيرس يو سرجن ډاکټر موريس بوکائے کتاب ليکلې دې" بائبل قرآن او سائنس" په دې کتاب کښ ئې ليکلی دی چه علم الجنين په باره کښ چه کوم تفصيلات په قرآن کښ دی ددې علم نه د يونان مشهور قديم طبيبانو ته شته لکه ارسطو،افلاطون وغيره او نه د يورپ

ډاکټرانو ته حال حال پورې ددې تفصيلات معلوم وو،خو د نن نه څوارلس سوه کاله مخکښې يو اُمی صحرا نشين ددې ذکر کوی نو يقينًا دا د انسان کلام نه دې، بلکه د الله پاک کلام کيدې شی چه دهغه علم غير تغيرپذير دې او جديد ترين سائنس هم دامبريالوجی متعلق ددې نه زيات څه څيز نه ښائی، بلکه دې قرآن لره توثيق کوی او ددې وجه هغه ډاکټر مسلمان هم شو دغه شان په قرآن کښې جيالوجی،حيوانات،نباتات وغيره بې شماره علوم وفنونو بيان موجود دې،په قرآن کښې د جهاز رانئ او طوفانونو هم بيان دې زما دګمان متعلق نبی صلی الله عليه وسلم دا غوښتل چه هر مسلمان ته د بنيادی او لازمی علم سره څه معلومات داسې هم حاصلول پکاردی چه کله کله په کار راشی ددې دپاره نبی عليه السلام دقرآن انتخاب اوکړو چه دې هميشه لولې. دغه شان په عهدنبوی کښې دتعليم په سلسله کښې يو بل څيز دې طب او ډاکټری. حديث او د سيرت په کتابونو کښې دطبيبانوحالت او د جراحت کولو حالا تو په باره کښې معلومات ملاويږی. د حديث په کتابونوکښې باقاعده د طب النبی صلی الله عليه وسلم په عنوان سره مستقل فن موجود دې. په کوم کښې چه دبيمارو بيان او دهغې دعلاج معالجې تذکره موجود ده او نبی کريم صلی الله عليه وسلم باقاعده د جدا جدا بيمارو دپاره جدا جدا نسخې تجويز کولو سره خودلی دی. د هغه زمانې مطابق طب او ميډيکل شعبه هم دا وه.

په يو حديث کښې راځی چه يو صحابی بيمار شو رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغه دعيادت دپاره لاړلو. هلته تپوس کوی چه زمونږ په قبيله او محله کښې څوک طبيب دې. نو خلقو د دوۀ طبيبانو نومونه

اوخودل فلانې او فلانې. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه په دوی کښې کوم ماهر وی هغه راوغواړئ. ددې روایت نه معلومیږی چه خلقو لره پکار دی چه سپیشلائیزیش پیدا کړی او دماهر سپیشلسټ نه علاج اوکړی او په فن د ماهر کیدو ترغیب ئې هم ورکړې دې چه په خپل فن کښې مهارت حاصل کړئ.

په یو حدیث کښې راځی چه کوم سړی ته د علم طب نه واقفیت نه وی او هغه علاج کوی نو هغه ته دې سزا ورکړې شی،ځکه چه دهغه د اناړی فن نه بې قصوره یو بیمار سړې نقصان اوچتولې شی. ددې نه معلومه شوه چه په عهدنبوی کښې دعلم طب کافی اهمیت ګڼړلې شو او علاج به د مفرداتو په ذریعې سره کیدو او پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته بیشماره نسخې منسوب دی. خلق به راتلل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه به ئې تپوس کولو یارسول الله ماته فلانئ بیماری ده،نو نبی صلی الله علیه وسلم به خودل چه ته فلانې څیز اوخوره یا فلانې څیز اوڅکه. دغه شان د طب نبوی پوره نظام په احادیث باندې مشتمل کیدو سره جوړ شوې دې چه په هغې باندې څو کتابو موجود دی .

دغه شان یو اهم علم **Astronomy**فلکیات اوعلم هئیت دې چه دهغې تفصیل په قرآن کښې موجود دې او دې لره به ډیر اهم تصور کولې شو.قرآن په خپله خودلې دی چه ددې په ذریعې سره تاسوته به خپله لاره معلومه شی او ددې په ذریعې به تاسو خپل وختونه او دحج د زمانې تعین اوکړئ. دې علم ته هم کافی توجه کولې شوه او پخپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته هم ددې متعلق ډیر واقفیت وو،

ځکه چه په مدینه کښ اوله قبله بیت المقدس او بیا خانه کعبه مقررشوې وه نو دقبلې رخ بغیر د علم فلکیات نه څنګه ممکن کیده.ځکه چه په هغه زمانه کښ سفر به اکثر دشپې کیدلو او خلقو به دستورو په مدد سره خپل مطلوبه مقام ته اورسی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم چونکه د تجارت دپاره بصرې ته تشریف اوړلې وو او د بیت المقدس سره تیرشوې وو. لهذا رسول الله صلی الله علیه وسلم پوهیدو چه بیت المقدس طرف ته سفر کوؤنکی ته په کومه لاره تلل پکار دی. دغه شان نور حضرات هم د فلکیات او ستورو په مدد سره خپله قبله معلوموی.

دغه شان په حدیث کښ راځی چه خلقوته خپل نسبونه زده کول پکاردی،زما نوم زما دپلارنوم،زما دنیکه نوم وغیره. ددې علم انساب عملی فائده یوه داهم ده چه ددې معلوماتو په بناء باندې څوک خپل محرم ښځې سره نکاح اونکړی.دا علم صرف دتاریخی معلوماتو دپاره نه بلکه دغه شان نور امورو دپاره هم کارآمد کیدې شی.

دغه شان په قرآن پاک کښ د تقابل ادیان مطالعه هم موجوده ده او په قرآن کښ د ډیرو مذهبونو ذکر راغلې دې. لهذا د قرآن لوستونکو یو کار دا هم دې چه د اسلام نه علاوه د نورو مذهبونو په باره کښ خپل معلومات زیات کړی چه دتبلیغ په سلسله کښ د هغه دپاره کارآمد ثابت کیدې شی او نورو مذهبونو د خلقو د اعتراضاتو او سوالاتو جواب ورکولو په سلسله کښ هم دا معلومات کارآمد وی. د نورو مذهبونو نه واقفیت بعض وختونو کښ فائده مند وی. ډاکټرحمیدالله صاحب وائی چه یو ځل یو فرانسیسی نن په ما باندې د

تعدد ازواج (ګنړو بيبيانو) په حوالې سره اعتراض اوکړو. ما هغه ته جواب ورکړو چه که نور خلق دا اعتراض اوکړی نو ماته قبول دې،خو تانه ماته د اعتراض اميد نه وو او نه تاته دا حق شته، ځکه چه ستادپاره دخپل مذهب عيسائيت مطابق د نن حيثيت د خداې د ښځې په شان دې.نو ما ورته اووئيل چه ستاسو دعقيدې مطابق ستا د خاوند څو لاکهه ښځې دی او زمونږ په څلورو ښځو باندې تاته اعتراض دې. په دې جواب سره دهغه په زړه باندې دومره اثر اوشو چه دوه کاله د خط وکتابت نه پس هغه خپل مذهب پريخودلو مسلمان شو. بهرحال د تقابل اديان د مطالعې دا فائده ده.په دې وجه په قرآن کښې ددې علم هم کافی تفصيل دې. غرض داچه نبی کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې علوم وفنون زيات نه وو البته چه کوم موجود وو هغه د هغه زمانې دپاره کافی هم وو او ترقی پذير هم وو.

په مدينه منوره کښې حضورصلی الله عليه وسلم دخپلې زمانې مفتی او قاضی هم مقرر فرمائيلې وو. په هغه زمانه کښې د مفتی اوقاضی منصب هم يو وو. خلفائے اربعه،عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه،عبدالله بن مسعودرضی الله عنه،ابی بن کعب رضی الله عنه،معاذبن جبل رضی الله عنه،او عماربن ياسر رضی الله عنه دمدينې منورې مفتيان او قاضيان هم وو. په دوی کښې حضرت ابوهريره رضی الله عنه،ابودرداء رضی الله عنه،حذيفه بن اليمان رضی الله عنه،ابوموسی اشعری رضی الله عنه او سلمان فارسی رضی الله عنه اسمائے ګرامی هم ښکاره دی.

## وثيقه نويسي او ژبان داني:

د دستاويزاتو تذكره مونږ كړې ده چه حضورصلى الله عليه وسلم د دستاويزاتو شعبه قائم فرمائيلې وه،صحابه كرام ئې په دې باندې مقرركړل.دې ټولو حضراتو به بلامعاوضه كار كولو. يو صحابى حضرت عبدالله بن الارقم رضى الله عنه الزهرى د حضور صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې هم به كار كولو،دحضرت عمر رضى الله عنه او حضرت عثمان رضى الله عنه په زمانه كښې ئې هم كار كولواو تنخوا به نه اخستله. حضرت عثمان رضى الله عنه دهغه دټول كار اندازه لګولو سره يوه تخمينه اولګوله او هغه ته ئې ديرش زره درهم تنخواه او بقاجاتو سره وركول اوغوښتل خو هغه انكار اوكړو او وې وئيل چه :

اِنَّمَاعَمِلتُ لِلّٰهِ وَاِنَّمَا اَجْرِىَ عَلَى اللهِ

زه دا ټول كار دالله تعالى دپاره كوم او هم الله نه به ددې اجر اخلم.

د مدينې په رياست كښې يوه شعبه بله هم وه كوم ته چه شعبه د مراسلات او وثائق هم وئيلې شي. شعبه مراسلات او وثائق كار د رسول الله صلى الله عليه وسلم خط وكتابت او نورو سردارانو او حكمرانانو سره د مراسلت ريكارډ ساتل وو. په دې شعبه كښې دټولو نه ښه خدمات حضرت على بن ابى طالب او حضرت زيدبن ثابت رضى الله عنهما به ادا كول.

په دې شعبه كښې د عربۍ نه علاوه په عبرانۍ او سريانۍ ژبو كښې هم دستاويزات به تيارولې شو. عبرانى ژبه په هغه يهودو كښې چليدله چه په مدينه منوره كښې اوسيدل، او دخيبر يهوديانو كښې سريانى زبان چليدله، ځكه چه دهغوى علمى ژبه سريانى وه. د هلته نه

چه به کومه تحریر راتلو هغه به په سریانۍ کښ راتلو او حضورصلی الله علیه وسلم به دهغې جواب په عربۍ ژبه کښ ورکولو. کله به چه کوم خط راتلو نو دلوستلو دپاره به ئې يو يهودی راغوښتلو.رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه ماته په یهودو باندې بهروسه نشته دې. ممکن ده چه هغوی غلط ترجمه اوکړی په دې وجه ته لاړه شه سریانی زده کړه. هغه د یهودیانو مدراس ته لاړو چه د یهودو مدرسه ورته وائی.هغه په اوولس ورځو کښ سریانی ژبه زده کړه او واپس راغلو. هغه د سریانۍ نه علاوه هم نورو ژبو باندې پوهیدو او په دې ژبو کښ به ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مدد کولو. د دستاویزاتو ریکارډ به ئې هم ساتلو.

دا خبره ډیرو سیرت نګارو نقل کړې ده چه حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په اوولس ورځو کښ سریانی ژبه زده کړې وه. ماته کله کله خیال راځی چه دعربو یهودیانو خو به خط وکتابت په عربۍ کښ کولو. خو دهغوی رسم الخط به عبرانی یا سریانی وه.

شاید په دې وجه حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه په اوولس ورځو کښ دا ژبه به زده کړې وی. بهرحال عام خطونه د حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه ذمه داری وه. کله چه څه اهم معاهده به وه نو هغه به عمومًا سیدناعلی بن ابی طالب به تحریر فرمائیلو. د صلح حدیبیه څو معاهدې د سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه په لاس سره لیکلې شوې وې.

# د رياست مدينه شعبه امور خارجه

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مدينې د رياست د قيام نه پس د رياست انتظاماتو باندې ډېر توجه ورکړه او په دې وړوکی رياست کښې ئې مختلف شعبې قائم کړې. مونږ د نن په اصطلاح کښې وئيلې شو چه يو صيغه خاص وه. يو د توقيعات و فرامين او دستاويزاتو شعبه وه،يو شعبه د احتساب وه،شعبه داخله،شعبه خارجه،شعبه ماليات،شعبه عساکر يعنی فوجی نظم ونسق،شعبه دتعليم،دا ټولې شعبې يويو کولو سره ئې قائم کړې.

**د امور خارجه د شعبې قيام او مقاصد:**

د ټولو نه مخکښې او ابتدائی کار چه رسول الله صلى الله عليه وسلم لره د سربراه رياست په طور باندې د کولو ضرورت راپيښ شو هغه د شعبه خارجه تنظيم وو. ددې وجه داده چه په مدينې ته تشريف راوړلو نه پس د ټولو نه اهم کار همدا وو چه هغه يو مُتې مسلمانانو لره د دشمنانو په سمندرکښې څنګه محفوظ او مامون جوړ کړې شی. په دې غرض سره د خواؤ شاء قبائلو سره روابط لازمی وو.دستور مدينه هم يو قسم مختلف قبائلو لره په يو پليټ فارم باندې د جمع کولو خبره وه.په دې کښې د خارجه معاملاتو يو عنصر موجود وو. بيا جهينه،ضمره او مزينه سره چه کوم تعلقات او معاهدې اوکړې شوې هغه هم د امورخارجه اوله کړئ يا اول قدم وو. دې سلسلې لره جاری ساتلو کښې دحضور عليه السلام په مخکښې درې مقاصد وو. دا هغه مقصد دی دکوم چه چرته خو صراحت ملاويږی او چرته چه ددې معاهداتو الفاظو نه ددې اندازه کيږی.د ټولونه بنيادی هدف دا وو چه دعوت اسلامی ته ترقی ورکړې شی او په دې لاره کښې چه کوم رکاوټونه دی هغه لرې کړې شی. نو مختلف قبائلو سره کيدونکو معاهدو کښې دې

طرف ته اشاره موجود ده چه هغه د مسلمانانو داعیانو لار نه شی بندولې، مسلمان داعی که چرته ځی نو هغه ته به میلمستیا او تحفظ ورکوی، هغه به خپل ځان سره ایساروی او ددې په بدله کښې به مسلمان هم دهغوی پوره خیال ساتی.

ددې معاهدو بل غټ مقصد دا وو چه په عرب معاشره کښې امن وامان قائم وی. عدل وانصاف ته ترقی وی او ټول قبائلو لره دغه شان په یوه لړئ کښې اوپیللې شی چه هغوی ددې مشترکه مقاصدو په خاطر دعربو په تاریخ کښې په اول ځل دیو بل سره تعاون اوکړی. بیا آخری مقصد داوو چه په اسلامی ریاست او د امت مسلمه یو رعب او دبدبه په عربو کښې قائم وی چه بل کوم طاقت هغوی ته په خیرنو نظرونو سره اونه ګوری.د ریاست مدینه دخارجه پالیسئ دا درې بنیادی اهداف وو چه کوم لاندې چه دا معاهدات اوشو. او دغه شان تبلیغ الاسلام لره آسان جوړ کړې شو، اندرونی استحکام لره یقینی جوړ کړې شو، د انسانی جان د تحفظ بندوبست اوکړې شو. په دشمنانو باندې معاشی دباؤ قائم ساتلو سامان اوکړې شو. د دشمن دوستانو سره د دوستئ کوشش اوکړې شو. ددشمن د دشمنانو سره دوستی نوره هم بهتره کړې شوه. د دشمن په اطرافو کښې د خپلو دوستانو یو ډهال جوړ کړې شو. یعنی دخیبر د یهودیانو په اطرافو کښې هم او دقریش مکه په اطرافو کښې هم اوسیدونکی قبائلو سره دوستانه معاهدې اوکړې شوې. ددشمن قبیلو په مینځ که څه اتحاد وو نو هغې لره د کمزوری کولو کوشش اوکړې شو. د معزز دشمنانو احترام کولو سره ئې د هغوی د زړه ګټلو کوشش اوکړې شو.

**شعبه د تاليف قلب:**

تاليف قلب د رياست د شعبه خارجه د پاليسئ يوه اهم حصه وه. دتاليف قلب په طور باندې ډير اقدامات اوکړې شو. مثال په طور باندې يو ځل په مکه کښې قحط راغلو نو حضور صلى الله عليه وسلم د مدينې منورې نه په لوې تعداد کښې کهجورې او اوربشو کميت اوليږلو او وينا ئې اوليږله چه زمونږ دطرف نه دا سامان د خوراک څکاک دمکې په ضرورت مندو کښې تقسيم دې کړې شی. دغه شان اقدامات وخت په وخت اوکړې شو. دا صيغه خارجه وه دکوم چه بنيادی ذمه داری د سيدنا عمرفاروق رضی الله عنه وه. دهغه قبيله په مکه مکرمه کښې هم په شهری رياست کښې د امورخارجه او سفارت ذمه واری وه.

**د سفيرانو شعبه:**

رسول الله صلى الله عليه وسلم چه کوم مهمات ليږلې وو دهغې ټولو تفصيل بيانولو دا موقع نه ده. په ابتدائی کالونو کښې ډير په کثرت سره مهمات ليږلې شوې وو. د مدينې منورې څلور واړه طرف ته تردې چه مکې مکرمې ته نزدې بعضِ قبائلو سره دوستانه معاهدات اوکړې شو. په دې دوران کښې حضور صلى الله عليه وسلم سفير هم اوليږلو. د بعضِ سفيرانو نومونه هم ملاويږی. يو سفير کوم لره چه په څو موقعو باندې حضور صلى الله عليه وسلم اوليږلو دهغه زمانې د ټولو نه لوې رياست حکمران ته ئې اوليږلو هغه دحيه بن خليفه الکلبی رضی الله عنه وو. د بنی کلب سره دهغه تعلق وو.دا ډير لويه او بااثره قبيله وه.

د هغه په باره کښې يو خبره ټولو سيرت نګارو ليکلې ده چه په صحابه کرامو کښې دهغه نه زيات خوبصورت (ښائسته) سړې څوک

هم نه وو. حضورصلی الله علیه وسلم هغه لره د قیصرِ روم دربارته لیږلې وو. کله چه هغه د قیصر روم خواته دمشق ته اورسیدو او اووئیلې شو چه د عربو نه یو خوبصورته سفیر راغلې دې نو ټولو تذکره نګارو لیکلی دی چه ښځې په کهړکو او دروازو کښې ددې خوبصورته ځوان د لیدلو دپاره ولاړې وې،کوم چه د عربو نه د پیغمبر عربیؐ خط راوړلې دې.

کله چه به هم جبرئیلؑ امین حضور صلی الله علیه وسلم ته په انسانی شکل کښې راتلو نو د دحیه بن خلیفه رضی الله عنه په شکل کښې به راتللو. څو ځله صحابه کرامو بیان کړې دی چه مونږ دحیه لره تیریدونکې اولیدلو او روستو خو پته اولګیده چه هغه خو د ریاست نه بهر تلې دې.

دحضور صلی الله علیه وسلم په وئیلو باندې خلقو ته پته اولګیده چه دا جبرئیل امینؑ وو چه د دحیه بن خلیفه الکلبی په شکل کښې څو ځله حضورصلی الله علیه وسلم ته راغللو.

باقی سفیرانو کښې حضرت عمروابن امیه الضمری تذکره هم راغلې ده چه دنجاشی دربارته ئې خط مبارک اوړلې وو. حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه چه څنګه اسلام قبول کړو مدینې منورې ته راغلو نو هغه لره سفیر جوړ کړې شو او اولیږلې شو. مختلف حکمرانانو ته به چه کله د حضور صلی الله علیه وسلم سفیر تللو نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه وه چه د مکتوب الیه دپاره به ئې څه هدیه هم ورکوله. د بهر نه چه کوم سفیر راغلو نو هغه ته به ئې هدیه ورکوله.د حضور صلی الله علیه وسلم د طرف نه سفیرانو ته هدیه

وركول دومره مقرر شوې طريقه کار وو چه کله رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات کيدو او ددنيانه ئې تشريف اوړلو نو هغوی اوفرمائيل چه :

اَجِيزُوا الوُفُودَ كَمَا كُنتُ اُجِيزُهُم

څنګه چه به ما مختلف وفودونو ته هديه وركوله تاسو هم هديه او انعامات وركوئ او هر راتلونکی سفيرته څه نه څه انعام وركوئ بيا ئې ليږئ.

**د ميلمستيا شعبه**:

د وزارت خارجه ماتحت يو شعبه د ميلمستيا هم وه.ددې شعبې مشر څه زمانې پورې حضرت بلال رضی الله عنه وو. بيا يو صحابی معقيب بن ابی فاطمه الدوسی،چه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه د قبيلې نه وو، ددې شعبې نګران شو. هغه ته که تاسو افسر دميلمستيا اووايئ يا چيف آف پروټوکول اوويئ. د دارالکبرٰی په نوم باندې يو لوې کور وو. دا کور حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه په مدينه کښ د خپل تجارت چليدو نه پس جوړکړې وو.هغه د حضورصلی الله عليه وسلم په وينا باندې دا کور خالی کړو د ميلمستيا دشعبې دپاره ئې ورکړو. دلته به دبهر نه راتلونکی وفودونه ايسارولې شو. دا يو ډير لوې کور وو. کله چه جوړيدو نو څو ځله حضورصلی الله عليه وسلم دهغې د ليدو دپاره تشريف اوړلې وو. په دې کور کښ د کهجورو څو اونې هم وې او د حضور صلی الله عليه وسلم ميلمه به دې کور کښ پاتې کيدلو.

يو بل كور وو چه د يوې ښځې رمله بنت حارث رضی الله عنها وو هغې هم يو لوې كور جوړ كړې وو، او هغې سره يو باغ هم وو. د بهر نه راتلونكی وفد يا د قبيلې سفير به په دې كور كښې پاتې كولې شو.كله چه د بنو حنيفه وفد راغلو نو په هغې كښې اتيا سړی وو، هغه ټول په ټوله دحضرت رمله رضی الله عنها په كور كښې پاتې شول. دوه وخت خوراك به د هغې د طرف نه راتللو.د خوراك تفصيل هم موجود دې چه د يو وخت خوراك پئ او روټئ باندې مشتمل وو او د بل وخت خوراك غوښه او غوړو باندې مشتمل وو. حضرت مغيره بن شعبه رضی الله عنه به ددې انتظام ذمه دار وو. په نهمه هجرئ كښې خالدبن سعيدبن العاص رضی الله عنه چيف آف پروټوكول وو.

يوځل څلور سوه سړو باندې مشتمل د قبيله مزينه وفد راغلو د وفد مقصد د مخكښې نه د موجود معاهدې تجديد او د سر نه اسلام كښې داخليدل وو. حضور صلی الله عليه وسلم حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته چه وزيرخارجه وو، دهغوی د خيال ساتلو او ميلمستيا بندوبست دپاره اوفرمائيل. ښكاره خبره ده چه د لوې وفد دپاره به زيات ذمه دار سړی ته وئيلې شی. د وړوكی وفد دپاره كمې ذمه دارئ افسرته وئيلې شی. نو حضور صلی الله عليه وسلم ګويا خپل وزيرخارجه ته دا اهم ذمه داری سپارلې وه. كله چه د وفد د روانيدو وخت راغلو نو حضور صلی الله عليه وسلم حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته اوفرمائيل چه زَوِّدْهُم، دوی ته د تلو په وخت په خاص مقدار كښې د لارې توښه وركړئ.

حضرت عمررضی الله عنه عرض اوکړو چه دومره زيات خلقو ته په خاص مقدار کښ توښه د چرته نه ورکړو. نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د چرته هم ورکړئ. دا تفصيلی روايت موجود دې. حضرت عمر رضی الله عنه مختلف ځايونو ته لاړلو او جائزه ئې واخستله چه څلور سوه کسانو ته څه توښه ورکړو، واپس راتلو سره ئې حضورصلی الله عليه وسلم ته شکايت اوکړو چه د دومره توښې انتظام مشکل دې. نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د رمله بنت حارث رضی الله عنها په کوم کور کښ چه وفد لره ايسار کړې دې په هغې کښ ډيرې ښه کهجورې لګيدلې دی هغه راوشوکوه ورکړه.حضرت عمر رضی الله عنه وائی چه ما سيړهئ (پارسنګ) اولګولو هلته مې اوکتل چه کهجورې دومره نه وې چه ددومره کسانو دپاره کافی کيدې.خو ما سوچ اوکړو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم څنګه فرمائيلې وو هغسې اوکړه. يو کس مې په کهجورو شوکولو باندې اولګولو او بل کس به ټوکرئ ډکولې. باهر اوړلوسره به مو د مزينه خلقو ته ورکولې. څلور سوه کسانو ته زاد راه (توښه ) مکمل شوه او په اونو باندې چه څنګه کهجورې وې هغسې پاتې شوې. زه لاړم حضورصلی الله عليه وسلم ته مې اطلاع ورکړه چه ټولو ته توښه ملاؤ شوه، دا دحضور صلی الله عليه وسلم معجزه وه.

د رمله بنت حارث رضی الله عنها د مکان په باره کښ سيرت نګارو ليکلې دی چه **كَانَتْ دَارًا وَاسِعَةً**، ډير لويه حويلی وه. دار کور ته نه بلکه حويلئ ته وئيلې شی په کوم کښ چه څو کورونه وی . په هغې

کښ د کهجورو اونې هم وې او د عربو وفودونه به په دې کښې پاتې کولې شو. بعضې وخت به په يو يو وخت کښ څو څو وفودونه راتلل. په داسې صورت کښ به څه خلق د عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په کور کښ پاتې کولې شو، ددې نه علاوه کله کله به د مغيره بن شعبه رضی الله عنه کور هم استعمالولې شو. ددې باوجود که به ضرورت وو نو د مسجدنبوی په صحن کښ او بهر به ئې خيمې لګولې ميلمانه به پکښ پاتې کولې شو.

## د رياست مدينه د عدليه و قضاء شعبه

د امورخارجه او عسكريات نه علاوه چه دټولو نه اهمه شعبه وه هغه صيغه عدل وقضا وه. اسلام راغلې د عدل دپاره دې،د اسلام بنيادى مقصد هم دادې چه خلق په انصاف باندې قائم شى. په دې وجه اولنې څيز دكوم طرف ته چه ميثاق مدينه كښې هم باربار اشاره موجود ده او دحضور صلى الله عليه وسلم په انتظاماتو كښې هم په نظر راځى كوم چه ړومبې كار اوكړې شو هغه دعدل وقضا بندوبست وو.

د جاهليت په زمانه كښې حكومت نه وو نو عدالت هم نه وو. خلقو به خپله بدله په خپل زور يا د پنچ په ذريعه باندې اخستله. يا په مكه كښې طائف ته نزدې به په كال كښې دوه درې ورځې د عكاظ ميله لګيدله په هغې كښې به موروثى حَكَم مقرر كيدو چه دخلقو تجارتى فيصلې به ئې كولې يا عام جهګړې به هم خلقو په هغه ورځو كښې دلته راوړلې.په مدينه كښې هم دغه شان څه انتظام نه وو چه كمزورې مظلوم ته انصاف ملاؤ شى.

كله چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم مدينې ته تشريف راوړلو او شهرى رياست قائم شو او ددنيا اولنې تحريرى دستور مرتب شو نو په هغې كښې يو عجيب وغريب حكم ملاؤ شو، په كوم سره چه د عدل وانصاف انقلاب راغلو هغه حكم دا وو چه :

انصاف به په ځاې د فرد يړ مركزى څيز وى. په چاچه ظلم اوشى هغه به ظالم ته پخپله سزا نه شى وركولې بلكه د اسلامى رياست حاكم به بغير د څه رعايت نه ظالم ته سزا وركوى او مظلوم ته به حق وركوى.

اخلاقی حکم هم په دې سلسله کښې دا وو چه چاته به د چا ظالم دحمایت حق نه وی خواه هغه دده پلار یا ځوې ولې نه وی. بیا ددې نه پس دمدینې په ریاست کښې دوه عهدې دمفتی او قاضی مقررشوې.دمفتی نه علم،د مسئلې حل او معلومات حاصلول وی دهغه په فرائضو کښې به حکم نافذ کول نه وی مستفتی ته حکم معلومولو نه پس هغه به په خپله په دې باندې عمل کوی او د قاضی فرض حکم نافذ کول دی.

په روایت کښې راځی چه سیدنا ابوبکرصدیق رضی الله عنه مفتی مقررشوې وو چه چاته څه عام شرعی مسئله تپوس کول وی یا قانون معلومول وی نو هغه دې سیدناابوبکرصدیق رضی الله عنه ته راځی،او دغه شان په عام مسائلو کښې به زما وخت هم نه ضائع کوی، او نه به زما د مصروفیت په وجه باندې په انتظار کښې خپل وخت ضائع کوی.

په ریاست مدینه کښې قاضیان ډیر مقرر شوې وو. د هر یو قبیلې تردې چه د اقلیتونو هم دخپل مذهب مطابق قاضی مقرر وو. په مدینه ښارکښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د موجود کیدو باوجود هم په خاص مسئلې کښې قاضی مقرر کیدو چه په دې معامله کښې لاړشه متعلقه موقع اوګوره او فیصله اوکړه.

عمروبن العاص رضی الله عنه لره یو ځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم قاضی مقرر کړو ورته ئې اوفرمائیل چه په دې مقدمه کښې فیصله اوکړه نو هغوی اوفرمائیل چه په څه بنیاد باندې. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، په دې شرط چه که ته صحیح نتیجې

ته اورسيدې نو دوه ثواب به درته ملاوېږی. يو حق ته د رسيدو، دويم د عدل وانصاف کولو. او که ته صحيح نتيجې ته اونه رسيدې او اتفاقًا ناانصافی اوشوه نو بيا به يو اجر ملاوېږی،ستا د حسن نيت په وجه سره چه تا انصاف اوکړو،خو ددې باوجود پخپله د رسول الله صلی الله عليه وسلم حيثيت د يو اعلیٰ ترين عدالت وو. نن هم هيډ آف دی اسټيټ ته په ډيرو ملکونو کښ د اپيلټ اختيارات حاصل دی. پاکستان سره سره په ټوله دنيا کښ هيډآف دی اسټيټ ته اپليټ اختيارات حاصل دی.رسول الله صلی الله عليه وسلم ته خو د نبی او سربراه د رياست په طور باندې دوه حيثيتونه وو. په دواړه حيثيتونو کښ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته آخری عدالت اپيل اختيار حاصل وو. ددې نه علاوه حضور صلی الله عليه وسلم په مختلف قبائلو کښ جدا جدا قاضی مقرر کړې وو. بعضې افرادو ته د معلم او قاضی دواړه ذمه دارئ ورکړې وې. د مشهور حديث مطابق حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه لره د معلم او قاضی جوړولو سره يمن ته اوليږلې شو.

دغه شان په مختلفو قبائلو کښ چه کوم قاضيان مقرر وو هغوی به فيصله کوله او د هغوی فيصله **confirmation** دپاره به په بعضې صورتونو کښ مدينې منورې ته ليږلې شوه. بعضې وختونو کښ به داهم اوشوه چه قاضی ته به پته اونه لګيده چه په دې معامله کښ صحيح حکم څه دې،يا به هغه ته تامل اوشو نو هغه به د توثيق دپاره خپله فيصله حضورصلی الله عليه وسلم ته اوليږله. بعضې وختونو کښ به رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله **suo moto** کاروائی کوله او پخپله به ئې هدايت ورکولو چه په فلانئ معامله کښ فيصله داسې کوه.

حضرت عتاب اسیدچه دمکې مکرمې قاضی مقررشو. هغه ته د اسلام نه مخکښ یوه سودی معاملې سره متعلق ددعوې مقدمه راغله. د مدعی دعویٰ وه چه دا د سود دحرمت نه مخکښ واقعه ده په دې وجه د سود د حرمت نه باوجود هم ماته خپل سابقه واجباتو حاصلولو اختیار دې. عتاب حضور صلی اللّٰہ علیه وسلم ته خط اولیکلو او تفصیل خودلو سره ئې د حضور صلی اللّٰہ علیه وسلم نه د رهنمایئ درخواست اوکړو. ددې نه معلومیږی چه دحضور صلی اللّٰہ علیه وسلم په دربار کښ به ریفرینس لیږلې کیدل او رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم به د عدالتونو رهنمائی فرمائیله.

یو ځل یو قبائلی سردار قتل شو. قاتلینو دیت ادا کړو او د هغې اطلاع حضور صلی اللّٰہ علیه وسلم ته ورکړې شوه چه دیت ادا کړې شو. روستو رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم ته خیال اوشو چه پته نشته چه ددې مقتول کونډې ښځې ته په دیت کښ حصه ورکړې شوې ده یا نه.ددې خیال په بنیاد باندې حضور صلی اللّٰہ علیه وسلم د هغه علاقې ګورنر ته یو خط اولیکلو چه د فلانی مقتول په دیت او ترکه کښې د هغه ښځې ته دهغې حصې دې ورکړې شی او ماته اطلاع راکړئ چه دا کار اوشو یانه. دغه شان نبی علیه السلام د یو مؤثر او مرکزیت حامل صیغه عدالت قائم کړو.

بهرحال په عهدنبوی صلی اللّٰہ علیه وسلم کښ عدلیه او دغه شان نظام قائم وو چه که څوک فتویٰ اخلی یا فیصله کوی نو اول دې دخپلې قبیلې سردارته رجوع کوی بیا دې رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم ته،په یوه ورځ کښ به فیصله کیدله او بیا به نافذ کیدله هم. د هغې به ئې

څه فیس نه اخستلو. په فیصله کښې به څه مشکلات نه وو، بلکه هر کس به د انصاف او فیصلې دپاره افسر عدالت،قاضی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضریدو او فیصله او انصاف به ئې حاصلولو. او که څه مشکلات یا د ظلم یره به وه نو شکایت به ئې د حضورصلی الله علیه وسلم په عدالت کښې پیش کولو او فیصله به موندله.

حضورصلی الله علیه وسلم په طور د قاضی چه کومې فیصلې کړې دی هغه ټول جدا جمع کړې شوې دی. اقضیة الرسول په نوم سره یو قدیم ترین کتاب دې. چه د اسپین یو بزرګ امام محمدبن الفرج الاندلسی لیکلې دې. دهغې اُردو ترجمه هم د دبار رسول کے فیصلے په نوم ملاویږی.

امام ابوبکر بن ابی شیبه مشهور محدث دې،د امام ابوداؤد او امام ترمذی په استاذانو کښې دې مسندامام ابن ابی شیبه دهغه دحدیثو یو ضخیم کتاب دې. هغوی په اقضیة الرسول باندې یو کتاب لیکلې وو. څو کتابونو نور هم په دې موضوع باندې ملاویږی.ابن قیم په اعلام الموقعین کښې دحضور صلی الله علیه وسلم د ډیرو فیصلو تذکره کړې ده. زمونږ د برصغیر مشهور عالم نواب صدیق حسن خان رحمه الله یو کتاب په دې موضوع باندې لیکلې دې.په پاکستان کښې په اوس وخت کښې د اسلامک انټرنیشنل یونیورسټۍ اسلام آباد سابق ریکټر جټس (ر) خلیل الرحمن خان په رهنمایۍ او تعاون سره یو کتاب په لس جلدونو کښې تیاریږی دهغې اول جلد چهاپ شوې دې چه په هغې کښې د حضورصلی الله علیه وسلم کړې شوې فیصلې په عربۍ،اردو او انګریزۍ درې واړو ژبوکښې جمع کړې شوې دی.

نبي عليه السلام چه کومو خلقو لره قاضي مقرر کړې وو په هغوی کښې سيدنا عمربن خطاب رضی الله عنه نوم په ټولو کښې ښکاره دې . هغه لره ئې دمدينې قاضي مقرر کړو. د حضورصلی الله عليه وسلم په موجودګۍ کښې به د مدينې د مقدماتو فيصله حضرت عمررضی الله عنه کولې. د يمن په يوه علاقه کښې حضرت علی رضی الله عنه او په بله علاقه کښې حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه لره په طور دقاضي ليږلې وو.

**شعبه د احتساب يا ديوان مظالم**:

ددې شعبې مقصد،سرکاری،عدالتی افسرانو وغيره د زياتی او ظلم کولو خبر اخستل وو. نن **Ombudsmann**اداره موجود ده. اومبډزمين ادارې په باره کښې عام طور باندې دا وئيلې شي چه دا تصور د سويډن نه راغلې دې. ليکن دا غلطه ده. ددې ادارې آغاز په سويډن کښې نه، بلکه په مدينه منوره کښې شوې وو. دا اداره حضور صلی الله عليه وسلم قائم کړې وه او حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د ديوان مظالم په نوم سره ترقی ورکړه. ديوان مظالم په اصل کښې يو اعلی سرکاری عدالت وو چه د اعلی سرکاری حکامو او بااثر خلقو د زياتو او ظلمونو خلاف د شهری خلقو شکايات به اورولې شو. د حضورصلی الله عليه وسلم په زمانه کښې ددې بندوبست په بعضې علاقو کښې کړې شوې وو. حضرت عمررضی الله عنه دې ته باقاعده شکل ورکړو. ددې نه پس د اسلامی دنيا په ډيرو ملکونو کښې دا اداره قائم شوه. د اسپين نه دا يورپيانو زده کړه. هلته بعضې پادريان د غرناطه او قرطبه مدرسو ته ددې ادارې باره کښې د واقفيت حاصلولو دپاره تلې وو.په انګلستان کښې د پارليمنټری کميشن او په سويډن کښې اومبډزمين په نوم سره دا اداره جوړه کړې شوه. دې وخت

کښې د دیوان مظالم په نوم سره دا اداره صرف په سعودی عرب کښې موجود ده.وئیلې شی چه هلته دا اداره د څوارلسو سوؤ کالو نه مسلسل قائم ده او څه نه څه حده پورې په هغه انداز باندې کار کوی په کوم انداز باندې چه ئې ماضی کښې کارکولو.

دا صیغه احتساب هم په هغه زمانه کښې قائم شوې وه کومه چه زمونږ په صوبه خیبرپختونخواه کښې د حسبه په نوم سره قائم کولو نیم دلانه کوشش اوکړې شو. کوم ته چه زمونږ اخبار والا حسبه وائی. دا لفظ حسبه نه دې،بلکه دح په زیر سره حِسبه دې دا د احتساب سره متعلق یو داسې نیم عدالتی اداره ده چه ددې کار دپاره قائم شوې وه چه د عام معاشرتی اخلاقو تحفظ اوکړی او د اسلام د معاشرتی اخلاقو په باره کښې د نګرانئ او خیال ساتلو ذمه دارئ ادا کړی. دا اداره هم حضور صلی الله علیه وسلم قائم فرمائیلې وه.دا هغه عدالتی ادارې وې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم قائم فرمائیلې وې.

## د ریاست مدینه دفاعی نظام

د وزرات شعبې سره متعلق تاسو وئیلې شې چه وزرات دفاع هم وه. د عسکریاتو شعبه وه.ددې په باره کښې دڅه خلقو دا تاثر دې چه کله حضورصلی الله علیه وسلم د جهاد ضرورت محسوس کوو نو یوه ګنړه به جمع کیده او تلله به هرکله چه داسې نه وه. مدینې ته رسیدو نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم په اولین فرصت کښې چه کوم کارونه کړې وو په هغې کښې یو د مردم شمارئ کار وو. مردم شمارئ کښې دټولو بالغو مسلمانانو ښځو او سړو نومونه اولیکلې شول.بیابه چه کله څه غزوه یا دسته لیږلې شوه نو دشرکاؤ نومونه به باقاعده لیکلې کیدل او فهرست به جوړیدو. ددې ریکارډ به جوړیدو،چه دهغې یو نقل به مرکزکښې وو،

ښکاره خبره ده څه ځاې به وو چرته چه به دا ريکارډ ساتلې شو. څه صحابه کرام به ددې نګرانان او منتظمين هم وو. ددې دستاويز يو نقل به ددستې د کمانډر سره وو. رسول الله صلی الله عليه وسلم کله چه تبوک ته تشريف يوړلو نو ديرش زره صحابه کرام ورسره وو. د فتح مکې په موقعه باندې لس زره،په حنين او طائف کښې دولس زره. اوس دا نه شی کيدې چه د لس دولس زره کسانو ګڼړه بغير دڅه ترتيب نه به تلله. دا کار ديو ترتيب مطابق به کيدو، دستې به وې. د هرې دستې به جدا کمانډر وو. جدا جهنډا او پاس ورډ به وو.فهرست به مرتب کيدو. په څو نورو مقاماتو باندې به هم دې نقلونو لره محفوظ ساتلې شو. دحديث او سيرت په کتابونو کښې څو داسې مثالونه موجود دی چه چا اووئيل چه زما نوم په فلانې فلانې غزوې کښې ليکلې شوې دې : اِكْتَتَبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا۔

يو ځوان راتلو سره اووئيل چه اې د الله رسولهٔ! زما نوې نوې واده شوې دې، زما ښځه وائی چه په ماباندې اول حج اوکړه، او ما په فلانې غزوه کښې نوم ليکلې دې. ماله څه کول پکار دی نبی عليه السلام اوفرمائيل چه د غزوې نه لاړه شه او په ښځه دې حج اوکړه. دهغه تسلی به نه وی شوې، نو په بدل لباس کښې دوباره بيا حاضرشو او هم هغه سوال ئې اوکړو.نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل چه ښځه حج دپاره بوځه. په دريم ځل چه ئې داسې اوکړل نو حضورصلی الله عليه وسلم هغه په اوګه باندې دخپل لاس په تلی سره اووهلو او بيائې اوفرمائيل چه مخکښې ښځه باندې حج اوکړه دهغې نه پس غزوه اوکړه. ددې نه پته لګی چه په هره غزوه کښې به د تلونکو شرکاؤ يو فهرست جوړيدو. دهغې مطابق به خلق تلل او دهغې مطابق به ئې ټوله کاروائی وه.

### د دفاع دپاره د جديد اسلحې حصول:

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې به دوه قسمه وسلې استعماليدې. څه وسله خو هغه وه چه د هر سړی ذاتی ملکيت وو،ځکه چه په عربو کښې قبائلی معاشره وه څنګه چه زمونږ په ملک کښې په قبائلی معاشره کښې د هرسړی ذاتی وسله جدا وی نو په عربو کښې هم څه داسې وه. ددې ذاتی او انفرادی وسلې نه علاوه څه لويه وسله به وه چه د رياست ملکيت به وه.

په عربوکښې د يمن په شان څه علاقې زياتې متمدن او لوې وې هلته به دوه لوئ وسلې هم استعماليدلې. يو منجنيق او دويمه دبابه ورته وئيلې شی. ما يو ځاې کښې د منجنيق تصوير ليدلې دې هغې ته تاسو د موجوده دور د ټينک يا ټوپې ابتدائی ماډل وئيلې شې. ددې مقصد به دا وو چه د فوج په لاره کښې حائل رکاوټونه لرې کړې شی.د هغې عام صورت به دا وو چه يو ډير وزنی کاڼړې ويشتلو سره به د قلعه ګانو ديوالونه ماتولې شو. چه په قلعه د بندو دشمنانو ديوال ماتولو سره دننه داخل شی او هغه ډير ساده غوندې څيز به وو. په هغې کښې به يو ډير لوې کاڼړی لره د رسو او بانړسونو په زور سره په ډير قوت سره لرې ويشتلې کيدې شو.په دې سره به د قلعه ديوالونه ماتولې شو. دا څيز د عربو ښارونو يعنی مکه، طائف، مدينه وغيره کښې نه وو، په يمن کښې وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم دوه صحابه کرام يمن ته د منجنيق چلولو طريقې زده کولو دپاره او يو منجنيق اخستلو دپاره اوليږل.هغوی ددې د جوړولو او چلولو تربيت هم حاصل کړو واپس راغلل. د غير مسلمو نه د وسلو جوړولو تربيت حاصلول،دا د صحابه کرامو سنت دې. صحابه کرامو د يمن نه

منجنيق هم راوړلو او ورسره دهغې دچلولو تربيت ئې هم حاصل کړو. حضور صلی الله عليه وسلم هغې لره دطائف په فتح کولو کښې استعمال هم کړو.

دويمه وسله دبابه وه. نن صبا په عربئ کښې ټينک ته دبابه وائی. خو په هغه زمانه کښې به د دبابه نه مراد داسې سوارلی وه چه هغه به د لرګی يا اوسپنې د چهت په ذريعې سره د پاس نه پټولې شوه اوپه هغې باندې به ئې څه داسې څيز لګولو چه په هغې باندې غشی اثر نه شو کولې. کله به چه قلعه ته داخليدو دپاره يا په بل څه طريقې سره دشمن ته نزدې تلل وو نو دبابه باندې به د غشو باران کيدو او دبابه ېڅپله د غشو ويشتونکو نه محفوظ وو. په دبابه کښې به درې څلور سپاهيان ناست وو. هغوی به قلعه ته نزد تللو سره دهغې دروازه يا ديوال ماتولو کوشش کولو. تاسو ددې دور دبابه ته د نن بکتربندګاډی شکل وئيلې شې.دا ټول تفصيل ابن هشام هم ليکلې دې او الروض الانف هم ليکلې دې.

**شعبه د سراغ رسانئ يا انټيلی جنس**:

ددې سره سره رسول الله صلی الله عليه وسلم د سراغ رسانئ شعبه هم قائم کړه. ددې دوه شکلونه وو.يو خو دا چه بعضې افراد په مستقل طور باندې په بعضې قبيلوکښې په دې کار باندې مامور وو چه هغوی په کومه قبيله کښې د اسلام خلاف څه قسمه هم تيارئ کيږی دهغې په باره کښې معلومات اسلامی رياست ته ورکړی.دحضرت عباس رضی الله عنه متعلق ډيرو خلقو ليکلې دی چه هغه به د مکې دقريشو دتياريانو نه نبی صلی الله عليه وسلم خبرولو. ددې نه علاوه په بعضې خاص موقعو باندې به ئې خاص خلق ليږل چه هغوی لاړشی او پته

اولګوی چه دشمن څه کوی او څه سوچ کوی. ددې په درجنونو مثالونه دی اوپه کتاب المغازی کښې واقدی تقريبًا په هرصفحه باندې يو نيم داسې خبره کړې ده چه دهغې نه پته لګی چه د سراغ رسانئ يو منظم او مؤثر شعبه موجود وه.

**ديوان**:

په عام طورباندې وئيلې شی چه د سيدناعمررضی الله عنه په دورکښې ديوان قائم شو او ددې مقصد دا وو چه د سرکاری خزانې نه سپاهيانوته پينشن (تنخواه) ورکولې شی. په دې شرط باندې د دې غرض دپاره تياروی چه کله هم حکومت،څه وخت هغوی راوغواړی نو هغوی کور او کاروبار پريږدی په فوج کښې شامل شی په فوجی مهم باندې روان شی.

ددې ديوان دقيام نسبت سيدناعمررضی الله عنه طرف ته کيږی،خو اصل کښې ددې ديوان شروع دعهدنبوی صلی الله عليه وسلم نه اوشوه بيا دې لره مزيد فعال جوړولو کښې د عمرفاروق رضی الله عنه اهم کردار دې. په شرح سِيَرکَبِير کښې دی چه ددې (سيکټريټ په) کاتبانو کښې يوه عهده ددې عرض دپاره وه چه دهغه خلقو فهرست تيارکړې شی چه نه صرف دجنګ صلاحيت لری،بلکه په دې خبره باندې آماده هم وی چه کله هغه راوغوښتلې شی نو هغه کورکاروبار پريږدی او په جهادی مهم باندې روانيدو دپاره تيار وی.نو هغه خلقو ته رسول الله صلی الله عليه وسلم (دبيت المال) نه روزينه يعنی پينشن به ورکولو.

**رضاکارانه فورس**:

د دفاع په سلسله کښې د صفه ذکر کول هم ضروري دی چه دصفه تعلق په يو وخت کښې تعليم سره وو او د دفاع يعنې فوج سره هم.که رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به د يو دشمن دسزا ورکولو يا هغې پسې دتللو اطلاع ملاويده دې دپاره چه سمدست دهغه دپاره څه دسته،څه فوج روان کړې شی مثلاً په رياست مدينه باندې چا چهاپه اووهله وغيره. د دې هنګامی ضرورت پوره کولو دپاره اصحابِ صفه لره به په کار راوستلې شو. رسول الله صلی الله عليه وسلم به په دې صورت حال کښې اول د صفه نګران راوغوښتلو چه ماته سمدست په هنګامی طور باندې د دومره خلقو ضرورت دې.

هغه نګران به دننه تلو سره اعلان کولو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سمدست د يو مهم دپاره د دومره کسانو ضرورت دې،څوک په رضاکارانه طور باندې شامليدل غواړی،نو دغه شان په څو منټونو کښې وړه مړه دسته د هلته نه تياريده. څه وخت هم د ورځې يا شپې به د دلته نه هغه ضرورت پوره کيدلو. صفه به د تعليم سره سره ددې مقصد دپاره هم استعماليدل او دلته به د اسلامی فوج دې افرادو آرام هم کولو او که په څه لوې مهم باندې به تلل وو نو بيا به رسول الله صلی الله عليه وسلم په څه خطبه يا د مونځ نه پس يا غير معمولی اجتماع کولو سره فرمائيل چه د دومره کسانو ضرورت دې.خلقو به خپل ځانونه پيش کول او تياری به ئې کوله. نو دهغه خلقو نوم او پته به ليکلې شوه او بيا به ورته وخت اوځاې خودلې شو چه په فلانې ورځ فلانی وخت فلانی ځاې ته د خپلې سورلې او خپلې وسله سره جمع شئ.

## فوجي ټريننګ او تياري:

د اسلامی رياست دپاره د فوج قيام،د هغوی انتظامات او د فوجيانو تربيت وغيره رسول الله صلی الله عليه وسلم به په خپله فرمائيلو او پخپله به ئې نګرانی کوله.د فوجی نظام په سلسله کښې نبی کريم صلی الله عليه وسلم نشانه بازی،ورزش،د اسونو منډه وغيره ترغيب به ورکولو،د صحابه کرامو په مينځ کښې به ئې د منډې،کُشتۍ مقابله خپلې مخې ته کوله او پخپله به هلته تللو انعامات به ئې هم ورکول.

ددې سره سره نبی صلی الله عليه وسلم د فوجی ضرورياتو ذخيره يعنی وسله جمع کول شروع کړل مثلاً وسله اخستل،اوښان اسونه اخستل هغه په سرکاری چراګاه کښې ساتل دې دپاره چه په موقع باندې د سپاهيانو د ضرورت څيزونه ناکافی نه وی نو د حکومت د طرف نه هم دهغوی مدد اوکړې شی، ځکه چه د انتظاماتو د نه کافی کيدو په وجه د وس مطابق فوج ته تکليف او ناکامی نه وی.

## د امن نه ډک فتوحات او فوجی کاروائيانې:

رياست مدينه او ددې نظام مملکت چه په عهدی نبوی صلی الله عليه وسلم کښې شروع شو،په ابتداء کښې دا مملکت په پوره مدينه کښې نه وو، بلکه په ښارکښې قائم کړې شوې وو بيا په تيزۍ سره ددې توسيع اوشوه. د توسيع اندازه تاسو ددې نه لګولې شئ چه لس کال پس د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د وفات په وخت ددې مملکت رقبه تقريبًا درې ملين يعنی ديرش لکهه مربع کلوميټر وه.

په ریاست مدینه کښ دا په تیزۍ سره توسیع څنګه اوشوه، ددې دپاره کومه طریقه اختیارکړې شوه ددې دپاره څومره غزوات اوجنګیدل. په دې کښ څومره خلق شامل شول،په کوم جنګ کښ زمونږ څومره شهیدان شول او دشمنان څومره مړه شول. دا تفصیلات د احادیثو او سیرت وتاریخ په کتابونو کښ موجود دی. ددې ټولو په مختصر الفاظو کښ خاکه داده چه په لس کاله کښ درې ملین رقبه فتح کولو دپاره ددشمن د مقتولینو تعداد د هرې میاشتې په حساب سره دوه کسان وو،هرکله چه د مسلمانانو شهیدانو تعداد ددې نه کم دې. د ټولو نه زیات نقصان چه شوې وو هغه دمسلمانانو په جنګ اُحد کښ اویا کسان شهیدان شوې وو دغه شان ددشمن په جنګ بدر کښ اویا کسان اووژلې شو.

ددې نه معلومه شوه چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د انسانی جان، او وینې عزت څومره وو. دغه رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپلې اسوه حسنه په ذریعې سره د ځان نه روستو راتلونکو حکمرانانو او فاتحینو ته دا اوخودل چه د اعلاء کلمة الله او اسلامی ملک دحفاظت او دفاع دپاره د دشمن مقابله ضرور اوکړۍ،دشمن ته ماتې ضرور ورکړۍ،خو دخلقو بې ځایه وینه مه تویوۍ.

## د ریاست مدینه معاشی نظام

مدینه منوره په دې اعتبار سره په پوره جزیره عرب کښ ښکاره وه چه هلته د تجارت او زراعت دواړه مرکزونه وو. د طائف نه به زیات تر زراعت کیدو تجارت کم وو.په مکه مکرمه کښ صرف تجارت به کیدو زراعت نه وو. په مدینه منوره کښ تجارت او زراعت دواړه وو. په مدینه

منوره کښی ډیر باغونه اوپټی وو. د کهجورو او انګورو نه علاوه هم ډیر نور پیداوار به کیدو. په تجارت کښی به اګرچه اوس مسلمانان به هم شریک وو،خو زیات تر تجارت اوس هم دیهودو په لاس کښی وو.

بنونضیر د قبا خواؤ شاء کښی آباد وو. دهغوی ګنړ آطام وو، دهغوی آبادی په څو زرو افرادو باندې مشتمل وه،زرعی زمکې زیات دهغوی وې.دمدینې منورې د زراعت په لویه حصه باندې هغوی قابض وو. د یهودیانو طریقه د شروع نه همدا ده. په مدینه کښی هم دا طریقه کار وو چه په تجارت باندې یهودیان قابض وو. ددې په وجه سره دهغوی سره د وسائلو کثرت او ډیروالې وو. ددې ضرورت په وجه سره به ضرورت مندو ته قرض ورکولو.په هغې باندې به ئې سود اخستلو،د سود درسود په وجه به مقروض پکښې اونختلو نو دقرض دار زمکه به ئې په ګانړه اوساتله. دزمکو په ګانړه ساتلو باوجود به هم چه کله مقروض قرض ادا نه کړې شو نو د هغه زمکه به ئې اونیوله. دغه شان یو یو کولو سره د عربو او نورو مسلمانانو او انصارو ډیرې زمکې ئې نیولې وې. کله چه مدینې منورې ته رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړلو نو په هغوی کښی د ډیر عرب قبائلو زمکې یا خو یهودیانو سره په ګانړه وې یا هغوی دمځکښی نه خپل ملکیت ګرځولو سره قبضه کړې وې.

یهودی قبیله بنوقینقاع د مسجد نبوی سره نزدې ترین خطه کښی اوسیدونکې قبیله وه. دا خلق سوداګر وو، دې سره سره ددستکارئ یعنی هینډی کرافټ هم ماهران وو. د سرو زرو، اوسپنې د ترکانئ کاروبار ټول د بنوقینقاع یهودیانو به کولو. دغه د مدینې منورې

د پوره بازار تجارت باندې قبضه دهغوی وه.د مدینه منوره د ټولو نه لوې بازار هم دهغوی وو،دا خلق په تعداد کښې درې نیم څلور زرو ته نزدې وو. په هغوی کښې اووه سوه قابل دجنګ سړی او باقی بوډاګان،زنانه او ماشومان وو. چرته چه به واړه واړه بازارونه لګیدل،هلته به هم ددوی سازوسامان راتللو.د بنوقینقاع یوه قبیله په یو جدا کلی کښې آباده وه. دا ټوله قبیله دپیشې په اعتبار سره زرګران وو. په هغه کلی کښې درې سوه زرګران وو چه نه صرف د مدینې منورې بلکه په خواؤ شاء کښې به ئې خپل مصنوعات خرڅول .

کله چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته تشریف یوړلو نو د هغوی په یو یو کولو سره ئې د هر څیز جائزه واخستله.چه کوم څیز د اسلام په نقطه نظر سره قابل قبول وو یا غلط نه وو، هغې لره حضورصلی الله علیه وسلم جاری اوساتلو او د هغې ممانعت ئې اونه فرمائیلو.

## د اسلام د معاملاتو په باره کښې اصول:

دا د اسلام دحکمتِ تشریع یو بنیادی اصول دې چه د معاملاتو او تجارت په ابوابو کښې اصل څیز حلت دې،حرمت نه دې. په نورو الفاظو کښې چه کوم کاروبار خلق کوی که هغه د شریعت د حکم سره متعارض نه وی نو هغه کاروبار جائز دې. شریعت بعض احکام په مثبت طور باندې ورکړل. د قرآن پاک په سورة بقره کښې چه دهجرت نه یو دوه کاله پس نازله شوه په هغې کښې د تجارت په باره کښې بعضِ بنیادی احکام ورکړې شوې دی.

دا وئیلې شوې دی چه تجارت هغه دې چه خپل مینځ کښې په رضامندئ سره وی، جائز معاملاتو کښې وی،په هغې کښې څه دهوکه نه وی،تراضی سره وی،دیوبل په طیب نفس سره دیو بل سره دمال تبادله کړې شوې وی. چه کوم تجارت ددې هدایاتو مطابق وی هغه جائز اوګرځولې شو او چه کوم ددې هدایاتو نه خلاف وو یا په هغې کښې د هدایاتو د خلاف ورزئ امکان وو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړو.

ددې سره سره د څه منفی څیزونو صراحت هم اوکړې شو چه دا څیزونه ناجائز دی او دتجارت او کاروبار نه دې یو یو کولو سره ختم کړې شی. په دې وجه په عربو کښې چه دتجارت څومره شکلونه وو په هغې کښې یویو کولو سره څه شکلونه چه خالص منفی او غیرمنصفانه وو هغه ناجائز اوګرځولې شو او ډېر رائج الوخت شکلونو لره د جزوی اصلاحاتو سره جائز اوګرځولې شو.

**د مدینې د معاش ذریعې:**

د مدینې منورې لوې لوې پیداوار د کهجورو،اوربشو، انګورو، انځیرانو وو او څه میوې چه په هغې کښې انار او کیلا ډېر ښکاره دی، په کثرت سره به پیدا کیدل.غنم به پیدا کیدل خو لږ وو.په عام طور باندې د خلقو غذا چه کومه وه. دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها چه کوم مشهور روایت دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اهل او خاندان کله هم مسلسل څو ورځو پورې غنم نه دی استعمال کړې. دهغې یو لویه وجه شاید دا هم وه غنم په مدینه منوره کښې ډېر پیداوار نه وو. د غنمو اکثره حصه به د خیبر نه راوړلې شوه.هغه د لرې

نه راوړلو په وجه سره ګران به هم وو او کم به هم وو، په مصنوعاتو کښې به زيات تر جامه،وسله او د لرګی سامان شامل وو. د انګورو د پيداوار په وجه سره د شرابو پيداوار هم وو. اکثر شراب خانې د يهوديانو وې،هغوی به ټخپله هم د شرابو کاروبار کولو. کله چه شراب حرام شو نو مهاجرينو او انصارو دواړو کښې د شرابو کاروبار کوؤنکو د شرابو کاروبار سره هر قسمه تعلق ختم کړو. چونکه په مدينه منوره کښې مارکيټ ختم شو نو په دې وجه غيرمسلمو هم يويو کولو سره د شرابو کاروبار ختم کړو.

په مدينه منوره کښې چه کوم کسان د زمکو مالکان وو په هغوی کښې څه خلق د لويو لويو قطعو او بعضې د وړو وړو قطعو مالکان وو.د وړو قطعو مالکانو به په خپلو زمکو کښې ټخپله کار کولو او د لويو زمکو مالکانو به په مختلف طريقو سره په خپلو زمکو کښې په نورو خلقو باندې کار کولو. څه خلقو به مزدوری ورکوله کاربه ئې کولو. څه خلقو به د مزراعت او محاقله په بنياد باندې کارپه نورو کولو. دا مختلف طريقې په عربوکښې رائج وې. حضورصلی الله عليه وسلم دمزراعت څه شکلونو لره ناجائزه اوګرځولې او دبعضو ئې اجازت ورکړو. په کومو شکلونو کښې چه د سود،دهوکه،استحصال يا دغه څه نوره خرابی موندلې شوه، هغه شکلونو لره رسول الله صلی الله عليه وسلم ناجائز اوګرځول او په کومو شکلونو کښې استحصال يا سود نه شو موندلې دهغې رسول الله صلی الله عليه وسلم اجازت ورکړو. د مدينې منورې زمکه اکثر بارانی وه په دې وجه په هغې کښې به هم يو فصل کيدو. چرته چرته کوهيان هم وو چه دهغې نه به د ارټ او اوښ په

ذريعې سره اوبه راويستلې شوې. په کومو باغونو کښې چه کوهيان وو هلته به په کال کښې دوه فصلونه کيدل. اکثر باغونو کښې به سالانه يو فصل کيدلو.

په دستکارئ کښې کورنئ دستکارى هم وه او اجتماعى دستکارى هم وه. په کورنئ دستکارئ کښې عمومًا جامې،تارونه ريشل، د تارونو جوړولو کاروبار وو.چه لوې کاروبار وو او په کوم کښې چه به د يو نه زيات خلقو کار کولو کوم ته چه تاسو فيکټرى يا کارخانه وئيلې شې.په دې کښې زراعت،د ترکاڼئ او لوهارئ آلات جوړيدل. دا سرگرمى عمومًا د بنوقينقاع په لاس کښې وه. د خواؤ شاء آباديانې زرعى آبادئ وې په دې وجه هلته د آلات زراعت د کار خاص گنجائش وو. د مدينې منورې سوداگرو به د ايمپورټ ايکسپورټ کارهم کولو. د شام نه جامه او د استعمال نو رخيزونه به ئې راغوښتل. د غنمو اکثره حصه به د اردن نه راتله. د شام نه جامه او د استعمال نور څيزونه به راغوښتلې شو. دغنمو اکثره حصه به د اردن نه راتله. په کاروبار کښې يهوديان مخکښې وو او شام مختلف علاقو کښې دهغوى تجارتى کوټهې او مرکزونه وو چرته چه به هغوى د ايمپورټ ايکسپورټ کاروبار کولو. د بنو نضير يهوديان په دې کارکښې ډير مخکښې وو.

يو ځل داسې اوشو، او د هجرت نه سمدست پس خبره ده د هجرت څو مياشتې يا يو نيم کال پس،چه مسلمانان ډير د تنگئ په حالت کښې وو. ديهوديانو يوه تجارتى قافله راغله په هغې کښې خوشبوگانې،جوهرات او سمندرى سامان غالبًا موتى (لعلونه) وغيره د مدينې بازار کښې راکوز شول. مسلمانانو ښځو او ځوانانو د حسرت په

نظر سره دې ټولو څيزونو ته اوکتل او په زړه کښې ئې محسوس کړل چه ټول مال ودولت د يهوديانو سره دې. د مسلمانانو سره هيڅ هم نشته. د هغه مسلمانانو دتسلئ دپاره په قرآن پاک کښې دا آيت نازل شو.

وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

" مونږ تاسو ته قرآن او اووه مثانی درکړې دی چه ډير لوې نعمت دې. ددوی په دې عارضی نعمت باندې تاسو خپل زړه زيات خيرن مه کړئ. دا يو وختی څيز دې چه الله تعالی د آزمائش په خاطر هغوی ته ورکړې دې".

## په مدينه کښې د اسلامی معيشت قيام:

غرض دا چه تجارت د اکثرو يهودو تجارت وو، په کوم چه دهغوی قبضه وه. د انصارو يعنی اوس او خزرج ډير خلق دهغوی مقروض وو. دهغوی زمکې يو يو کيدو سره د يهودو په قبضه کښې روانې وې. په دې صورت حال کښې د مهاجرينو په راتلو سره ډير فرق پريوتلو. مهاجرين دتجارت ډير ماهر وو. په مکه مکرمه کښې اصل کار تجارت وو. په مهاجرينو کښې ډير نامی ګرامی سوداګر وو سيدنا عثمان غنی رضی الله عنه،سيدنا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه،حضرت زبيربن العوام رضی الله عنه دا لوې لوې صحابه وو او د تجارت په فن کښې ځانګړې وو.کله چه دوی د مدينې منورې په بازارونو کښې تجارت شروع کړو نو د يهوديانو زور په بازار کښې په کميدو شو او ددوی د بالادستئ نه متاثره شول.

حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه د بنوقينقاع په بازار کښې کاروبار شروع کړې وو. د هغه ځاې سوداګرو په بازار باندې

خپله اجاره داری جوړه کړې وه. يو سړې ابو رافع وو هغه ته به تاجر حجاز وئيلې کيدو. د پوره حجاز دټولو نه لوې تاجر وو. د بنو قينقاع پوره زار بلکه دمدينې منورې په بازار باندې دهغه کنټرول وو. چه کوم قيمت به هغه مقررولو هغه قيمت به دبازار وو. ټول يهودی سوداګر متحد کيدو سره دهغه دفيصلو پابند وو. دغه شان دې خلقو يو کيدو سره چا غير يهودی سوداګر له بازار رسيدو ته نه پرېخودلو. هغوی دوه پيمانې ايخودلې وې يوه پيمانه د اخستلو او يوه د ورکولو دپاره وه. اسلام روستو د دوه پيمانو ايخودلو ممانعت اوکړو.

حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اولنې سودا ګر وو چاچه د ابورفع تاجر حجاز دې بالادستۍ لره ختم کړه. او يو يو کيدو سره ئې د هغه غلطې تجارتی طريقې ختم کړې او دهغه کنټرول ئې کمزورې کړو. رسول الله صلی الله عليه وسلم د معيشت او تجارت په باره کښې يو لويه او اهم فيصله دا اوکړه چه مدينې منورې ته تشريف راوړلو نه پس ئې يو نوې بازار قائم کړو چه مسجد نبوی ته نزدې وو.دهغې مقصد دا وو چه په مدينه منوره کښې دمسلمانانو دپاره يو متبادل بازار قائم شی او ديهوديانو دشرارتونو او اجاره دارئ نه مسلمانانو ته نجات ملاؤ شی او چرته چه دهغوی خپل نظام معيشت نافذ او جاری وی. حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه خو په دنياوی اعتبارسره هم ډير اوچت مقام لرلو،لوې محترم شخصيت وو. الله تعالی وسائل هم ورکړې وو او په تجارت کښې مهارت ئې هم ورکړې وو.

هغه ته شکست ورکول او د هغه کاروبار خرابول خو د یهودیانو دپاره ممکن نه وو، خو وړو سوداګرو لره یا داسې خلقو لره،د چا رسوخ چه کم وو، هغوی لره یهودی سوداګرو به تنګول.په خاص طور باندې خپل مسلمانان خریدار به هم یهودیانو تنګول. د یو مسلمانې ښځې د بې حرمتئ واقعه هم په دې پس منظر کښې اوشوه چه د هغې په وجه غزوه بنوقینقاع راپیښه شوه.

د دې ټولو څیزونو د مخ نیوی دپاره یو متبادل تجارتی پلیټ فارم قائم کولو دپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم یو بازار قائم کړو دکوم په باره چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیل چه دا ستاسو خپل بازاردې. په دې کښې به څوک هم تاسو سره زیاتې یا کمې نه کوی. دلته به تاسو نه څوک ظالمانه ټیکښ نه اخلی. یهودیانو به په خپل بازار کښې د ناستو مسلمانانو نه غیر ضروری ټیکس هم اخستلو او په هغوی به ئې قسماقسم مالی تاوان او بوج اچولو. تاسو دا هم وئیلې شې چه ګویا رسول الله صلی الله علیه وسلم په نوې بازار کښې د کاروبار کوؤنکو مسلمانانو سوداګرو دپاره د ټیکس ریټ اعلان اوکړو چه څه اضافی بوج به په تاسو باندې نه شی اچولې. مزید ئې اوفرمائیل چه کوم سړې زمونږ په دې بازار کښې مال خرڅوی هغه به دهغه اجر مستحق وی دکوم چه جهاد کوؤنکی مجاهد مستحق دې.

اَلْجَالِبُ اِلٰی سُوقِنَا کَالْمُجَاهِدِ فِی سَبِیلِ اللّٰهِ۔

کوم سړې چه زمونږ بازار ته مال راوړی هغه به دداسې اجر مستحق وی څنګه چه دالله په لاره کښې جهاد کونکې دې. دا ئې په دې وجه اوفرمائیل چه څنګه دالله تعالی په لاره کښې جهاد کونکې،

دمسلمانانو د آزادئ ضمانت ورکوی دغه شان چه څوک د مسلمانانو بازار له کامیاب جوړوی هغه دمسلمانانو معاشی آزادئ لره یقینی جوړوی.دمسلمانانو او امت مسلمه آزادئ لره یقینی جوړونکی دی دغه عمل هم دجهاد فی سبیل الله برابر دې. ددې برعکس هغوی اوفرمائیل چه زمونږ په بازار کښ چه څوک هم ذخیره اندوزی کوی نو هغه لره به هغومره مجرم ګنړلې شی څنګه چه په کتاب الله کښ الحاد کوؤنکې،یعنی د کتاب الله په معانیو کښ ګړبړ کوؤنکې یا دکتاب الله معانیو لره غلط بیانونکې .

په مدینه کښ په هغه زمانه کښ به ډیر د نورو علاقو په شان د بارټرکاروبار هم کیدو. خلقو به یو څیز ورکړو او بل څیز به ئې اخستلو. په ابتدائی معیشت کښ هرځاې د بارټر سسټم وو. په مدینه منوره کښې هم وو. یهودیانو دې د بارټرسسټم لره هم د خپلې بالادستئ او خپل معاشی کنټرول لره مضبوط کولو یو ذریعه هم جوړه کړې وه. ځکه چه په زرعی پیداوار باندې قبضه او کنټرول عمومًا دیهود به وو.صنعت اوتجارت دیهودو په لاس کښ وو. په دې وجه کله چه په فصل کټ کولو لا کافی وخت وو خلقو ته به ئې د څیز ورکولو په وخت وئیل چه دا ښه څیز دې او کله چه به ئې د خلقو پیداوار وصولولو او هغه به قرض وصولولو دپاره راتلو نو وئیل به ئې چه ستاسو پیداوار کوټه دې په دې وجه تاسو به زیات ورکوې. خپل پیداوار به ئې اعلی او د نورو پیداوار به ئې کوټه ګرځولو،او مثلاً د یو کلو په بدله به ئې دوه کلو اخستل. دا هم د استحصال یوه طریقه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چه د سودی احکامو لاندې د کاروبار ډیر شکلونو لره ناجائز

اوګرځول او هغوی دې شکل لره هم ناجائزه اوګرځولو دې ته ربالفضل وئيلې شی.يومشهور حديث دې چه په کښې د شپږو څيزونو په باره کښې نبی عليه السلام اوفرمائيل چه :

اَلذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالفِضَّةُ بِالفِضَّةِ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالمِلْحُ بِالمِلحِ وَالتَّمَرُ بِالتَّمَرِ وَالحِنْطَةُ بِالحِنْطَةِ مِثْلاً بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ وَالفَضلُ رِبٰو۔

يعنی د سرو او سپينو زرو اوربشو، کهجورو،غنمو او مالګې کله چه په خپل مينځ کښې لين دين اوکړې شی نو لاس په لاس دې اوکړې شی سمدست ورکول او سمدست اخستل او برابر سرابر په بنياد باندې دې اوکړې شی. زياتې وی نو هغه به سود ګڼړلې شی.

دې حکم دوه ښه نتيجې پيداکړې دی. يو خو دا چه ددې په نتيجه کښې بارټر کاروبار کښې خودبخود کمی راغله او زری معيشت يعنی مانيټری اکانومی ته ترقی اوشوه. دويمه فائده دا اوشوه چه د يهوديانو د استحصال يو ډيره لويه طريقه ختمه شوه. هغوی چه په کوم انداز سره مسلمانانو سوداګرو ته نقصان رسولو هغه سلسله بنده شوه. دا د سود هغه قسم دې کوم چه فقهاؤ د ربوٰالبيع يا ربوٰ الفضل يا ربوٰ الحديث په نوم سره يادوی.

کله چه حضور صلی اللّٰه عليه وسلم مدينه منوره کښې دمسلمانانو يو ځانله بازار قائم کړو نو هغوی ته ئې آئنده معاشياتولره په صحيح خطوط باندې دقائم کولو دپاره نبی عليه السلام بعض هدايت ورکړل چه اوسه پورې د اسلام دمعاشی نظام بنيادی ستن ګڼړلې شی. هغوی اوفرمائيل چه په بازار کښې کوم خلق کاروبار کوی،هغوی دې په آزادنه رضامندئ سره کاروبار کوی او څوک بيرونی قوت دوی لره په

څه خاص انداز باندې دچليدو دپاره مجبور نه کړی. يعنې په مصنوعی طورباندې دې په قيمتونو کښې کمې بيشې نه وی. ذخيره اندوزی دې نه وی او چالره دې خپل سامان بازار راوړلو نه منع نه کړې شی. په هغه زمانه کښې ديهوديانو طريقه دا وه چه ديهوديانو بازار ته چه به دبهر نه کوم خلق راتلل. مثلاً په مکه مکرمه کښې د چمړې (څرمنې) د منصوعاتو لوې رواج وو. هلته نه چه به کوم تاجر خپل چمړه د خرڅولو دپاره راوړله. نو کله چه به يهودی سوداګرو ته پته اولګيده چه چمړه راروانه ده نو د يهودی سوداګرو نمائنده به د بهرنه د راتلونکی سوداګر نه په لاره کښې ټوله ذخيره واخستله او بازار پورې به ئې هغه نه راپريخودله.ددې وجه داوه چه سوداګر که پخپله بازار ته راشی نو هغه به د قيمتونو پته اولګوی او هغه به خپل مال په ښه قيمت باندې خرڅ کړی. د هغه د منع کولو دپاره به مخکښې لاړو او د هغه نه به ئې مال واخستلو او بيا به ئې راوړلو او په من مانی قيمتونو به ئې خرڅولو.دغه شان به هغوی ته د ذخيره اندوزۍ موقع ملاويده. د قيمتونو تعين کښې به ئې خپله مرضی چلوله.او هغه سړې کوم چه به مال راوړې وو هغه به ئې ديو معقول قيمت نه  محروم کولو. رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې ممانعت اوفرمائيلو او دې مداخلت لره ئې ناجائزه اوګرځولو. په حديث کښې په څو موقعو باندې راغلې دی چه :

نَهٰى رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم عَنْ تَلَقِّي الجَلَبِ

ددې نه مراد دادی چه د بهر نه راتونکی مال لره بازار ته د

راتلو نه مخکښ په کم قيمت واخستلې شی،ددې حضورصلی الله عليه وسلم ممانعت فرمائيلې دی. د تلقی جلب معاملې لره نن د معاشياتو په نظام کښ ښنګه بيان کړې شی.په دې وجه حکومت له قواعد جوړول پکار وی. سرکاری ريګوليټری ادارو له دا خبره يقينی جوړول پکار دی چه مارکيټ ته رسيدل هرسړی ته يوشان حاصل وی. څه داسې ډله نه وی چه نوې راتلو والا مارکيټ ته د راتلو نه منع کړی.دغه شان رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه : لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ،په لغوی اعتبارسره خو ددې معنی داده چه څوک د ښار اوسيدونکې دې د کلی والا دپاره مال نه اخلی. دا هم د تلقی جلب يو شکل دې. په کلوکښ به ډيرو خلقو واړه واړه کارونه کول.مثلاً د اُوښ د وړئ نه به ئې خيمې جوړولې. دغه شان د خوراک ډير سامان به بدوانو تيارولو.دښار اوسيدونکی خلق به هلته لاړل او په معمولی قيمت باندې به ئې سامان واخستلو.نن هم زمونږ په کلو کښ دا ظلم کيږی. په کلو کښ په کم قيمت باندې څيزواخلی په غټو ښارونو کښ ئې په ښه قيمت باندې خرڅوی. دا حکم دداسې معاملې دپاره دې چه څوک د ښار اوسيدونکې د کلو نه څيز د معقول قيمت نه په کم باندې واخلی ګران ئې خرڅ نه کړی.

دغه شان په يو حديث کښ راغلې دی چه :

نَهٰى رَسُولُ اللهِ صلی الله عليه وسلم عَنْ بَيْعِ الكَالِىءِ بِالكَالِىءِ

يعنی د قرض اخستل خرڅول په قرض سره صحيح نه دی. ستا

دچا په ذمه باندې څه قرض دې،دهغه سړی قرض دبل چا په ذمه باندې واجب الادا دې. ددې دواو په خپل مينځ تبادله اوشی دا جائز نه دی. په دې وجه چه کم نه کم د يو طرف څيز نقد کيدل پکار دی او هغه په موقع باندې موجود کيدل پکار دی.

دې ټولو اصلاحاتو لره يويو کولو سره حضورصلی الله عليه وسلم نافذکړل.بيا کله چه دا اصلاحات نافذ شول نو هغوی په بازار باندې نګران مقرر کړو. حضرت سعيدبن العاص رضی الله عنه په باره کښ راځی چه حضورصلی الله عليه وسلم د فتحِ مکې نه پس هغه لره هلته دبازار نګرانئ دپاره مقرر کړو دې دپاره چه ددې ټولو شرائطو او قواعدو پابندی اوکړې شی.

په هغه زمانه کښ يوه عام طريقه دا وه چه هر بااثره سړې يعنی څوک قبائلی سردار ياد څو افرادو ډله چاسره چه وسله ، قوت او تعداد وو، هغوی به په جنګلاتو باندې قبضه کوله.د خپل اثر و رسوخ په زور سره به ئې په چراګاهو يا داسې مقاماتو باندې قبضه کوله چرته چه د اوبو او زراعت ډير والې وو او هغه به د خپل څاروؤ څريدو دپاره خاص کولو.هغې ځاې ته به حمیٰ وئيلې کيدو. چه د فلانی سردار حمیٰ ده. په عربو کښ د ډير پخوا نه دا رواج وو. په دې باندې جنګونه هم شوې وو. يو مشهور جنګ کوم ته چه د داحس او غبراء جنګ وئيلې شی هغه هم ددې حمیٰ په وجه سره شوې دې. د يو سردار حمیٰ ته دچا اوښه لاړله . هغه ، هغه اوښه قتل کړه. د هغې په بدله کښ هغه دده اس

قتل کړو. بيا ددواړه قبيلو په مينځ کښې جنګ شروع شو چه څو پښته پورې جارى وو. ددې جنګ داستان په عربې ادب کښې په تفصيل سره ملاويږى. رسول الله صلى الله عليه وسلم هر حمىٰ لره ختم کولو حکم ورکړو چه : لاَحِمٰى اِلَّا اللهُ وَرَسُولُهُ

د حمىٰ قائمولو اختيار صرف حکومت يا رياست ته دې. حکومت دخپل سرکارى څاروؤ،دصدقې دڅاروؤ دپاره يا دفوجى څاروؤ دپاره حمىٰ يعنى سرکارى چراګاه مقرر کولې شى. باقى چاته دا اختيار نشته دې چه دعوامو زمکه د ځان دپاره خاص کړى او دې لره ئې د عام انسانانو دپاره ممنوعه علاقه اوګرځوله. حضور صلى الله عليه وسلم بعضې چراګاهو لره حمىٰ اوګرځوله چرته چه به دصدقې اوښان ساتلې شو. په دې کښې يوه چراګاه هغه وه چرته چه د بنى عرينه بعض خلق ليږلې شوې وو چه هغوى بيا دحضور صلى الله عليه وسلم کارندو لره شهيدان کړې وو.

بازار لره په صحيح خطوط باندې د چلولو دپاره دا هم ضرورى ده چه په بازار کښې اوزان او پيمانې متعين وى. که هر سړې جدا جدا خپل اوزان او پيمانې کيږدى نو په بازار کښې به سنټرلائزيشن او معيارېندى نه شى کيدې. رسول الله صلى الله عليه وسلم د مانيټرى اکانومى حوصله افزائى کولو سره په بازار او تجارت کښې اسټينډر ډائزيشن لره بهتر او مقبول اوګرځولو. د معيارېندئ يوه تقاضا دا هم وه چه پيمانو او وزنونو لره متعين کړې شى. په هغه زمانه کښې دا هم وو

چه په مختلف علاقو کښې مختلف پیمانې او اوزان مقرر وو. دمکې مکرمې پیمانه یو وه او د مدینې منورې پیمانه بله وه. اوس دمکې خلق چونکه په تجارت کښې مخکښې وو. د لرې لرې تجارت کښې به ئې نقدې روپۍ اوړلې. د سره زرو او سپین زرو په صورت کښې هغوی سره لوې لوې رقمونه وو په دې وجه د سرو او سپینو زرو د معلومولو معیار په مکه کښې زیات استهینډرائزډ وو او په مدینه کښې زراعت زیات وو ددې څیزونو دناپ کولو پیمانې په مدینه کښې زیات استهینډرائزډ وو. نبی علیه السلام اوفرمائیل چه :

**اَلمِكْيَالُ مِكْيَالُ اَهلِ المَدِينَه**

د ناپ کولو پیمانې به د مدینې معیاری منلې شی او **وَالوَزْنُ وَزنُ اَهلِ مَكَّه**، او د سرو سپینو زرو د تللو یا شمارلو پیمانې به د مکې والو معیاری منلې شی.یعنی د سکّو او سرو سپینو زرو معیار به دمکې مطابق وی، په دې وجه چه هغه د تجارت مرکز دې.

زرعی پیمانې به د مدینې وی ځکه چه هلته زرعی کاروبار زیات وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم په بازار کښې نګران او انسپکټرانو نه علاوه ډیر نور افراد هم مقرر کړې وو یو صاحب الاعشار وو، ده به د تاجرانو د سرمایې اندازه کولو سره دهغوی نه عشر اخستلو. یو صاحب الخراج ئې مقرر کړو. ده به د زمکو د پیدوار نه حصه وصولوله. یو صاحب الجزیه ئې مقرر کړو. ده به د غیرمسلمو نه ټیکس اخستلو. یو صاحب المساحه ئې مقرر کړو چه د زمکو د جانچ او پیداوار اندازه،

يعنى assessment به ئې كولو. په ځو صوبو كښې جدا جدا عامل زكوة ئې مقرر كړل. كاتب د صدقاتو ئې جدا مقرر كړل. حضرت عبدالله بن رواحه رضى الله عنه لره د زمكو او زرعى پيداوار د تخمينې او assessment كولو دپاره خيبر ته ليږلې شوې وو.

رسول الله صلى الله عليه وسلم مختلف قبائلو سره معاهدات فرمائيلې وو. د سود د حرمت نه پس چه ځومره معاهدات ئې فرمائيلې وو په هغې كښې دا ئې هم اوفرمائيل چه تاسو به سودى كاروبار نه كوې.

او بعضې غيرمسلم قبائلو سره كيدونكو معاهدو كښې ئې دا هم اوليكل چه په تاسو كښې ځوك د سود كاروبار كوى نو هغه سره به معاهده منسوخ كړې شى. د نجران عيسائيانو سره چه كله معاهده اوكړې شوه په هغې كښې هغوى ته ډير مراعات او حقوق وركړې شو. نن دمذهبې آزادئ دحقوقو چه ځومره خبرې كيږى په دې معاهدو كښې دهغه ټولو حقوقو تذكره ده خو په دې كښې ئې دا هم ليكلې دى چه :

وَمَن اَرْبىٰ مِنكُمْ فَذِمَّةُ اللهِ بَرِيئَةٌ

په تاسو كښې چه ځوك هم د سود كاروبار كوى نو الله تعالى دهغه نه برئ الذمه دې. يعنى دا معاهده به منسوخ كړې شى. د حضرت عمرفاروق رضى الله عنه په زمانه كښې اطلاع ملاؤ شوه چه د نجران عيسائيان د سود كاروبار كوى او په سود كښې ملوث دى. د دې اطلاع په صحيح ثابت كيدو باندې حضرت عمرفاروق رضى الله عنه دې معاهدې لره منسوخ كړه او هغوى ئې جلاوطن كړل شام ته ئې اوليږل.

# په رياست مدينه کښې اقليت

په مدينه منوره کښې چه کوم غير مسلم اوسيدل دهغوی نه به هم د رياست په امورو کښې کار اخستلې کيدو. دحضور صلی الله عليه وسلم د سنت نه دا پته لګی چه دا ذمه دارياني چه د رياست strategic interests سره متعلق دی،يا د شريعت د فهم او تعبيرسره متعلق دی هلته غيرمسلم لره مقرر کولې نه شی،خو کوم چه د فنی مهارت معاملات دی هلته به د غيرمسلمو نه هم کار اخستلې کيدو. حضورصلی الله عليه وسلم په دوؤ اهم ترينو موقعو باندې د غيرمسلمو نه کار اخستې دې. کله چه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په ملګرتيا کښې حضورصلی الله عليه وسلم هجرت کولو سره مدينې منورې ته تشريف اوړلو او هر عرب قبيله د سلو اوښانو په لالچ کښې حضورصلی الله عليه وسلم پسې وه نو حضورصلی الله عليه وسلم چه د لارې خودلو دپاره کوم سړې ساتلې وو هغه عبدالله بن اريقط يو غير مسلم وو.په هغه غيرمسلم باندې حضورصلی الله عليه وسلم اعتماد اوکړو او هغه ډير قابل اعتماد سړې ثابت شو. که هغه چرې د سلو اوښانو په لالچ کښې راتلو سره د حضور صلی الله عليه وسلم ګرفتارول غوښتل نو دهغه دپاره څه مشکل نه وو،خو د حضور صلی الله عليه وسلم انتخاب ته اوګوره چه نبی عليه السلام کوم سړی لره چانړ کړو هغه په يوه بله لار باندې حضورصلی الله عليه وسلم لره مدينې منورې ته اورسولو.

د حضرت عمروبن امیه الضمری ما ذکر کړې دې چه هغه دحضورصلی الله علیه وسلم په دربارکښې سفیر وو. کله چه هغه په اول ځل سفیر اولیږلې شو نو هغه وخت هغه مسلمان نه وو. دا خبره ډاکټر حمیدالله صاحب د خپل فرانسیسی سیرت په اول جلدکښې وئیلې ده.

دغه شان د څو نورو غیرمسلم حضراتو نه کاراخستلې شوې دې. بعضې وختونو کښې داسې اوشوه چه دغیرمسلمو نه به داسې اطلاع ملاویده چه د هغې اطلاع ورکول دهغوی په نیت کښې نه وه.رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر په موقعه باندې تشریف فرما وو او دا فیصله اوشوه چه اوس د تجارتی قافلې سره نه،بلکه دقریشو د لښکرسره به مقابله وی. اوس دا معلومه نه وه چه په لښکر کښې څومره کسان دی. حضورصلی الله علیه وسلم دوه صحابه کرام په دې غرض سره اولیږل چه د دشمن دتعداد پته اولګوی . هغوی دکوشش باوجود هم صحیح تعداد معلوم نه کړې شو. یو هلک چه چیلۍ ئې څرولې،هغه ئې مشکوک ګڼړلو سره صحابه کرامو خپل ځان سره راوستلو. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه وخت مونځ کولو. دصحابه کرامو دا خیال وو چه دا هلک په تجارتی قافله کښې شریک دې او دهغوی په باره کښې معلومات پېژنی. هلک اووئیل چه ما قافله نه ده لیدلې،البته دقریشو لښکر مې لیدلې دې. صحابه کرامو په هغه باندې سختی اوکړه نو هغه تسلیم کړه چه هو! ما قافله لیدلې ده. په دې دوران کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمونځ نه فارغ شو نو وې

فرمائيل چه کله هغه رښتيا وئيل نو تاسو هغه وهلو او کله چه دروغ اووئيل نو تاسو پرېخودلو. ده قافله نه،بلکه لښکر ئې ليدلې دې. نبی علیه السلام د هلک نه تپوس اوکړو چه تا د قريشو لښکر ليدلې دې. هغه اووئيل چه هو! زه هغوی ته پېژ ورکولو له تلې ووم.تپوس ئې اوکړو چه په لښکرکښې څومره کسان وو، هغه اووئيل ماته معلومات نشته. صحابه کرام بیا اووئيل چه دې دروغ وائی. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه تا هغوی په روټۍ خوړلو باندې ليدلې دی. هغه اووئيل هاؤ ليدلې مې دی. نبی علیه السلام تپوس اوکړو چه دا اووایه! چه څومره اوښان به ئې حلالول او خوړل. هغه اووئيل چه يوه ورځ ما اوليدل نهه اوښان ئې حلال کړې وو او يو ورځ مې اوليدل چه لس اوښان ئې حلال کړې وو. نبی علیه السلام اوفرمائيل چه هغوی دنهه سوؤ او هزارو په مينځ کښ دی او واقعی هغه نهه نيم سوه وو. دهغوی تعداد بعينه د نهه سوه او زرو په مينځ کښ راوتلوځکه چه د اوښانو دومره تعداد د دومره خلقو دپاره کافی کیږی.

دا شعبه چه حضورصلی الله علیه وسلم د معلوماتو او سراغ رسانۍ دپاره قائم کړې وه په هغې کښ درې شعبې وې. په قرآن پاک کښ يو ځاې کښ راځی **لَا تَجَسَّسُوا**،د يوبل تجسّس (غوږايستنه) مه کوئ. بعض خلق وائی چه په دې کښ خو دجاسوسۍ نه منع کړې شوې ده،لهذا د جاسوسۍ شعبه څنګه اسلامی کيدې شی. نن دغه شان د

انتهيلي جنس خلق هم نو دا وئيلې شي چه په قرآن کښې **لَا تَجَسَّسُوا** جاسوسی مه کوئ او زمونږ کار خو تجسّس دې.

په عربئ ژبه کښې درې الفاظ دی :**(۱)تجسس (۲)تحسس او (۳)تعسس۔**

د **تحسس**مطلب دې دڅه مقصديا هدف په خاطر د مثبت څيز پته لګول.

**يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِن يُّوسُفَ**

"اې ځامنو! لاړشئ او د يوسف په باره کښې پته اولګوئ."

يو **تعسس** وی چه دڅه جرم د منع کولو په خاطر او څه بدئ لره په وجود کښې راوستلو نه مخکښې پيش بندئ دپاره کولې شی. تجسّس هغه دې چه دچا خلاف دڅه بدئ سوچ کيږی او د هغه بدئ دپاره تجسّس اوکړې شی. دا **تجسس** دې دکوم چه ممانعت دې. د **تعسس** او **تحسس** ممانعت نشته دې.هغه سنت او د سيرت نه ثابت دې.

د غيرمسلمو آبادئ د مدينې نه بهر وې. کومې قبيلې چه په اسلام کښې داخل شوې نه وې هغوی ته حضورصلی الله عليه وسلم بعضې مراعات ورکړې وو. بعضې قبيلو ته حضورصلی الله عليه وسلم ليکلې ورکړې وو چه :

**مَن كَانَ عَلَىٰ يَهُودِيَّتِهِ اَوعَلَىٰ نَصرَانِيَّتِهِ فَاِنَّهُ لَايُبلَىٰ عَنهَا**

چه کوم کس په يهوديت يا نصرانيت باندې قائم دې هغه به په څه آمازئش نه شی مبتلا کولې او په هغه به څه زياتې نه شی کولې.

دغه شان حضورصلی الله علیه وسلم دنجران عیسائیانو ته یو چارټر ورکړې وو. په هغې کښې دا وئیلې شوې وو چه هغوی ته به ټول حقوق او مراعات ورکولې شی. دهغوی پادریان او ګرجو لره به نه شی چهیړلې کیدې. هغوی به په خپلو عهدو باندې قائم وی،خو هغوی به د اسلامی شریعت بالادستی قبلوی. مسلمانانو ته به ټیکس ورکوی او کچرې د سود کاروبار ئې اوکړو نو دا معاهده به ختمولې شی.ګویاچه ددې مطلب داشو چه د سود کاروبار کوې نو ستاسو شهریت به منسوخ کولې شی. کله چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته اطلاع ملاؤ شوه چه دنجران عیسائیانو د سود کاروبار کوی نو هغوی اوئیل چه تاسو خلقو دمعاهدې خلاف کړې ده په دې وجه به دا معاهده منسوخ کولې شی. دغه شان هغوی جلاوطن کولو سره شام ته اولیږلې شول.

د حضورصلی الله علیه وسلم په زمانه کښې چه کوم علاقائی نظم ونسق قائم شو دهغې په ضمن کښې یوه خبره دا هم وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مختلف قبائلو سره چه کومې معاهدې کړې وې نو هغه قبائل سردارانو لره ئې دخپل نمائنده په طور باندې تسلیم کړل. ډیر کم صورتونه به داسې وی چه څوک نوې کس لره به مقرر کړې شوې وی. په اکثر صورتونو کښې به هم هغه سرې مقرر کړې شو. په بعضې صورتونو کښې حضورصلی الله علیه وسلم د دوؤ څیزونو یقین دهانی هم اوکړه.

اِنَّهُ لَا یُومَرُ عَلَیکُم مَن لَّیسَ مِنکُم

کوم سړې چه ستاسو دقبیلې نه نه دې هغه به په تاسو باندې امیر نه شی مقررولې.دا یقین دهانی ئې اوکړه چه ستاسو حکمران به هم ستاسو خلقو نه وی.دا د بهر نه حکمرانان مقررکول د غلطیانو او غلط فهمو ذریعه جوړیږی.

دویمه یقین دهانی ئې دا اوفرمائیله چه ستاسو کوم وسائل جنګلات او اوبه وغیره په صورت کښې دی هغه به ستاسو په کنټرول کښې وی او څوک به ستاسو د رضامندئ نه بغیرهغه نه شی استعمالولې. داهم دغلط فهمئ ذریعه جوړیږی چه زمونږ وسائل د نورو قبضې ته لاړشی. د یو علاقې خلقو ته دا بدګمانی یاخیال راشی چه زمونږ دولت فلانی اوخوړلو یا به ئې فلانې اوخوری نو په دې سره د ریاست بقا او وحدت ته خطره لاحق کیږی. په پاکستان کښې دا مسئله ډیر پیښه ده. که د اولې ورځې نه دا دوه خبرې مقرر شوې وې چه ستاسو په صوبه باندې به ستاسو سړې مقررکولې شی. ستاسو وسائل به هم ستاسوکنټرول کښې وی او هم ستاسو په اجازت سره به استعمالیږی نو شاید چه پاکستان به نه ماتیدو او نه به نن د صوبائی خودمختارئ او غیر خودمختارئ مسئله وه.